# سنګسار

ناول

نور محمد تره کی

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

## د کتاب پېژندنه:


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | :: سنګسار |
| لیکوال | :: نور محمد تره کی |
| کمپوز، ډیزاین او خپرونکی | پښتو ادبي غورځنګ، کوټه |
| د چاپ لړ | :: (۲۰) |
| کمپوزر | :: حبیب الرحمٰن تاثیر |
| د چاپ شمېر | :: (۱۱۰۰) ټوکه |
| دویم چاپ | :: ۲۰۰۹م کال |
| د چاپ ځای | :: |


کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

بسم الله الرحمن الرحيم

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# دغوره خنک یادښت

نور محمد تره کی د پښتو ادب هغه ځلانده ستوری دی چي په خپل وار سره يې پښتو ادب ته هغه رڼا وربخښلې ده. چي هر کله د پښتو کيسيز ادب ذکر راځي نو د نور محمد تره کي پنځوني به پاله پدره "هرو مرو" ذکر کېږي. هغه په دې چي نور محمد تره کي پښتو ادب ته دومره په لوړه کچه ناولونه وړاندي کړي دي چي تر اوسه پوري پر دې ناولونو باندي څو لسيزي تېرې شوې دي خو دوی خپل ارزښت له لاسه نه دی ورکړی او تر څو پوري چي زموږ په ټولنه کښي ناانصافي او د بل پر حقونو تېری روان وي نو د خپلو انسانانو په لاره کښي به دغه ناولونه د مشالونو په څېر خپلي رڼاوي خپروي او د انسانانو په ويښتابه کښي به له ژوندیو انسانانو سره سم خپل رول لوبوي. ډېر د افسوس ځای دی، لکه څنګه چي نور د پښتو په زړه پوري آثار د بېلا بېلو ټولنو له خوا څخه خپاره سول او لا خپرېږي. خو تر اوسه پوري چا د نور محمد تره کي د ناولونو و چاپولو ته زړه ښه نه کړ. په دې اړه ډېر څه ليکل کېدلای شي، دلته ځني ډېره کوو. د طالب چي اصل نوم يې اختر محمد دی. د مور دې شيدې سي چي په کوټه کښي يې يو وخت د کابل کتاب پلورنځي په نامه باندي دکان کاوه. هغه وخت د نيوي په لسيزه کښي يې د تره کي د څلورو واړو ناولونو کاپي د افغانستان د علومو اکاډمی له چاپ څخه په هم هغه بڼه چاپ کړل.



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

د طالب دغه ګام به د پښتو په تاریخ کښي ژوندی ځکه پاته وي چي دا يوه داسي دوره وه چي دلته د افغانستان چاپ کتابونه د ځینو کړیو له خوا په شعوري ډول له منځه وړل کېدل. خو بیا را وروسته چا دا جرأت ونه کړ چي دغه کار يې په نوي بڼه کړی وای. پښتو ادبي غورځنګ په داسي وخت کښي دې کار ته اوړه ورکړه چي په اصطلاح اوبه لا تر ورخ نه دي تېري شوې.

سنګسار چي په ۱۳۲۲ لمريز کال کښي لیکل شوی دی، په لومړي ځل په کتابي بڼه په ۱۳۵۷ لمريز کال کښي د افغانستان د علومو اکاډمي لخوا د ځلوېښت زرو په تيراژ کښي چاپ شو. که څه هم د نورمحمد تره کي ټول ناولونه ډېر په زړه پوري او په لوړ معيار لیکل شوي دي او د پښتني ټولني هر اړخیزي ستونځي پکښي بیان شوې دي، خو سنګسار يې يو داسي ناول دی چي هر هغه انسان چي زړه يې د غوښي وي نو د سنګسار تر لوستلو وروسته به يې پاله پدره تر سترګو د اوښکو لړۍ بې اختیاره ځي.

پښتو ادبي غورځنګ سنګسار هم په خپل وار سره په نوي کمپوز او له لاس وهني پرته د پښتو ادب و ډګر ته وړاندي کوي. خدای دي وکړي چي د ناول د مينوالو تنده ورباندي ماته شي.

په درنښت

پښتو ادبي غورځنګ، کوټه



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# لومړی څپرکی

د (۱۳۱۵) کال د حوت د میاشتي لومړنی شپې او ورځي دي، ساړه لږ سوي دي او په اصطلاح د (شصت او شکست) هوا ورمې هر چېري احساسيږي، خو د ختهو او چکړو د لاسه هر څوک په عذاب دي، ځکه چي ورسره اموخته سوي دي، نو دومره ډېره بد يې نه ځنيږي راځي.

د کابل هره کوڅه له چکړو داسي ډکه ده چي تېرېدونکي په اساني له هغو څخه نه سي تېرېدلای.

کوچنيان چي تر لسو دوولسو کلو واړه وي له کوره څخه نه راوځي او که څوک له ډېري مجبوری څخه راووځي نو د نورو خلګو په مرسته چي پر لار تېرېږي تر ډېر او ژورو ختهو پوري ايستل کېږي. په اکثرو کوڅو کي د غولتون له سوړو څخه چي کوڅه ته راوتلي دي غول د کوڅې خواته رابهېدلي دي او ځکه چي يخي مات سوی دی، نو هغه په دې ختهو او چکړو کي ګډوډ سوي دي او د هغو ختهو رنګ يې ژړبخون اړولی دی چي دغو سوړو ته نږدې دي. اکثرو خلګو خپل کالي په خورا دقت سره راټول کړي وي او په ډېر احتياط سره راتېرېږي، ډېرو کورو چي په سينجي توګه جوړ سوي دي او د کوڅې خواته پراته دي نم ايستلی دی، دقيق او نابلده تېرېدونکي حېرانېږي چي دا کورونه څرنګه ولاړ دي؟ او ولي نه نړېږي؟

د پروږ ژېړي ناړی په دغسي لمدو دېوالو کي له ورايه داسي تکې ژېړي او تازه برېښي چي ته به وايې پر يوه توربخون شي باندي يې د سرو زرو نری-نری بې ترتيبه پټی ايښي دي. دا



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ژېړ بخوني پټې. هغه وخت لا ښې ايسي چې د لمر ژېړي او ښکلي وړانګې هم پر لوېدلې وي.

په ځينو کوڅو کې پانديان ولاړ وي او کوم سپين کالي او معتبر غونډي د درېشي وو والا خلک په يوه پنځه پولي د چکړو له هغو ډنډو او ولاړو اوبو څخه په شا پوري باسي چې په هغو کې تېرېدونکي تر بجلکو پوري ننوځي. ځينې ځايونه خو د اوبو ډنډونه تر ځنګانه او حتّی ورانه پوري وي. هر څوک چې له شوربازار او شاوخوا کوڅو څخه د پل خشتي د ماجت په واټ راننوځي نو يوه ژوره ساه واخلي او په زړه کې د يو ډول برياليتوب احساس وکړي او که څه هم د دې ځای د کوڅې سر پټ دی او کوڅه يې نسبت د تېرېدونکو شمېر ته خورا تنګه ده خو بيا هم ختې او چکړې په کې لږي وي او هغه هم هغه ختې دي چې خلکو په پښو کې له شاوخوا څخه له ځان سره راوړې دي.

له پل خشتي څخه چې سړی راتېرېږي نو د (خيابان) نسبتاً ارت واټ شروع کېږي. د دې واټ ارتوالی په ځينو ځايو کې څلور متره او په ځينو ځايو کې دوه نيم متره دی او کوږ ووږ تللی دی. خو ځکه چې سر يې پټ نه دی نو خورا ډېرې ختې لري. د صندوق سازۍ د واټ په يوه ګوټ کې پر يوه نسبتاً لوړ غونډي ټوپکي باندې يو ژېړغلن زلمی چې شل کلن برېښي ناست دی او هر دوه درې دقيقې وروسته په يوه خواږه غونډي بږغ ناره کړي.

"کشمش آو په زړه پوري کشمش آو وځښئ خوار و غريبه"

ده يوه کوچنی خو پلنه ډېره تر ځان لاندې کړې ده او يوه پلنه غونډي د لرګي تخته يې مخې ته ايښې ده او پر هغې يې يو څو غوريي پيالې قطار ايښې دي، په دې پيالو کې په ځينو کې لمدې سرې وځکې دي او په ځينو کې لمده کښته او په ځينو نورو کې ډول-ډول لمدې سوې وچې مېوې پرتې دي او په هره پياله کې



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

يې اوبه اچولې دي چې رنګ يې خورا سوربخون اوښتی دی. کـه څه هم په پياله کې سرې وڅکې اچول سوې دي خو څکه چې ډېره موده په اوبو کې پاته سوې دي نو د وڅکو رنګ سپين اوښتی دی او په اصطلاح جوهر يې ټول اوبو وړی دی. د دې زلمي نوم (شېر) دی د شېر په مخامخ د واټ پر هابله خوا يو سپين ږيری سړی ناست دی. ده يو ښه دروند غوندي سندان په مځکه کې خپلې مخې ته ټک وهلی دی او د خاورو په يوه کنډولي کې يې اوبه ورته ايښې دي. د سندان شاوخوا ته د زړو څرمنو يو څو ټوټې پرتې دي او د لرګي په يوه چارخانه کې څلور پنځه ډوله مېخونه ورته پراته دي. د دې سپين ږيري سړي نوم (باباخان) او د (شېر) پلار دی.

باباخان به هر ګهيځ چې لمر به څرک واهه يوه زړه ګوني په شا په ستمي به په يوه نري کوڅه کې خپل ځای ته راته او خپل دکان به يې پر هغه ټاکلي ځای وغوړاوه او په ځپله به کلوچ او ورله ټول په يوه زاړه پټو کې سره نغښتي، پر يوه پلنه غونډي ډېره کښېناست. د شېر پلار به لوموړی تر هغه چې پر دغه ډېره کښېني پر هغه به يې په خورا خوند يوه ډېره زړه نيالچه چې وړې يې هر لوري ته وتلې وې خو د سپنسو په زور سره راټکيه سوې وې واچوله.

تقريباً نيم ساعت وروسته به شېر هم په داسي حال کې چې خپل سامان به يې پر سر را اخستی و راغی، او پر خپل پخواني ځای باندي به يې په خورا دقت کښېښود او له يوه زاړه سطل څخه چې په هغه کې به يې وڅکې او کښتي لمدې کړې وې په يوه ژوره کاچوغه په پنځو شپږو غوريې پيالو کې مېوه وېشله. ده چې به هره پلا کاچوغه په سطل کې غوټه کوله نو په يوه ډډ غونډي ږغ به يې وويل:



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

"ښاغلیو او پوهانو وخورئ داد وڅکو شي او په زړه پوري اوبه"

یوه ګړی وروسته به یې بیاناره کړه:

"کشمش آو، تازه کشمش آو"

کوم وخت چې واټ ښخي تش او څوک نږدې نه معلومېده پلار یې ورته راږغ کړل:

"زویه مور دي کوم تود چای درنه کړ؟ یو سوړ توک ډوډۍ خو کور وه مور ته مې دي وویل چې هغه تاته له چایو سره درکړي.

ډوډۍ خو مې هغسې وچه وخوړه چای جوشه ونه ایشېدله کاغذونه او خاشې یې تولې پسې وسوځولې خو بیا هم داونه ایشېدله"

په دې حال کې له یوې فرعي او نرۍ کوڅې څخه یو پولیس دوی ته نږدې په لوی واټ راګډ سو او د دوی خبرې اترې یې په یوه جدي او وچ غوندي برغ وشلولې.

د پولیس درېشي خوراز ړه ده او بوټونه یې ځیري تلې یې اوښتي او پسې ځکېږي، د بوټونو مخ یې داسې لوند او په ختو لړلي دي چې نه پېژندل کېږي چې داله څه شي جوړ سوي دي او ته به وایې د ختو یوه لویه ټوټه یې په پښو پوري په بې ډبه او کاږې واږې ډول تړلې ده.

پېتاوې یې لا په ختو دي، دی ښېر ته دومره نږدې ودرېد چې د ده د بوټونو په ختو لړلې څوکې د هغې تختې سره ومښتلې چې پر هغې باندې د وڅکو د اوبو ډکې پیالې قطار پرتې دي، پولیس خپل لاس له جیب څخه را وایست او د ښېر خواته یې په شدت وروغځاوه او په داسې حال چې دلاس ګوتې یې د ښېر ستر ګو ته خورا نږدې ورسېدلې ورته وویل:



کتابتون پتولنه (WWW.KITABTOON.COM)

"شل ځلي مي نه دي درته ويلي چي په واټ کي د کان مه غوړوه او د خلکو لاره مه بندوه؟ ته نه يې خبر چي دلته د دې شيانو خرڅول منع دي؟ اوس دا غواړې چي دا ټول لوښي او لرګي دي سره تار په تار کړم".

شبر بې له دې چي لاس او پښه سي او يا کوم اضطراب په کې وليدل سي ورته وويل:

"حوالداره! نن بيا لکه چي پر کينې اړخ راکښېنستلی يې، څه مو کوې چي په دې حال کي مو هم نه پسې پرېږدې. خو واخله خپله پياله دي ووهه! وځه دا سهار مردان مو ولي عاصي ناسي کوې".

په دې وخت کي هغه دکاندار چي خپل دکان يې پرانست او شبر د هغه دکان دمخه ناست و وويل:

هلکه! ته خو را ناشکري کوې! نه ګورې چي پاک الله موږ و تاسي ته څه نعمتونه راکړي دي؟ دا روغ صورت او روغي ستر ګي دي نه ګورې چي څومره لوی او په زړه پوري نعمت دی؟ دا مه وايه چي (په دې حال کي مو هم نه پسې پرېږدې) زه وېرېږم چي که خدای دربانديي په قار سو همدغه حال به لا دربانديي ودروي، توبه کاږه توبه! . حوالدار خو زموږ او ستاسي د سر او مال د ساتني لپاره خدمت کوي. که دوی غونديي سړي نه وي خو خلک به يو د بل غوښي وخوري مال خو لا پرېږده"

حوالدار له خپل شدت څخه کښېناست او شبر ته يې وويل:

"نه ګورې چي ساړه مي داسي رېږدوي لکه د پلپل پاڼه. پښو ته مي نه ګورې! چي د ختو او اوبو په ډم کي لوېدلي يم. که داستا د وڅکو پياله پسې وخورم خو سکاروی به مي ووهي. پياله



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

يې ستا! ماته يوه پنځه پولې راکړه چې چېري کوم سماوار ته ورسم او يوه توده چاينکه چاى او يوه خوله مړى وخورم"
لومړى تر هغه چې ښېر څه ووايي پلار يې د واټ له هغې بلې خوا پر رابرغ کړل:
"که يې پنځه پولې درلوداى خو په خپله به هغه سماوار ته ورغلى واى او يوه توده چاينکه چاى او يوه خوله مړى به يې خوړلې واى، دى په خپله هم دغو شيانو ته خورا ضرورت لري"
پر پوليس باندې دا خبره بده ولګېده او په خورا شدت د سپين ږيري سړي لور ته ور روان سو او په خورا ټينګه يې ورته وويل:
خداى دې تاسې پاى لوڅه خوار کړي، ټول بازار مو بند اچولى دى، څه ته هم له دې ځايه ولاړ سه! د سړي زړه دربانـدې وسوځي، خو خبري لا تاسې کړې ورې او ترخې کوئ"
پوليس غوښتل چې د ښېر پلار په ځپېړه ووهي خو څو کسو لارويو مداخله وکړه او سپين ږيرى يې ځيني خلاص کړ.
د ښېر شاته دکاندار پوليس ته برغ کړل او د خپلې ناليچې لاندې څخه يې يوه پنځه پولې په دوو ګوتو کې ورته ونيوله او ويې ويل:
"ها واخله! تاسې خو زموږ سر او ستر ګې ياست، ها دا واخله! ورسه ځان دې تود کړه! دا خواران هم مه ځوروه! د خداى بنده ګان دي او يو څه ګوله ډوډۍ پيدا کول غواړي، الحمدالله د اسلام ملک دى، هر څوک بايد په کې ازاد وي، برخې خو ازلي دي، د همدې خوارانو په برخه به همدا د وخکو اوبه خرڅول وي". په واټ کې لاروي وار په وار ډېرېدې، هر څوک چې د زوى او پلار حد ته راورسېږي نو موځي يې پښو ته وګوري او زوى يې سوکه غوندې نارې کړي:



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

"کشمش آو – کشمش آو"

ځومره چې لمر تـودېږي هغـومره د شېر د راکـړې ورکـړې کار ښـه کېږي، پـه تېره د شاوخوا سوړو او کوڅو ځخه کوچنيان چې اکثره يـو د بـل پـه شادي لـوی واټ تـه راوځـي او د شېر خواتـه چې پيتاوی هم دی ورځي.

د کوچنيـانو پـه ډلـه کـې ډېـر لـږ کوچنيـان د وڅکـو اوبـه اخلـي، هره پيالـه پـه يـوه پـول ورکـوي. کـوم وخـت چـې يـو کـوچنی لـه پيالې ځخـه د اوبـو غـوړپ وکـړي، دې نـورو ټولـو کوچنيـانو پـه ده کـې سـترګي ښـخې کـړې وې او بيـا چـې پـه خپلـو دوو ګوتـو د کـم رنګـه وڅکو هـره دانـه خـولې تـه اچـوي د نـورو د سـترګو لـه خـوا پـه خونـد يـو ځلي پيالې ته او بيا د ده خولې ته کتل کېږي.

د توپ ټک نزدې و چې پلار يې وربږغ کړل:

"زويـه! راسـه دا پيسـې واخلـه او خـان تـه ماتـه او مـور تـه دي ډوډی واخله"

شېر پـه خوشـحالی او چـالاکی د پـلار خواتـه ورغـی او ورتـه ويې ويل:

"باباجانـه! نـن خـورا ښـه سـوم دا دی شـل پولـه سـودا مـي کـړې ده، هـا درواخلـه کـه رښـتيا درتـه ووايـم باباجانـه د ماشـينخانې تـر کـار مـو دا کـار يـو څـه ښـه غونـدي برېښي. هلتـه خـو بـه مـو ټولـه مياشـت ووهلـه پـه پـای کـې بـه يې دومـره پـه لاس راکـړې چې نـه بـه پـه مړه وو او نه به په ژوندي"

پـلار يـې بـې لـه دې چـې څـه ووايـي د ده لـه لاس ځخـه پيسـې راواخيسـتې او د خپـل لاس پيسـې يـې چـې پـنځلس پولـه وو ده تـه ورکړې او بيا يې ورته وويل:

"الحمـدالله نـن مـو کـار خـورا جـوړ دی. مـا هـم پـنځلس پولـه کـار وکـړ. تـر ماښـامه لا ورځ ډېـره ده. ګونـدي نـور هـم يـو څـه لاس تـه



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

راسي، سبا به که خدای کول ښه کتوه دربانـدي کوم او پـه ښه ښوروا به دي مړوم!"

شېر ورته وويل:

باباجانه! تل د ښوروا خبري کوې خو يوه ورځ دي هم هغه خبره پرځای نه کړه. څو شپې لومړی چي موږ ښوروا کړې وه د هغې خوند اوس راځخه هېر دی هره ورځ تريخ چای او وچه ډوډۍ خورو، ښځي يې کولمې راکي وشلولې"

پلار يې په ډډ غوندي ږغ ورته وويل:

"څه ولاړ سه! خدای به خبر کړي. ګوندي دا ځل ژر پر يوه توده ښوروا سره راټول سو. خو يوه خبره به درته وکړم هغه دا چي په دې ورځو کي دي د دينداری خوا ورځ په ورځ غړندېږي او په تېره د سهار او ماخستن لمونځونه يانه کوې او يايې په خورا کراهيت اولټی کوې"

شېر د خپل پلار دا وروستي ټکي په داسي حال کي خورا ضعيفه واورېدل چي دی د ډوډۍ پلورنکي خواته روان و او له پلار ځخه ښه ډېر راليري سوی و.

شېر دري ډوډۍ رانيولې او وروسته له هغه چي مور او پلار ته يې يوه-يوه ورکړه په خپله يې ډوډۍ پر ځنګانه ورته کښېښودله او غلي شان ته يې يوه-يوه بېخونده او سپينچکه وڅکه په هره ګوله کي ايښودله او هغه يې خوړه، په دې وخت کي پر ده باندي څو نور کوچنيان چي سر او پښې يې لوڅې وې هم راټول وو او د پيالو لوري ته يې په خوند کتل.

غټ مازيګر سپين ږيري موځي شېر ته وردږغ کړل:

"زويه! بس د کان دي سره راټول کړه کور ته ولاړ سه، سطل واخله، ولاړ سه له حمام ځخه يو څه د کلخن ايري راوړه چي مور دي سندلی په توده کړي، مور خوار کی خو دي په



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

سترګو زهیره ده دا کار اوس نه سي کولای، په تېره په دې شپو او ورځو کې چې په کوڅو کې ختې او چکړې تر سر تېرې دي او هم یې خپله څادري پر سندلي اچولې ده"

شېره سمدلاسه د پیالو اوبه او وڅکي په سطل کې خالي کړې او پیالې یې یوه پر بله سره سپړې کړې. پلنه تخته یې په تخرګ او پیالې یې په یوه لاس او سطل یې په بل لاس کې ونیو او د کور پر لوري رهي سو.

"شېر ته پلار د یوه زاړه ټایر څخه داسي بوټونه جوړ کړي دي چې خورا په کې خوشحاله دی او د ختو دومره ډېره پروانه ساتي.

د شېر کور په یوه کوچنۍ او تنګه حوېلۍ کې چې له نېکه څخه ورپاته سوی ده اوسي، په دې حوېلۍ کې درې خوني دي، دا خوني سنځي دي، دېوالونه یې که څه هم خورا پسرور دي خو بیا هم نم یې کښلي دی دوی تل یوه یا کله- کله دوې خوني په کرایه ورکوي، د هرې خوني کړکۍ ببخي د لرګیو دي یعني د ایینو پر ځای هم د لرګیو تختې ورته تکوهل سوې دي، ددې خونو کړکۍ بنې او یا کینې لوري ته نه خلاصېږي بلکې پورته خواته په درو برخو کې پورې وهلې کېږي، د سر په برخه کې یې یوائې یوه ایینه ده چې رڼا تر ورلوېږي.

سږ کال ګاونډیان وختي ترېنه لېږدېدلي دي او په حوېلۍ کې یوائې د شېر کهول اوسي.

د شېر پلار تل داسي وخت کور ته راځي چې د ماښام لمونځ په یوه نږدې ماجت کې چې ټول ورونه یې شین رنګ لري وکړي.

ده خپل ټول سامان په یوه زړه ګونۍ (بوجۍ) کې چې سرې او تورې پیني یې ورته ایښي دي اچولي وي او له دغه پېټي سره ماجت ته ورځي په داسي حال کې چې ګونۍ د موچنو او بوټو



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

په ځای کې تر خپلې مخې کښېږدي نو په لمانځه پیل وکړي، بیا چې په کور رانوځي نو د شېر نوم واخلي. کوم وخت چې هغه ورته ووایي:

"ها! باباجانه" نو دی خورا سره وغوړېږي او ګوني په یوه کونج کې کښېږدي. په دغه شپه شېر د معمول سره سم ځواب ورنه کړ و د شېر مور ورته وویل چې "تر اوسه لا له حمام څخه نه دی راغلی. دی چې په سندلۍ کې کښېناست نو ماینې یې ورته وویل:

"آسریه! نن درته ځېره سوم اورې دي کړو چې راته ځرګندې سوې، په خپله هم له لېمو خلاصه سوم داسې ځرګندېږي چې زموږ د دواړو پښې د ګور پر غاړه دي. هلک (مقصد شېر) اوس شکر دی زلمی دی لږ څه شوخ هم دی. څو شپې دمخه زموږ د یوه ګاونډي له لور سره پر له پسې خندېده او د هغې خبري خورا ښې او پستې پر لګېدلې خو د نجلۍ مور په پوهه سوه او ژر یې له دې ځایه کډه وکړه، حق هم لري ځکه چې زلمی دی. که دي خوښه وي پښه به یې یو ځای ورښده کړو او یوه نجلۍ به وروکړو کور به مو هم په خوندي وي او د شېر اښوه (تپاک) به هم پر کراره سي".

ته مې په خپله وینې چې اوس نو له لاسو او پښو لوېدونکی یم او د کور کار نه سم کولای.

د شېر پلار په داسې حال کې چې لږ څه سور غوندې سو ورته وویل:

د کافر لورې! کوزده او واده کول خو لوی غم دی، زړه دې غواړي چې ځان د غمونو په ګړنګ کې ورلاهو کړې؟ کوزده او واده خو د هغو خلکو په نصیب وي چې شتمن وي، لاس او خوله



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

يې سره رسېږي. نو زموږ خوارانو يې په څه؟ دا درانه کارونه دي او دومره لوی پېټي دي چې زموږ له واکه نه کېږي چې يو يې سو"

ماينې لږ څه په افتخار او سرلوړي ورته وويل:

"د هلک پلاره! کوزده او واده کول خو لوی غم دی زه هم په دې پوهېږم خو چاره څه ده؟ يوه ستر ګه به دي خاندي او بله به دي ژاړي خو دا کار به کوې او زما د زړه سر به پر خپله ښه کوې زه او ته نو پر دې نړی، نور څه لرو؟ دا يو زوی مو دی په هره توګه چې وي بايد پر خپله ښه يې کړو او زړه يې پر پښتي (مطمين) کړو. زامن راوړل او زامن لويول خو دا ډول جنجالونه غواړي. د زړه په غوښو مو لوی کړ اوس چې زلمی سو بايد په هره توګه چې وي د واده څښتن يې کړو. والله چې فقر کوم هم چې زه خو ده ته ناوې کښېنوم او اولاد يې په خپله غېږ کې ورورو زم"

سپين ږيري په دې چې زلمي زوی لري او د هغه د کوزدې او واده په خصوص کې خبري کوي، يو ډول هوسايي او د زړه ډاډ حس کړ او په زړه کې يې خدای ته ډېر شکرونه وکښل. چې وروسته له مرګ څخه يې پر مېنه يو زوی پاته کېږي او د ده د کاله څراغ به په روښانه وي. بيايې د مينې او مشکورې په لهجه ماينې ته وويل:

"سپين سرې! د هر چا زړه غواړي چې د خپل زلمي زوی ښادي دي ووينې او هغه ته دي ناوې راوړي، خو ته پوهېږې چې د انسان لوی او سخت دښمن نېستي او ناداري ده. لومړی خو څوک زړه نه راته نيسي. هر څوک غواړي چې اولاد يې په ښه حال کې وي او ښه ژوند ولري. نو موږ ته به ولې خپله خور او لور راکوي؟ له موږ سره په دوستۍ کې به دوی ته څه ګټه وي؟.

ته راسره ومنه چې له هغې ورځې چې شېر جان مېړانی وهلی او کوزه يې پر سر پور ته کړې ده زما يوه ورځ هم له زړه نه



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

دی وتلی، ماته خو د زلمیتوب د لومړیو شپو اور ورځو تکلیف ښه رامعلوم دی، زلمیان داسي په عذاب وي لکه د تاوده جواري وږی چي یې په لاس کي نیولی وي، الله دي خبر کړي په دې برخه کي به نوري خبري او سلاوي سره وسي ته بې غمه اوسه"

دوی په دې خوږو خبرو اترو سره لګیا وو او غوښتل یې چي د دې په زړه پوري مرکې لمن اوږده سي خو ځرپهاري سو او شپږ سطل له ایرو ډکه ډک په داسي حال کي چي په یوه زړو کي یې د سطل لاستی نیولی و رانووت. دا خونه درې په ځلور متره کي ځرګندېږي برېښنا په کي بلېږي. خو دومره ضعیفه ده چي سړی په مشکل یوشی ویني. مور یې سمدلاسه ورولاړه سوه او سطل یې لاسه ځني واخیست او ورته وې ویل:

مور دې بلا واخلي څومره ساړه به دي سوي وي؟ دومره ډېر وځنډېدلې خبریت خو و؟"

"هو مور جانې! خبریت و. خلک بلا اخیستي دي د حمام پوړندې (خوګلن) لانه ځیني خلاصېږي. په درو حمامو وګرځېدم په متې مي دغه ایرې مونده کړې، هر چېري چي به ولاړم پر ایرو باندي د سر شکوني و.

نن مي پر دغه یوه سطل ایرو بشپړه پنځه پولی ورکړې. د حمام پر ګلخن داسي تېل ماتېل وچي د ډېرو ښځو څادرې او د ډېرو نجونو، هلکانو کالي وسول. ښه سو چي د رب په فضل په روغو تنیو راخلاص سوم"

مور یې د اوسپني په اور لړوني سو که د سطل ایرې پر له واړولې، په ایرو کي د اور سره - سره بڅرکي د برېښنا تر ژېړ بخوني رڼا لاندي وځلیدل، د دغو په لیدو د شپږ مور په خوند وویل:



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

"که څه هم ډېري خواري دي ګاللي دي، خو بيا هم خورا ښې پوړندي دي راوړې دي. ښه ژوندي بخر کي په کې دي ګوندي تر سبا دا مهاله پوري مو ښه تاوده وساتي، زه خو پر بام پيتاوي ته ناسته يمه خو د ګهيځ او مازيګر خواوي ښخي سړې وي. سږ کال حوت خورا سوړ راغی او د دري ژبي دا متل يې رښتيا کړ چي وايي:

"حوت اګر حوتي کند، موشها را درقطي کند"

د شېر پلار په داسي حال کي چي په سندلۍ کي ښه ورننه ووت په يوه ماتېجنه لهجه کې وويل:

"زويه! ګومان کوم چي د مازيګر او ماښام دواړو لمونځونه به دي قضا کړي وي، د ښادۍ ايرې دي سه د رب فرض لمونځ دي پر قضا کړی بولم، د ځواني عبادت خو سره زر وي، که مې رښتيا پوښتې زويه دې خپلې ديندارۍ نيولي يو، که نه وي خو له وخته به مو وتري په شا په کوځو کي ګرځېدای او دا د پلار نيکه کور به مو له لاسه وتلی وای، دا هم د خدای او د پيرانو نظر دی چي د ديندارۍ خواته مو ډېر زور دی مور دي نه ويني چي په دغه سپين سر يو لمونځ هم نه قضا کوي. د دنيا ژوند خو به په يوه چل او يا په بل چل تېر سي، خو خدای مو دي د هغه جهان له خواريو عذابو څخه وژغوري"

لومړی تر دې چي شېر ځواب ورکړي، مور يې ورته وويل:

"ستا خو دي د ښادۍ کرېږه سي، تل دي د هلک غوښې په دې دومره کرېږو ور اوبه کړې دي ته ګوره هډوکي يې څونه نري دي؟ د ده پر بار خوګانو ما هيڅکله سورمايي ونه ليده، تولنه ورځ په لنډبل کي ناست وي او غاړي يې په (کشمش آو کشمش آو) ويلو بوږې سوې. ماښام چي کور ته راسي ستالا پر غړومبې سي، پربېږده ويني مه په کي وچوه پاک الله خو تر مور او پلار مهربان



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

دی، تر هرې ګناه به ورتېر سي، نس هم ډوډی او تن هم کالي غواړي".

شېر پر دوی دواړو لړ څه په قار غوندي سو او ورته وي ويل:

"دا د زړو خلکو خودي سر تر خاورو لاندي سي، دوی تل پر نه څه ترله وځي او په کور کي غم او خواشيني جوړوي. تاسي دا خبري پرېږدئ که څه ډوډی لرئ راي کړئ چي له لوږي مي تور خي او سپين راخي.

بابا تا خو ويل چي په لمده ډوډی به مي مړوې"

پلار يې د ميني په ږغ ورته وويل:

"ته راوړه نن دي څو ګټلي دي؟ زما او د مور په کريږه او ماني پسي به نه ګرځي! دلته د سندلي پر سر يې واچوه، دا ده زما ګټه خو دومره سوې ده"

د شېر مور د سندلي منقل ور وکيښ او د هغه ايرې يې سره ايسته کړې او په منځ کي يې د حمام نوي او تازه پوړندې ورواچولې او په يوه پلنه اوسپنه يې هغه سره ودربلي، له زنګ وهلي او توربخون سطل کي چي زئ يې د ډېر استعمال په اثر بې ترتيبه او بې ډبه غوندي دننه او دباندي سره ور اوښتي وې يو څه ايرې يې پرېښودلې او يوه تکه توره چاى جوشه يې پر کښېښودله، په دې حال کي شېر پر راږغ کړل:

"ادې له لوږي مي ستر ګي عين غين کېږي ستا چاى جوشه چي رااېښي نو توري هيلي به سپيني سي، ماته لږ څه ګوله ډوډی راکړه"

مور يې په يوه غړنده ږغ ورته وويل:

"ډوډی به چا راوړه! پلار خوارکي خودي په متې خان راورساوه، هغه تاته معلوم دی چي شپلغی (شبکور) دی ورسه



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

زويه، وګرځه له دغه نـزدې نانوايي څخه درې سرې ډوډۍ راواخله"

شېر بې له نور څه ويلو څخه پنځلس پوله د سندلي له سره ورواخيستل او درې سرې ډوډۍ يې راوړې. پر لاره يې نيمه ډوډۍ خوړلې وه. نوره ډوډۍ يې مور ته ونيوه او يوه پنځه پوله يې بېرته د سندلي پرسر واچوله چې شرنګ يې ښه لوړ واورېدل سو، بيا يې پلار ته وويل:

"درې ډوډۍ مې په لس پوله راوړې، ځکه چې سرې وې او چانه اخيستلې نو له ډوډۍ خرخوونکي سره مې چنې ووهلې، دا ده پنځه پولې مې د خداى په مهرباني دروګټلې"

په دې وخت کې د شېر مور يو څه وچې د پوزي خاشې پر هغو څو ژوندېو بخر کو واچولې چې هغه يې د اېرو په اېرولو او را اېرولو سره راټول کړي وو. او وروسته له لږ څه پوکولو يوه ژړبخونه لمبه تري پورته سوه. بيايې ژر چاى جوشه تر لاستي ونيوه او پر هغه لمبه باندې يې ځوړنده ونيوه. بيايې په خوند شېر ته وويل:

"مور دې ستا بلا واخلي. اوس به دستي داسي چاى در دم کړم چي (مديراغا) به لا نه وي خوړلي"

مديراغا په دغه کوڅه کي يو مامور دى چي ښه شتمن سړى دى او په ورکړه او سخاکي هم ښه نوم لري دى د خداى(ج) په دوستي هم خورا ښه شهرت لري. په دې حال کي د انګړ ور وټکېده او شېر سم دلاسه ور وځغاست. شېر چي د وره يوه برخه خلاصه کړه داسي ورته وويل سول:

"ها درواخله! د (مديراغا) کره يې نن خيرات کړى دى"

شېر په داسي حال کي چي غوري يې ترينه را واخيست نژدې د وريجو او غوښو بوى اوښت بې سده کړى و، سر يې له ډېري اشتها پرله وګرځېده او زړه يې ډوب غوندي سو. په همدې



كتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

حال کي يې مور پسې راووتله. مور يې د دوی خبري واورېدې او د (مديراغا) له مزدور څخه يې پوښتنه وکړه:

"خدای دي خبر کړي! د مديراغا کره يې خبرات پر څه کړی دی؟ خدای دي دا د خبر کور له هره غمه وساتي. اقبال دي يې خدای تل لوړ لري"

هغه ورته وويل:

"پرون يې هغه مشر زوی رېزش کړی و، د شپې يې تبه هم وه، خونن سهار بيا ښه و. مديراغا ويل چې بلا وه برکت يې نه و. زوی مې نن دې سکاروي وهلی و. او بيا پر کوم دروند ځای باندې تېر سوی دی، د پېريانو سيوری به پر لوېدلی وي. نو د پاک الله په رضا يې نن شپږ منه وريجې او دوه منه غوښه پخه کړه او د کوڅې ټولو خوارانو او غريبانو ګاونډيانو ته يې ور ووېشلې. تاسې هم وروسته له ډوډۍ خوړلو يوه ښه دعا وکړئ چې پاک الله دي زما بادار جوړ کړي"

په دې وخت کي د شېر پلار مضطرب غوندې سو او غوښتل يې چې په دوی پسې ور ووځي، خو د انګړ د وره کړپ او د هغه د ځنځير شرنګهاري په کرار کړ او ژر يې احساس وکړ چې خونه د پلاو له زړه وړونکي بوی څخه ډکه سوه. ده په تلوار د سندلۍ له سر څخه پيسې ټولې کړې او بې له شمېرلو يې هغه په جيب کي واچولې او ځای يې د کوندري (دسترخوان) لپاره چمتو کړ.

د ډوډۍ د خوړلو په وخت شېر خېل مور او پلار ته وويل:

"له خدايه دي ارمان نه کوي. داسې خلک هم په دنيا کي شته چې شپه او ورځ دغسې غوړه او په زړه پوري ډوډۍ خوري. دا پر موږ خوارانو ولې داسې توره تياره ده؟ يوه مونه دوه کېږي؟"

پلار يې په داسې حال کي چې دسترګو تر کونج يې په قار ورته وکتل وويل:



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

"توبه وکاږه توبه! نیت پر چامه بدوه له علما وو دي نه اوریدلي چي وايي: "برخي ازلي دي هر څوک يې د خپل قسمت سره سم خوري، تاته مي شل خلي ویلي دي چي د جمعې لمانځه ته د پل خشتي ماجت ته ورځه. هلته تل ستر او جید علما لوموي تر لمانځه وعظونه او نصیحتونه کوي، داسي خوږي خبري کوي چي سړی له ډیرو غمو څخه خلاصوي. په تیره په دې وختو کي چي د دنیا مینه ډیره سوې ده. دغسي نصیحتونه او وعظونه اورېدل خورا ډېر او لوی ثواب لري، دا جمعه به دې په خپله راسره بیایم.

زه خو تل هلته ورځم، داسي تېل ماتېل وي چي سړی ځان نه سي موندلای. یوه ورځ مي واعظ ته نږدې ځای ونیو لوی اخوندزاده چي خورا ډېر مریدان هم لري وعظ وکړ. پاک خدای دي ژر مرګ راکړي چي ژر حوري او غلمان ووینم. په نعمتو او شرابو موړ سم"

اخوندزاده صاحب ویل:

"که چا بښه لمونځ اودس وکړ پر بل چا یې نېت بد نه وچي داولي دومره شته لري د بل چا پر مال او جایداد یې سترګي سرې نه وې او د زړه د اخلاصه یې د پاک الله امر او نهي منل نو جوته خبره ده چي داسي خلک به د غسي غوندي جنت ته ځي. بیا اخوندزاده صاحب د ناداري او نیستي په مقابل کي د صبر او تحمل صفت وکړ او هغه کسان یې جنتیان وبلل چي په دې مرداري او ړنګېدونکي دنیا باندي زړه نه تړي او د لوږې او بربنډوالي په مقابل کي آه تر خوله نه باسي"

باباجانه! والله چي اخوندزاده صاحب د جنتونو او دوزخونو صفتونه کول او د هغو کسانو تشریح يې کوله چي هغوی به هلته ورځي نو زړه مي په کلک وغوښتل چي ژر په خواریو او لوږه کي مړ سم او د هغه جهان نعمتو ته ژر په تراټ ورسم"



کتابتون پولنه (WWW.KITABTOON.COM)

"هو-هو زويه! خداى دي بركت دركړي. په هغه ورځ هلته وې چې لوى اخوندزاده صاحب تشريف راوړى و؟. هغه مبارك بډايانو ته ځومره توصيه وكړه چې بايد خوارانو ته زكات ورکړي، خيراتونه وركړي او په دې توګه جنت ځان ته لازم كړي او خوارانو او مزدورانو ته يې په كلكه مشوره وركړه چې (د ازل كړه) ومني او د بډايانو په نسبت بد نيت نه وساتي. دا ځكه چې پاك الله تل له بډايانو ځخه په دې نسبت رضايت لري چې دوى د شتو خاوندان دي او زكاتونه او خيراتونه وركوي".

خو دا چې د دې زمانې بډايان زكاتونه او خيراتونه. نه وركوي او د خداى امر نه مني بېل سوال دى. همدا ډول د دې زمانې خواريكښ خلك چې ځانونه له بدنيت ځخه نه سي ژغورلاى، او تل د بډايانو په نسبت كينه ساتي هم بېله او جلا مسله ده. پاك خداى به دې دواړو ډلو ته په هغه جهان ډېره لويه جزا وركړي او هغه وخت به نو دواړه ډلې ارمانونه كوي. شير په مينه او ژوندي بڼغ ورته وويل:

كوم وخت چې لمونځ خلاص سو كوښښ مي وكړ چې د مبارك لاسونه مچ كړم، خو د خلكو د تېل ماتېل په اثر ورونه رسېدم. كوم وخت چې دباندي راووتم نو د مبارك لوى تور موټر مي چې د جومات په وره كي ولاړ و مچ كړ"

♣♣♣



كتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

## دويمه څپرکی

ګهيخ لـه معمـول سـره سـم زوی او پـلار وروسـته لـه لمانځـه څخـه خپـل - خپـل شـيان واخيـستل او پـر هغـه پخـواني ځـای بانـدي کـښېناستل. دوی دواړو خپـل لاسـونه پـه تخـرګ کـي نيـولي او کنجلک (غونج) پر دوو تلو ناست وو.

د شېر د پزې سر د سږو له لاسه سور بخون سوی و.

شېر د پـلار پـه اشـاره نـږدې سـماوارچي تـه ورغـی او دوې چاينکي چـای او يـوه ډوډۍ يـې څنـي راوړه يـوه چاينکـه يـې پـلار تـه او بله يې ځان ته کښېښودله.

لمـر ښـه راوغوړېـده او د دوی دواړو هـډوکي يـې ور تـاوده کـړل. ځکـه چـي د حـوت د مياشـتي لمـر خـورا تـودې او پـه زړه پـوري پلوشـې لـري. نـو د خلکـو فعاليت او تګ راتګ هـم وار پـه وار پـه واټ کي پسې ډېرېږي.

پـه دې حـال کـي يـو سـپين کـالي غونـدي سـړی د شـېر د پـلار تـر مـخ ودرېـد او لـه هغـه سـره يـې خبـري شـروع کـړې. شـېر دا سـړی ښـه پېژانـد او حېـران سـو او چـرت واخيـست چـي دا سـړی زمـا لـه پـلار سـره څـه کـار لـري؟ او ولـي ورسـره ګـړېږي؟ ځکـه چـي د هغـه خـو خـوراښـې روسـي کلوښـي پـه پـښو دي او سـپيني هزارګـی جـورابي يـې چـي پونـدي يـې پـه څـرمن کـي نيـولې سـوې دي پـه پـښو دي او دا خو ګندل نه غواړي.

شـېر وليـدل چـي د ده پـلار او د دې سـړي مرکـه لنـډه وه او څرنګـه چـي هغـه بېرتـه رهـي سـونـو ده پـلار تـه وربـغ کـړه او د دې سړي د مقصد پـه خصوص کـي يـې پوښـتنه څنـې وکـړه. پـلار يـې پـه



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

داسي حال کي چي يوه زړه کلوښه يې ګنډله او په هغې يې تېره (رينه) منډله ورته وويل:

"د مدير اغا ناظر صاحب و، ده ويل چي مابښام د مدير اغا کره ورسم د هغه په کار يم"

شېر ورغبرګه کړه:

"مانه درسره بيايې"

"يه! سړی بد ايسي بيا به وايي چي زوی هم راباندي څروي.

د ناظر له خولې څخه څر ګندېده چي د مدير اغا زړه راباندي سوی دی او غواړي چي د پاک الله په نامه مرسته راسره وکړي. خو زه دا خلک..."

د زوی او پلار دا خبره مرکه هغه وخت پرې سوه چي يوه سړي خپله څپلۍ د ګنډلو لپاره راوړه، د شېر د دې ډول مرستي په شاوخوا کي خواږه ـ خواږه چرتونه وهل شروع کړل او پر هغه باندي يې خوند اخيست د ده د (کشمش آو) بړغ هم لږ څه کلک او قوي غوندي سو او په هغه کي د هيلي رڼا ځلېدل شروع کړل.

غرمه چي کورته ورغی او مور ته يې يوه ډوډۍ وروړه نو مور ته يې په خورا خوند دغه زېری ورکړ او ورته ويې ويل:

"د مدير اغا ناظر نن شپه بابا د هغه کورته بللی دی.

بابا ويل چي ګوندي يو څه مرسته راسره وکړي.

مدير اغا ښه سړی دی، هر وخت د ژمي په سر او پای کي له خوارانو سره مرسته کوي. تاته په خپله معلومه ده چي درې څلور حجه يې کړي دي"

مور يې په زړه سواندي بړغ ورغبرګه کړه:

"زويه! دا خلک زه ښه پېژنم. د اوسني زماني بدايان دي له هيچا سره مرسته نه کوي. فقط خپل ځان او خپله ګټه غواړي. زه



کتابتون پولنه (WWW.KITABTOON.COM)

داسي گومان کوم چي بيا به يې دې ته پټيلي وي چي داور کوټي کور لا را ځخه واخلي، ددې خلکو خو پر موږ دالا هم نه لورېږي. زويه! د دوی په مرستو زړه مه تړه، خپله لار دې په خپله متهٔ وهه".

غټ مازيگر بيا شېر غوښتل چي زوړ سطل واخلي او د حمام په پوړندو (تودو ايرو) پسې ولاړ سي. لومړی تر هغه چي دې خپل شيان سره راټول کړي او کورته ولاړ سي پلار يې ور ته بږغ کړل:

"زويه! مابنام دوې ډوډۍ واخله ځکه زه به ناوخته درشم"

شېر چي په کور راننووت نو ځوړ يې تر غوړ سو او د خپل انگړ د وره په خوله کي يې د خپلې مور د خولې داټکي واورېدل:

"داسي خونه ده لکه د زړه سر. دلته هم ډېر تنگ او راتنگ نه سته. يو زوی او يو مېره مي دي. دوی دواړه سهار د لمانځه په وخت وخي او مازيگر ناوخته کورته راځي"

په دې حال کي شېر په خونه ورننووت او ويې ليدل چي يوه په عمر پخه ښځه سره له دوو لوڼو چي يوه (۱۶) او بله (۱۲) کلنه معلومېده په خونه کي سندلي ته نژدې ولاړې دي او د ده له مور سره د خونې د کرايې کولو په شاوخوا کي خبري اتري کوي.

شېر خپل لوښي او لرگي له سره او تخرگه راگوز کړل او د خونې په يوه گوټ کي يې کښېښودل. او وروسته له هغه يې دوی ته سترې مشي ورکړه. پېغلو ژر خپلي څادری پر مخ ويړې کړې خو يوې ېې تر ته هغه پورته کړه او په دې نسبت چي څادري يې په بېړه پر مخ راوېړله. نو د ستر گو پر ځای يې د سر وېښتان راخپاره سوي وو. نو ځکه يې خپل مخ بېر ته لوڅ کړ او وېښتان يې د شا په لوري واړول. په دې وخت کي يې مور لږه وربانډي په قار غونډي سوه او ور ته ويې ويل:



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

"نه شرمېږې؟ مخ دي پټ کړه".
په دې وخت کې د شېر مور لږ څه په ګيله ورته وويل:
"خبـر دی خـورې هلکـان او نجـوني پـه دې خبـرو دومـره نـه پوهېږي، کـه دي خـدای پـه دې خونـه کـې نـصيب کـړی ونـو د يـوه کور او کالـه پـه شان بـه ژونـد کـوو. مخ پټـې خـو بـه بيـا ګـران کـار وي. شکر دی مسلمانان يو. هر څوک خپله مور او خور لري"
کرايه والا ښځې پر خپلو لوڼو باندې ږغ وکړ:
"درځئ ګلالـې. ښـاپېرۍ درځـئ دلتـه هـم زمـوږ شـپه نـه سـبا کېږي"
بيا د شېر مور په يوه ساړه غونډې ږغ ورته وويل:
"خـورې! ځـان مـه سـر ګردانه وه هلـک د پوړنـدو د راوړلـو لپـاره پـه دې شـپو ورځـو کـې لـږ څـه وختـې کورتـه راځـې کـه نـه وي چـې د ماښـام لمونځ پـه جومـات کـې وکـړي راځـې. د ورځـې ماتـه يـوه ډوډۍ راوړي نـو کـه هغـه سـتا نجونـو راتـه راوړه خـو د ورځـې د خـوا د ده راتـګ تـه هيـڅ حاجـت نـه شـته. يـا بـه زه پـه خپلـه-خپلـه ډوډۍ لـه ډوډۍ پخـوونکې څخـه راوړم. مقـصد دا دی چـې سـاعت بـه مـو سـره تېـر وي. تـه هـم يـووزرې کونـډه ښـځه يـې دلتـه بـه نـږدې چېـرې کـار هـم مونـده کـړې. پـه دې کوڅـه کـې څـو داسـې کورونـه شـته چـې لاس او خولـه يـې سـره رسـېږي (*) او غـواړي چـې يـو څـوک مـزدوره کـړي، خپل اولاد به دې تر نظر لاندې وي"
د ګلالـې پـر مـور دا خـوږې غونـډې خبـري بـدې ونـه لګېـدلې او لږ څه زړه نا زړه غونډې سوه او بيايې ورته وويل:
"ښـه دی خـورې! زړه بـه وږغـوو. سـلا مـشوره بـه وکـړو کـه مـو خوښـه سـوه رابـه سـو. د کرايـې پـه برخـه کـې نـو سـتا وروسـتۍ خبـره هم دا څلور افغانی د مياشتې دي؟ تر دې به کښته نه سې؟"


(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

شېر د دوی د خبرو په لومړۍ برخه کې سطل واخیست او په پوړندو پسې ولاړ. کوم وخت چې د انګړ له وره څخه کوځې ته ووت، دايي بې اختیاره له ځان سره وویل:

"اوف په یوه کاته یې وګنډلم. زه چې وایم تر زړه مې غشي ووتل. څه ملالې غتې سترګې یې وې او څه کاږه غشي غوندي باڼوګان یې وو"

شېر ژر خان په کوټ کې نهام کړ او دې ته منتظر سو چې مور او دوې لوڼې یې راووځي.

کوم وخت چې هغه راووتلې. نو په کوڅه کې په هغه لوري رواني سوې چې عمومي واټ ته راوتلې ده. شېر هم په دوی پسې سوکه-سوکه له لیرې راروان سو او تر هغه ځایه په پسې و چې دوی تر پل خشتي تېرې سوې او د شور بازار په یوه خورا تنګه کوڅه کې خورا زاړه سبنجې کور ته ننوتلې. شېر هغه کور په نخښه کړ او بېرته په پوړندو پسې ولاړ.

د شېر پلار مابنام له لمانځه وروسته خپل لوښې او لرګي چې په یوه زړه ګونۍ کې یې سره اچولي وو د معمول سره سم کورته یووړل او د شېر له سامان سره یې یو ځای کېښېښودل او په خپله په بیره د (مدیر اغا) د کور پر لوري رهي سو. په دې وخت کې یې مایني د کرایه والا په خصوص کې خبرې ورته وکړې او په دې چې هغې ښځې له شېر څخه زړه واهه خواشینې وه.

باباخان بې له دې چې په دې برخه کې څه ووایي په بیره یې ګامونه اخیستل. د مدیر اغا د کور ور خورا لوی او دوې پلې لري، پر هره پله یې د اوسپنې دوې پوښتې ټک وهلې دي او هم ځای په ځای پر دې پوښتیو باندې د اوسپنې کوپې وهلې سوې دي خورا ټینګ او په عین حال کې خورا ښکلې ور دی.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

په وره چې ورننووت نو سمدلاسه يوه سپين ږيري قابچي دی د هغې خوني خواته بوت چې هلته څو نور کسان هم ناست وو.
په لوی وره چې ورننووت نو ښي لاس ته د زينو په لوري وګرځېد چې دا زينې ښغې پاس لور ته ختلې دي. دې خوني ته (د عامو سراچه) وايي. دلته کليوال خلک د ښارونو عادي او معمولي مېلمانه کښېني.
په دې خونه کې چې په غاليو فرش ده او ښې د شنه بخمل اوږدې نيالۍ په کې وېږي دي څلور کسه نور هم ناست دي دوه سپين پګړي ملايان دي يو په عمر ګړ (۴۰-۵۰ کلن) اوبه وږونکي (سقاو) دی او يو پاندې رقمه پوخ سړی دی. د اوبو وږونکي هماغه د څرمني واسکټ دی او څو د څرمني ملا تړوني پر راګر ځېدلي دي. د ده يوه زړه خړه خو جګه غوندي خولی پر سر ده او پر دې خولۍ يې دوه درې وله سپينه څيري پګړۍ تړلې ده.
خو هيڅکله دا ګومان نه کېږي چې دا دي سپينه خاصه وي، يعني د هغې رنګ د خيرو له سببه ښخي خړ اوښتی دی.
د ده خولۍ د کاغذو له پليتو څخه جوړه ده چې هره پليته يې د ټوکر په پوښ کې ليکې-ليکې غوندي ګنډل سوې ده او خولۍ يې لاري-لاري معلومېږي، ځينې ځايونه د خړو بره (خړبخون) کاغذ پليتې تر پوښ راوتلې دي دا اوبه وږونکی چې غاړه په پوري ده (*) هره ګړۍ خپله پزه په لستوني داسې پاکوي چې بې پامه غوندي خپل لېچ تر پزې تېر کړي او بيا (اوه) وکړي او ورسره سوڼ هم وهي.
د ده د کورتۍ لستوني واني-واني (ټوک-ټوک) دي او په متې پېژندل کېږي چې دا د هزارګۍ بر کې کورتۍ ده خو اوس يې دومره سرې، توري، ژړې، خړې پينې ورته ايښې دي چې د بر کې اصلي رنګ او څه ډول والی يې اړولی دی.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

د ده کورټي ته کورټي نه سي ويل کېداى. د دې لپاره خورا ښه نوم (څل) دى.

په هم دې ډول پاندي څو وله ځيري-ځيري پګړۍ پر يوه خورا زړه کندهارۍ خولۍ چي ګلاباتون يې ښخي تکېدلي دي تړلې ده. او د ده خړه خو سورۍ-سورۍ کورټۍ داسې معلومېده تا به ويل چي خورا زړه کمبله يې چي رنګ يې د ډېر استعمال په اثر الوتی دی اغوستې ده.

دوى دواړه ځنګ پر ځنګ ناست وو. او سرونه يې داسي سره نږدې کړي وو چي تا به ويل د يوه او بل په غوږو کي خبري سره کوي. د دوى سرونه به صرف هغه وخت يو څه سره ليري سول چي او به وړونکي به په خپل لستوني پزه پاکوله او په دې عمل کي به يې ځنګل د پاندي خواته اوړده سوه. د ده دا عمل به تل بې له ارادې اجراء کېده.

دواړه ملايان په سپينو څادرانو کي نغښتي په پلتي (چارزانو) ناست دي او د دوى نور کاپي نه معلومېږي.

دوى دواړو سوکه-سوکه خبري کولې او په هره جمله کي يې خورا ډېر عربي الفاظ استعمالولوي د دوى د (ع) او (ق) مخرجونه ښه په لوړه اوريدل کېږي.

د دوى توري ځنې تر سپينو پګړيو راوتلې دي. داسي څرګندېږي چي دوى په دې وختو کي له کليو څخه ښار ته راغلي دي. د کليوالتوب بڼه يې له ورايه معلومېږي.

د ښېر پلار چي په (کوش کن) کي خپلې د موټر له ټاير څخه جوړې کړې کلوشي و کښلې په خونه ورننووت. ده حاضرينو ته سلام واچاوه او بيا نېغ د پاندي ځنګ ته ورغى او داسي په پلتي (چارزانو) کښېناست چي د ځنګانه سر يې د



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

پاندې د ځنګانه پر سر کښېښود. په دې وخت کې يوه ملا د ښېر د پلار په خصوص کې سو که دا بل ملا ته وويل:

"سپين ږيرى دى خوار کې خو داسې برېښي چې ديندارى نيولى دى. ګوره اوس لا هم ښه په قوت کې دى"

دوى دا خبره لا نه وه تمامه کړې چې ناظر راننووت او سلام يې ورواچاوه او بيا د ملايانو خواته ور تېر سو. او په داسې حال کې چې دغاړې دسمال يې له سر څخه راخلاصاوه په ادب سره کښېناست او د غاړې دسمال يې پر خپلو ځنګنو وېږ کړ.

د ناظر هزارګې جورابې چې د پښې خوايې تولې په څرمن کې نيول سوې ده په پښو دې او چې کښېناست نو هغه څرمن چې سور رنګ يې و رونه برېښېدله.

ده د سرې برګې بالاپوښ اغوستى دى او د خړې ملېشې کالي يې اغوستې دي.

د ده قره قلي خولى پر سر ده او ږيره يې پاکه خرېيلې ده. دى د (٣٥) کالو په شاوخوا کې معلومېږي.

ناظر په داسې حال کې چې له قاليني څخه يې د يوه سپين کاغذ وړه ټوټه په خپلو دوو ګوتو را خيستله وويل:

"الحمدالله د اسلام ملک دى. د نبي دين په ښه توګه چلېږي. هرې خواته ښه-ښه ملايان شته. په جوماتو کې ځاى نه مونډل کېږي. تېره جمعه (مديراغا) د پل خشتي جوماتته ورغلى و. هلته ملايانو وعظ کاوه. دا وعظ پر (مديراغا) خورا ښه لګېدلى دى. دا سې د هغه تر اثر لاندې راغلى دى چې اوس شپه او ورځ نفلونه کوي او د تاجد لمونځ خو يې هېڅکله نه دى قضاء کړى. پر زړه يې د رحم اوبه توى سوې دي او ماته يې امر کړى دى چې د نژدې جومات دواړه ملايان او د نيژدو کورو خواران راټول کړم او د خداى په رضا يې په نس ماړه کړم او هم يو څه



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

زکات ور کړم. دا خو خر ګنده خبره ده چې هیڅ دنیا دار سړی د خپلې دنیا زکات نه سي ور کولای. خو بیا هم پر مدیر اغا هغه وعظ خورا درونـد اثر شندلی دی چې هغه بلـه ورځ یې په ماجـت کـي اوربـدلی و. پـه دې وخـت کـي د ګـډوي او چلمچـي شـرنګی سـو او سمدلاسه قابچي چـي پر اوږه یـې یو سور وبره (سـوربخون) د لاس دسمال پروت و او په یوه لاس کي یې ګډوه او په بل لاس کي یې چلمچـي وه رانـنووت. قـابچي د ناظر پـه اشاره نېغ د ملا یـانو خواتـه ور تېر سو او په داسي حـال کي چي یوه ګونډه یې ووهله چلمچـي یې د یوه ملا مخي ته کښېښود او د لاسو پرېولل شروع سول.

د لاسـو پرېولـل لانـه وو خـلاص سـوي چـي یـو د سپین سـان کونـدری یـوه هلـک راننـه ایسـت. دې هلـک خـړه زیـږه درېشي کـړې وه او د هـم هغـې درېشي لـه تـوکر څخـه جـوړه سـوې خـولې یـې پـر سـر وه. او هـر چـا پېژانـده چـي دا هلـک بـه پـه کـوم دفتـر کـي (پیـاده ګـي) کـوي. ورپسـې پنځـه غټ-غټ غـوري چـي لـه قـابلي پـلاو څخـه ډک وو راوړل سـول او د هـر یـوه مخـي تـه یـو-یـو غـوری کښېښودل سـو. لومړی تر هغه چي حاظرین پر کوندري را وڅکېږي ناظر وویل:

"لومړی مي درتـه وویـل چـي پـر مـدیر اغا د تېـري جمعـې وعـظ خـورا درنـه اغېـزه کـړې ده او د ده پـر خوارانـو او غریبـانو خـورا ډېـر زړه سـوی دی. نـو ده فیـصله وکـړه چـي خپلـه دنیـا حلالـه کـړي او د هغـې زکـات وباسـي. نـو دا دی چـي هـر یـوه تاسـي تـه یـو-یـو غـوری ډوډۍ درکولـه کېـږي همـدا ډول خـو نـورې ورخـې بـه هـم دغـه ډول ډوډۍ خوارانـو تـه ورکـړل سـي. نـن شـپه ستاسـو نـږدې ګاونـډیانو وار دی"

بیـا سمدلاسـه پـر ډوډۍ پسم الله وویلـه سـوه. کـوم وخـت چـي د ډوډۍ خـوړل خـلاص سـول. نـو بېخـي ډېـري وریجـي پـه غوریـو کـي پاتـه سوې.



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

ناظر ورته وويل:

"که مو زړه غواړي، نو تاسي کولای شئ چي دا پاته ړوندی او حتّی غوري هم له ځانه سره يوسئ"

يوه ملا ورته وويل:

"کور مو ودان! شريعت مو روښانه کړ خدای دي داسي کورونه هيڅ وخت نه ورانوي. غوري او ړوندی څه کوو چي وړو يې، يو د خدای دوست به وايي چي کور مي تر تا جار نو هغه بل خو به وابښکی (پړی) نه ورته اچوي" دې ملا لا خپله وينا نه وه بشپړه کړې چي قابچي يو پټنوس چي سپين دسمال پر غوړېدلی و راووړ او د ناظر مخې ته يې کښېښود. ناظر په تلوار دسمال تر پنه ايسته کړ او د دسمالو پنځه غوټي په کې ښکاره سوې.

ناظر په بېړه چي لږ څه مضطرب غوندي هم و وويل:

"ستاسي خوښه ده! چي غوري او وريژي نه وړئ نو دا دی هر يوه ته شل–شل افغاني ورکول کېږي"

څکه چي په هره غوټه کي څلوېښت–څلوېښت غرانونه وو، نو هره غوټه ښه درنه وه او د دسمال يوه بر خه يې کښته ځړولې وه. ناظر د هر سړي مخې ته يوه–يوه غوټه کښېښودله. لومړی يې ملايانو ته دوې غوټي ورکړې يوه ملا لاس پورته کړ او د دې خيرات او زکات ورکولو په مناسبت يې يوه ښه غوره او مفصله دعا وکړه. وروسته له هغه حاضرين بېرته د خوني له غولي څخه د دېوالو خواته بېرته سول او پر نياليو کښېناستل.

ناظر اوچت ولاړ سو او پر قابچي–پياده يې ږغ وکړ چي لومړی دي د ړوندی لوښي واخلي. ده د ړوندی لوښي په خپله راټول کړل او هر يوه ته يې يو–يو غوری ورکاوه چي يو يې سي. ده په خپله دوه غوري واخيستل او له دوی سره يو ځای ووت.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

دوی غوري نبغ هغې خوني ته يووړل چې (مديراغا) په کې ناست و. او په يوه فاتحانه ږغ يې ورته وويل:

"صاحبه! هر څه مې د خداى په زور په برياليتوب اجراء کړل. زه به هغه بل غوري ژر راوړم بيا به نو ټوله کيسه درته وکړم"

پنځم غوري چې يې ور ووړ نو يې د مينې په ډک ږغ ورته وويل:

"ستا د طالعو په برکت والله که غوړ په غوړ پوه سوى وي، که څه هم د زکات ورکولو دا خورا مشهور او زوړ افسانوي چل دى خو دلته مې داسې عملي کړ چې هيچا احساس هم نه کړ. پر شريعت مې برابر کړ، هر يوه ته مې په اصرار ويل چې دا غوري سره د هغه د محتوياتو ورلاى سئ، خو هر يوه په خپله خوښه هغه پرېښود. د بادار طالع مې لوړې دي"

مديراغا ده خبره غوڅه کړه:

"څه! ورسه لېونيه بښه کوګير راوړه چې خپلې طلاوي راوباسو"

ګومان کوم چې دا زکات به مې پوري وخي.

ناظر چې کوګير مديراغا ته ورکړ نو يې ورته وويل:

"باداره! که دي خوښه وي نو زه به بېرته ورسم او دوى به رخصت کړم"

"دوى يواځي پرېږده! ورسه يو څه سرې او به راوړه چې دا (سرې) په کې پرېمنځو او وچې يې کړو!"

لږ وروسته ناظر بېرته د مېلمنو کوټې ته ورغى او پر خاى کښېناست. حاضرينو ته يې وويل:

"ښه دى چاى به وڅښئ بيابه ولاړ سئ"

يوه ملا ورته وويل:



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ښه دی خو دا زما ملګری به ورسي د ماخستن اذان به وکړي، د لمانځه جمې ته به زه هم خان وروررسوم. خدای مو رزق ډېر کړه دومره ډوډی مي خوړلې ده چي ښورېدای نه سم"

ناظر سر ورته کښته پورته کړ او بیایې ورته وویل:

"هغه نو ستاسي خوښه ده، اذان کول خو ضروري او مبارک کار دی".

په دې وخت کي د ښېر پلار د دې شلو افغانيو په شاوخوا کي خورا خواږه - خواږه چرتونه وهل. هغه صحنه يې په دماغ کي جوړه وه چي دی کور ته ورسي او زوی او ماينې ته د ډوډی او د روپو د راوړلو په شاوخوا کي په خوند نکل وکړي.

دی له دې څوارږه چرت څخه د ناظر دې وينا را وايست:

"پلار مي دي خدای وبخښي د مدير اغا د پلار ناظر و.

د مدير اغا پلار ډېر غښتلی او نوميالی سړی و. د ده مخي ته څوک نه سو درېدلای. دا ځکه چي يو خو يې پوهه ډېره وه او بل دا چي د امير حبيب الله شهيد خپل غوندي و. او د دربار شاوخوا خلګو ټولو ستر ګه څني کوله. د هغه مرحوم خورا الويه او درنه جانداري وه. پاک الله دومره مال او جايداد ورکړی و چي دی يې په حساب نه رسېده. پلار مرحوم مي يوه ورځ کيسه کوله چي د مدير اغا پلار سردار... د خپلو مځکو او باغو په سېل وتلی و. پر لاري يې د يوه باغ ورخلاص وليد او سمدلاسه په هغه باغ ورننووت کوم وخت چي يې د باغ ښه والی او لوی والی وليد نو يې ارمان وکړ چي کاشکي دا باغ خو زما وای.

زما پلار ته يې مخ وروا ړاوه چي ناظره دا باغ په هره توګه چي کېږي ماته رانيسه.خو کوم چي زما پلار ورته وويل چي صاحبه دا باغ خو ستا دی کنه! نو دی خورا خوشحاله او حيران غوندي سو چي دا ما څرنګه نه دی ليدلی. نو ملا صاحبه! که مي



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

رښتيا پوښتې د پاک الله نظر خورا لوی دی. پر هر چا چې يې نظر وسو نو بيايې اوبه پر پيچومې خېژي"

په دې وخت کې اوبه وړونکې خان سره سمبال کړ او ويې ويل:

"دا ښه کار نه دی چې د علماوو تر منځ موږ اميان خلک خبرې وکړو، خو دومره وايم چې هر چاته يې خدای پر خپل نيت ور رسوي. دا متل چې وايي (بېړې په نيت چلېږي) خورا سم او صحيح دی. دا خلک خو پاچهان دي پاچهان. دا څکه چې نېتونه يې سم دي. ته وګوره ما غوندي خلک ټوله ورځ نوکان وهي (*) او خورا درانه –درانه کارونه کوي خو بيا مو هم يوه نه دوې کېږي. دا څکه چې ښايي زموږ د کار کوونکو نيت به ښه نه وي. که ما غوندي سړي ته خدای دومره شتمني ورکړي نو ته فکر وکړه چې څه کارونه به ونه کړم. والله د ورځې خو به پنځه کسه وژنم. دا هم دغه د ښه نيت څښتنان دي چې دا دومره شته زغمي او داسې ژوند کوي چې ته به وايې هيڅ نه لري. دا دی زموږ خوارانو نس يې راتود کړ او هم يې په جېبو کې دومره روپۍ راواچولې چې والله که مو په خپل عمر د بل په لاس کې لاليدلې وي".

ملاصاحب غاړې تازه کړې. هر څوک پوه سوو چې دی غواړي چې څه ووايي. نو هر چا ساه ونيوله او د ده لوري ته يې سترګې کړې سوې. ملاصاحب پر خپله کوندې توره بړېره لاس تېر کړ او ويې ويل:

"د زکات ورکول د فرض ادا کول دي. بدايان په دې مکلف دي چې دا فرض ادا کړي که دوی داسې ونه کړي نو د هغه جهان عذاوبونه به پر وسي. خو اوس زمانه اخره ده. خلک که څه هم هر څه ولري بيا هم پر يوه ايکې باندې سرونه ماتوي. نو که څوک پيدا سي او دا فرض ادا کول و غواړي نو هغه د خورا قدر وړ دی او



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

متنه يې بايد وسي. دا د خوښۍ ځای دی چې په دې زمانه کې داسې خلک موندل کېږي چې هغوی د دې کوښښ کوي چې غاړې يې خلاصې سي. په دې کې شک نه شته چې موږ او تاسې بندګان د پاک الله او امر نه سو پر ځای کولی، خو بيا دا هم د خدای د رضا او خوښۍ موجب کېږي چې څوک د ده د اوامرو په اجراء کولو کې هڅه وکړي او په دې لاره کې لږ او ډېر وښندي".

د شېر پلار هم چې پر يوه اړخ او بيا پر بل اړخ سو وويل:

"صاحبه! که مې رښتيا پوښتې د دې خلګو ارواحو ګټې کړې دي. که يې ارواحو ګټې کړې نه وای نو موږ غوندي به د يوه خوار او کارکوونکي په کور کې زوکړې وای. ته په خپله پام وکړه د مدير اغا کورنۍ څومره لويه کورنۍ ده؟، پلار دې خدای وبخښي ډېر جرار او ضابطه سړی و چا د ده دمخه نفس نه سو کښلای. کوم وخت چې به دی په دې کوڅه کې تېرېده نو ته ومنه چې ښځو، کوچنيانو او لويانو به ساه په هوا نيولې وه. هر څوک به د ده د کور له مخه په (قل هوالله) تېرېده، د اسانو لپاره يې په مرادخانيو کې جلا کمندو، هر سهار به مهترانو درې څلور اسونه راوستل او د ده به چې هر يو خوښ سو پر هغه به خپل کار ته سپور لاړ. لنډه دا چې خدای بخښلی خورا غښتلی او د زړه ډک کاردار و، پر امير صاحب لکه دوې توري سترګي ګران و. د ده خبره هيڅ کله پر مځکه نه لوېده ډېر ديندار او پر ناموس مين سړی و، ته باور وکړه چې يوه ورځ په دغه کوڅه کې يو سپين سترګی زلمی تېرېده، د ده د کور مخې ته چې راغی بېبيانې راووتلې مهترانو بړغ پر وکړ چې سترګې پټې کړه چې د حرم اهل راوځي، خو دغه خدای خوار کړي د دې خبرو دومره پروا ونه ساتله او يوه پلا يې د سترګو تر کونج اهلحرم ته چې ټولې لس ښځې کېدلې وکتل مهترانو خورا وډباوه. خو ستا پلار دې خدای



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

وبخښي د ده ډېر نږدې او په زړه پورې ناظر و. هغه دغه سپين سترګي زلمی سمدلاسه د سردار صاحب حضور ته ور ووست دی خورا پرله نبنه سو او په خپله ګوته يې د دې هلکي دواړې سترګې ايسته وغورځولې. د دې کار د کولو په وخت کې يې وويل: "چې دا کار مې د دويم ځل لپاره بيا ځکه وکړ چې خلک پوه سي چې زموږ حرم ته په چپه کتل څه معنی لري؟"

رب دې ستا پلار وبخښي د هغه هلک سترګي يې په يوه کوچني غاب کې چې لا ژوندی او پرله غورځېدلې کښېښودلې او په غولتون کې يې اړتاوي کړې. مقصد مې دا دی چې پخواني خلک خورا پر شريعت ټينګ وو. او د خدای پر لار برابر وو نو د دغسې ښو خلکو زامن هم بايد ښه وي او شرعي امر په جګه ملا ومني".

حاضرين څو ثانيې پټه خوله پاته سول چې که پانډي څه وايي. خو چې هغه ويلو ته ځان چمتو نه کړ نو ملا صاحب لومړی دواړه لاسونه پر مخ او بيره تېر کړل او بيا يې دواړه لپه غوندي ونيول او وې ويل:

"دعا وکړی چې پاک الله د دې مسلمان زکات قبول کړي او د ده غاړې هم په دې جهان او هم په هغه جهان خلاصې کړي. موږ عاجز ملايان يو. بې له دعا بل څه نه سو کولای"

وروسته له هغه ټول حاضرين ولاړ سول. ملا صاحب هم غوښتل چې ولاړ سي خو ناظر ور ته وويل چې:

"يو څو دقيقې پاته سه. بيا به ولاړ سې!"

کوم وخت چې پانډې او په ورونکی او د ښېر پلار له وره څخه ووتل او په زينو کې کښته کېدل نو ناظر ملا صاحب ته وويل:

"موږ دلته يو چل غوندي وکړ. خدای دې تر راتېر سي..."



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ملا یې خبره غوڅه کړه:

"زه پوهېدم دا چل خورا پخوانی او افسانوي رنګ لري. ویل کېږي چي پخوانیو بډایانو هم دغسي چلونه کول"

ناظر:

"ته وایه! د مدیر اغا غاړي به خلاصي سي؟"

ملا:

"څه ووایم خدای خو رحیم دی ګوندي تر ور تېر سي"

ناظر:

"ستاسي لپاره مو یو څو نوري روپۍ هم ایښي دي زه به هغه درته راوړم"

کوم وخت چي ناظر هغه راوړې او ده ته یې ورکړې نو یې ورته وویل:

"ملاصاحب! د پښتو متل دی چي وایي (اسمان چا تر بیخه شین کړی دی؟) دا ډېر ګران کار دی چي سړی دې پر شریعت بشپړ سم ولاړ سي. که د رښتیاوو زکات ورکړي، نو پر سل دوه نیمي دي، دا یو عالم روپۍ کېږي. له بلې خو باید ووایم چي د مدیر اغا ډېري روپۍ په تجارت کي بندي دي. پوهېږې چي هره پلا چي تاجران په ګمرک کي د مال محصول ورکوي، هغه اکثره په زکات کې شمېري. نو په دې لحاظ هم مدیر اغا تر ډېره حده خپلې غاړي خلاصي کړې دي، خو تاسې په خبر یاست چي مدیر اغا د علما وو خبره مني او هغو ته په درنه ستر ګه ګوري. نو که تاسې ته تکلیف نه وي درځئ دننه ورسو او د مدیر اغا د ډاډ ګیرنې لپاره یو څه ورته ووایو چي زړه یې پر کرار سي، ځکه دی له خدایه خورا ډاریږي".

♣♣♣



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# دریمه څپرکی

د شپر پلار په داسي حال کې چې د روپو ډک دسمال به یې
کله په جېب کې ونیو او کله به یې دباندې څرولی غونډې ونیو. په
خوشحالی د کور لورته راروان دی، او پر لاري خواږه-خواږه
چرتونه وهي او هم د زوی او د مايني هغه وضعيت په نظر کي تر
سيموي چې دوی به يې د دې روپو په ليدلو غوره کړي.
د وره له ټکېدو سره سم شپر ورولاړ سو او په مينه يې پلار
ته د انګړ ور ورخلاص کړ. مايني يې په خواږه بړغ ورته وويل:
"زه او شپر تر اوسه درته ناست وو او لار مو دي څارله!
داسي مو پوه کړه چي پر ښې ښه راغلې که پر کينه؟"
ده له خوشحالی ورته وويل:
"پر ښې! خدای دې د مدير اغا کور له هره غمه وساتي. موږ
څلور پنځه کسه خو يې خوشحاله کړو"
په دې وخت کي يې د روپو دسمال چي په جېب کي يې په
لاس کي نیولی و وروکیښ او په مينه يې پر سندلی کښېښود او
ويې ويل:
"دغو مره روپۍ مي راوړې، چي د پلار په واده به دي لا نه
وي ليدلې".
پر دې وينا ټولو ومسل، شپر سمدلاسه دسمال ور واخيست
او د هغه غوټه يې خلاصه کړه او بيايې تر يوې څنډې ونيو او ټولي
روپۍ يې د سندلی پر سر خالي کړې او دسمال يې يوې خواته



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

کښېښنود. د سپينو غرانو د شرنګي اواز په خونه کي ښه اوچت غوندي خپور سو. چي په اورېدو يې د ټول کور غړي خوشحاله سول. شېر سمدلاسه موټ (موټی) په ډک کړ او د هغو په شمېرلو يې پيل وکړ. ده دوه-دوه غرانونه يو خای له ګوتو را ايستل او (يوه، دوه، درې) يې ښه په زوره ويل. ده خپل شمېر لسو ته لا نه وو رسولی چي مور يې په خواږه غوندي ږغ وويل:

"دا به مي د نږور پر ګوتميو او نور پسول خرڅوم. دا روپۍ به نه ښوروئ، دا ږدم خپلې نږور ته يو څه ورې مي موندلې دي هغه ورېشم او بيا ښښونه څني جوړوم. بيا وروسته هم يو څه ورې موندلې کوم او همدغه ډول کارونه به کوم، تر څو چي يو څه پيسه لاس ته راسي او بيا يې د خپل شېرجان زوی پر ناوي ولګوم. اوس مي شکر دی زوی زلمی دی. خپله مور به ښه په زړه پوري نجلۍ ورمونده کړي".

د دې وروستي جملې په ويلو يې د شېر بار خو ته لاس ور ووړ او د ده نوي راغلې ږيره يې سوکه او په مينه کش کړه او ويې ويل:

"مور دي ستا بلا واخلي خدای مي دي ستا په يامه پټه کړي. خو تر هغه وخته نه، تر څو چي مي ستا ناوې نه وي راوړې او کوچنيان مي دي نه وي ليدلي"

دې لا وينا ښه نه وه خلاصه کړې چي شېر ږغ کړه:

"بشپړه شل افغاني يا څلوېښت غرانه کېږي"

د شېر پلار په دې وخت کي د ماينې او زوی د لا ډېري خوشحالۍ لپاره وويل:

"څومره تالېمن يو موږ چي د حاجي اخوند له پوره خلاص سوو، که نه وای اوس به مو دا روپۍ هغه ته ورکولې ما تاسي ته وويل چي پر خان زحمت راوړئ پر دې پورونه ور ادا کړئ بيا به



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

لوخ لغړ کړ خو. خوله دې د کاندارانو څخه به کالي نه رانيسو او نه به له چا څخه په سلم کوم شي اخلو".

د شېر مور په داسي حال کي چي د روپو دسمال يې د شېر له لاسه اخيست لړ څه په ډډ ږغ وويل:

"نه ګوري چي شېر مو پر اوږو سپور دی؟ تر هغه وخته پوري چي دی مو پر خپله (ښه) کړی نه وي موږ څرنګه د هوسايي ساه اخيستلای سو؟ که د ښادی په چارو کي تر پورو او سلمو لاندي سو نو څه پروا لري.

خدای مو دي له هغو پورو او سلمو څخه وساتي چي د غم په چارو کي سړی لاندي کړي، دا دي نه دي اورېدلي؟ چي وايي (د کوژدې او واده مصرفونه د عثمان غني له خزانې دي) چي يوه پلا د ده د کوژدې قند راوړو بيا پاک الله مهربان دی ګوندي هر ډول لګښتونه يې پر ځای سو"

شېر د دې خبرو په اورېدو خورا سره غوړېده او تر نظر يې د ګلالۍ څېره کښته او پورته کېدله او د مور په تندي، د سندلي پر سر، د روپو په دسمال او د پلار په خيرنه پګړی کي يې د دې په زړه پوري سور بخونه ښه تر نظر لاندي کېده. او د ده د زړه ارمان دا و چي په هره توګه کېږي د ګلالۍ. ګلالۍ ښه بيا وګوري او که دا ممکنه نه وي نو لږ تر لږه هغه په بوغره کي ووينې. په دې وخت کي يې پلار يو لوی او ژور تېغ راوکيښ او سمدلاسه يې ورسره وويل:

"الحمدالله"

بيا يې په داسي حال کي چي د سندلي څخه ولاړېده وويل:

"دا متل مو نه دی اورېدلی چي وايي (د جنګ خبري خوږې وي خو ساعت يې تريخ دی) د ښځي فکر خو لنډ وي، دا څرنګه کېدای سي چي د زکات دشلو افغانيو لپاره تر دومره پورو څان



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

لاندي كړو، ته مو پرېږده ښځې چي خپله الله ياد كړم او ويده سم، كه مني نن مي زړه غواړي چي تر ناوخته كښېنم. ښه او غوړه ډوډۍ ربښتيا چي د سړي فكر اړوي، كه مو هره ورځ داسي ډوډۍ خوړلاى خداى خبر چي څه فكر به مو كاوه، ښه دى چي هره ورځ داسي ډوډۍ نه خورو او په ښو بنګلو كي نه اوسو هغه وخت به مو الله هېر واى او د خداى له عبادت څخه به پاته واى چي په دې صورت كي به د هغه جهان له ډېرو ښاديو څخه محروم واى"

ماينې ور ته وويل:

"جاى نماز مي تر شېر لاندي كړى دى، لمونځ دي پر پټو وكړه. هغه هم حلال او د لمانځه يې بولم. بل دا وايم چي سړيه! ځان به دوري-دوري نه كوې او د هلك پښه به تر غوړياسه كاږې! (*) چي زړه يې په كرار سي او موږ په خپل ژوند كي د ده واده ووينو او په خپل لاس د ده ناوي په ډولۍ كي راوړو".

د شېر پلار په داسي حال كي چي دواړه لاسونه يې غوړو ته وروړل او د لمانځه نيت يې تاړه، ور ته وويل:

"ښځې! دا خبري اوس پرېږده د هلك زړه مه په هوا كوه عجب ښه ويده دى".

"ادې جانې! هغو درو ښځو ته دي ولي خونه په كرايه ورنه كړه؟ ته يې پرېږده بابا اوس مه په عذابوه لمانځه ته يې پرېږده".

زويه! هغو له تا څخه ستركه وكړه (*) سپين سرې ښځې ويل چي لوني يې پېغلي دي او په داسي كور كي نه سي اوسېدلاى چي هلته زلميان وي. كه څه هم ما ستا له خوا ډاډ ګېرنه وركړه. خو بيا هم زړه يې ونه نيو. خو دومره يې له خبرو او بڼي څخه څرګندېده چي په دې برخه كي به سلا مشوره وكړي، كه يې خوښه سوه سبا به احوال را ته راوړي"



(WWW.KITABTOON.COM) كتابتون ټولنه

په دې وروستي خبره د شېر تندې وغوړېده او په سترګو کې يې د خوږو هيلو او اميد رڼا وځليده، او بې فکره يې وويل:

"ادې هغوى به خلک بربنبېدل، که چېرې بيا راغلل نو پر کرايه ډېرې چنې مه ورسره وهه".

مور يې په داسې حال کې چې د ده تر غاړې يې لاس تاو کړ، وويل:

"تر دا رونه او خوشحاله ږغ دې وګرځم، لکه چې د ګلالي، ګلالي بنې زړه درڅخه يووړ. زويه که رښتيا ووايم مور يې هم به درنه او ابداره ښځه ښکارېدله. که خداى او پيرانو وکړ چې بيا راغلل نو خورا به ښه سي. په خپله داڅو ورځې چې انګړ تش سوى دى يواځې يووالي خپه کړې يم او هيڅ ساعت مې نه تېرېږي. ګاونډيان ښه وي، د سړي ساعت ورسره تېروي، او کله – کله خو د سړي لاس هم په خلاص سي".

په دې وخت کې د شېر مور د روپو دسمال واخيست او ديوه لرګي په صندوق کې چې شين رنګول سوى و کښېښود او قلف يې کړ. د صندوق له مخې راولاړه سوه او يوه پلا بيا ورتېته سوه او قلف يې يوه پلا بيا کش کړ او په دې توګه يې يقين حاصل کړ چې هغه قلف دى.

د شېر پلار چې لمونځ خلاص کړ او دعا يې وکړه نو خپل پټو يې سوکه وڅاندې او شېر ته يې وويل:

"ته خو شکر دى زلمى يې بايد جومات ته د لمانځه لپاره تللى واى، د دې وخت لمونځ خو سره زر دي. که زلميان پر خپل لمانځه او اوداسه ټينګ وو، نو ومنه چې د هغه جهان حورې او غلمان به يې په نصيب سي او پاک الله به دوى ته جنتونه ورکړي".

ماينې يې خبره غوڅه کړه:



كتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

"اوس ناوخته ده، جومات ته نه سي تلای همدلته دي لمونځ وکړي، خدای دي رزق ورکړي..."

بیا شېر د خپل پلار پټو واخیست او پر هغه ځای پر لمانځه ودرېد چي پلار یې پر درېدلی و او خورا ژر – ژر یې لمونځ کاوه.

د شېر پلار په داسي حال کي چي د سندلي په پټه کي پرېووت او ځان یې دسندلي. په پټه کي سره ځای پر ځای کاوه، وویل:

"مېرمني! دا پټو بیا پر هلک سم واچوه او هم د سندلي د منځ ګډوه وګوره چي ډکه ده که یه، چي سهار اودسونه په وکړو. اوه خدایه دا دنیا خو مو له لاسه ووته او داسي ترخه راباندي تېره سوه چي خدای دي د چا پر دښمن هم داسي ترخه نه تېروي. اوس باید د دین رسی ټینګه کړو، ګوندي د هغه جهان له ښادیو او هوساییو څخه محروم نه سو".

ګهیخ له عادت سره سم زوی او پلار لمونځونه وکړل او هر یوه خپل - خپل پېټي راواخیست او د هغه واټ لوري ته روان سول چي تل هلته کښېناستل خپل - خپل شیان یې وغوړول. که څه هم شېر ته نزدي څوک لاروی نه تېرېده خو بیا هم شېر په یوه خوا ږه او له میني ډک بږغ ناره کړه:

"کشمش آو کشمش آو".

شېر چي له نزدي نل څخه د وڅکو په لوښو کي یو څه اوبه اچولې. په دې وخت کي یې له ځان سره چرت وواهه چي له دې واټ څخه بل ځای ته لاړ سي، په تېره هغې کوڅې ته ورسي چي د ګلالۍ کهول هلته اوسي. ده دمخه هم څو ځلي دا کوښښ کړی و چي د پلار له نږدېکته ځان وکاږي او په خپل سر په کوم بل ځای کي د وڅکو اوبه خرڅي کړي، خو هره پلا به یې پلار ورته ویلي وو چي همدلته اوسي او د ده تر سترګو لاندي په (کشمش آو) بوخت



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

اوسي. دا پلا یې لومړی لا خبره په زړه کې جوړه کړه او پلار ته ورغی:

"بابا! څه ضرور چي دلته د مېخ غوندي ناست یم؟ څمه کوم بل ځای به خپلې وڅکې خرڅوم، هر چېرې چي ښه وهلته به کښېنم".

پلار یې دی له دې کار څخه منع کړ او ورته یې وویل چي د ده له نظره لیرې ولاړ نه سي، خو شېر ورته ټینګ سو او ویې ویل:

"اوس خو کوچنی نه یم چي ته مي تل په نظر کي لرې، نه نجلی یم چي رابانـدي ډار پېرې پرې مي بږده چي خپله غریبي په ازاده توګه وکړم"

د دې وینا وروسته بې له دې چي د پلار ځواب ته منتظر سي او یا د هغه د رضایت د حصول لپاره نوره سعي وکړي د خپل سامان خواته ور روان سو. او د هغه په تولولو یې پیل وکړ پلار یې بیا دی په وچ زغ له دې کاره منع کړ او پتکه یې پرې وکړه. خو شېر د دې تولو په مقابل کي په ډېره سره سینه د شیانو په راغونډولو بوخت و. نږدې دکاندار د دوی په لانجه کي مداخله وکړه او شېر ته یې وویل:

"نه دي دي اورېدلي چي وایي (جنت د مور او د پلار تر پښو لاندي دی) ولي د خپل سپین ږیري پلار خبره نه منې؟"

شېر هغه دکاندار ته وویل چي:

"تل یې هلته مېخ غوندي کښېنولی یم. دلته دومره سودا نه کېږي. خو بیا هم دی ببرېږي چي بل ځای به تر ګاډي او یا موټر لاندي سم او یا به له چا سره جګړه وکړم"

د دې دلیل په اورېدو سره دکاندار په لوړ او د خواخوږۍ په زغ سپین ږیري ته وویل:



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

"پرېږده! هلک خپل سر ته پرېږده! چې يو څه زده کړي او په خپل مسوليت يوڅه وکړي. تر څو به دي په غېږ کې نيولی وي؟ سبا به ته څيني مړ يې اودا خوار به دي بې تجربې پرې ايښې وي".

په دې وينا دشېر پلار لږڅه غړند غوندې سو او په ارام غوندي بږغ يې وويل:

"بلا مې ورپسې هر چېري چي ځي. ولاړ دي شي خو دو مره دي وکړي چې له چا سره دي جنګ او شخړه نه کوي، چې والله که زما پلار بيا د ده د شخړي تر پور ووځي، نه ګورې چي پر مازي ښکنځلو باندي والله که سړی په دوه سوه افغاني خلاص سې. بيا په تېره موږ خوار او بېوزلي خلګ خو بيا والله که د لمر د سترګي ديد وکړو".

ددې وينا په تماملو يې بيا ورته وويل:

"هلکه ګوره! ژر بېرته راځه! يوه دوره وخوره او بېرته راسه، پر دغه ځای کښېنه.

نور څوک به دغه پيتاوي درڅخه ونسي، او بيا به ما او تا د تل لپاره سره بېل کړي".

شېر خپل شيان ژر په لاس او په تخرګ کي ونيول او دپل خشتي لوري ته روان سو. څرنګه چې له پلاره رانهام سو سمدلاسه يې خپل ګامونه پسې اوږده کړل او د شور بازار بري خواته داسي په بيړه درومي چي ته به وايې کوم خورا ضروري کار ورپېښ دی. او يقيناً هر چا که له ده څخه سودا غوښتې وای نو ده به ور کړې نه وای. د شور بازار په لوی واټ کي که څه هم خورا ډېر خلګ تګ او راتګ کوي خو دی داسي په مهارت او احتياط تر دوی اوړه تېره کړي چي ته به وايې په دې لار کي يې اوږد مشق کړی دی. شېر برابر د ګلالي په کوڅه راکښېووت. هغه



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

کوڅه داسي تنګه او داسي له ختو ډکه ده چي د درېدو ځای په کې نه سته، د اړولو ځای خو لا پرېږده.

یو کړی خو همداسي ودرېد خو ژر لار تلونکو پرې منت وکړ چي "لاره دي بنده کړې ده او باید کوم پراخ غونډي واټ ته ولاړ سي".

شېر په خوځېدو پیل وکړ، ځو ګامه چي ولاړ د ګلالی د کور ور یې له ستر ګو څخه نهام سو او بېر ته راوګرځېد. دی بیا د هغه وره له مخه تېر سو، خو ژر بیا تر داسي پېچومي راتېر سو چي هغه بیا د ګلالی د کور د وره ښکلې او خوږه منظره ترېنه پټه کړه.

دی یو ځو پلا په همدې ډول کښته پورته سو، خو هیڅ یې ونه لیدل. ده داهیله درلوده چي له هغه وره څخه یو څوک راووتونکی او یا په هغه څوک ننوتونکی به ووینې. په دې وخت کي یو بل په عمر پاخه غونډي سړي پر برغ کړه:

"هلکه دلته څه طواف کوې؟ کوم غرض خو ضروري لرې چي د کوځې په دې برخه کي کښته او پورته کېږې خدای خوار کړې داد (کشمش آو) د خرځولو ځای دی چي دلته ګرځې؟ زه چي له دې خوا تېرېدم هم مې ولیدلې چي پورته ولاړې او اوس چي بېرته راغلم هم دي وینم چي د کوځې په هماغه برخه کي سر ځوړ راروان یې د کوم کور د وهلو نیت خو نه لرې؟..."

شېر د دې وروستي تکي په اورېدلو لږ څه و وېرېده او هغه ته یې وویل:

"له غلا مي دي خدای وساتي، تا کوم خواریکښ سړی لیدلی دی چي غلا یې کړې ده؟. غلا خو تل هغه کوي چي خواري نه کاږي او د بل لاس ته ګوري او د نورو خلګو زیار تروښي (تښتوي).

ستر سړک دی له دې خایه به چېري ولاړ سم؟"



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

دوی په دې خبرو کې وو چې د ګلالی له کور څخه څوک راووت. دی چې ورته خیر سو نو له ورایه یې د ګلالی د مور بوغره وپېژنده او په زړه کې خورا خوشحاله سو چې لږ تر لږه د هغه کور څخه خو یو څوک راخر ګند سو او دا ثابته سوه چې دوی بل ځای ته نه دي کډه سوي. څو کوم وخت چې ور په زړه سوه چې د ګلالی موره له ده څخه ستر ګه کوي (*) او د ده له املـه د دوی د خوني له کرایه کولو څخه زړه وهـي، نـو و ودرېده او ژر یې شـا وروا ړوله او په چټکـي یې له هغه ځای څخه د لیري کېدو لپاره اوږده-اوږده ګامونه اخیستل شروع کړل. شبېر په یوه کړلیځ کې ودرېد او منتظر سو چې د ګلالی مور دمخه کړي او په خپله وړپسې سي. د شبېر زړه هغه وخت له خوښی څخه په ټال سو چې د ګلالی مور یې د خپل کور په لوري د تلو په حال کې ولیدله. د شبېر پښې هغه وخت مخکې ته نه ورتلې چې د ګلالی مور یې ولیده چې د دوی په کوڅه کې ور وګرځېده. په دې وخت کې شبېر هم خپل شیان له سر څخه راکښته کړل او پر خپل پخواني ځای یې کېښېښودل او پلار ته یې ور بږغ کړه چې دایم روغ رمی بېرته راغلم. ځیني ځایونه مې تر نظر لاندي کړل کوم وخت چې مي زړه وغواړي، هلته به کېښېنم.

د شبېر د (کـشمش آو) بږغ خورا تود په زړه پوري له میني ډک او اوچته دی. په یو څو دقیقو کې د کوچنیانو بندار پر جوړ سو او د راکړي ورکړي بازار یې تود سو. له دکاندار څخه یې د ساعت پوښتنه وکړه، هغه چې ورته وویل لسنیمي بجې دي نو د ده په زړه کې ورتېره سوه چې کاشکي دا یو نیم ساعت بل هم ژر تېر سي، چې خپلې مور ته ډوډی ور وړم. نن به ادي جاني ته توده ډوډی ور وړم، که یې مېلمنه درلوده. نو البته بله ډوډی به هم یو سم.



کتابتون پولنه (WWW.KITABTOON.COM)

په دې وخت کې یې پلار ور برغ کړل:

"دا دوه ساعته چې دې دورې را دوري ووهل نو څه دې ترې وایستل؟ زما په خیال خو دې خوسي په خوسي خپل وخت تېر کړی دی، بله ورځ عبث مه ګرځه، خواریکښ سړی یې باید خپله خواري وکاږي"

شېر وویل:

"څه چې مو په برخه وو، هغه را ورسېدل، دا نه ګورې چې ښې اډې مې تر نظر وایستلې، بله دا چې که هلته ورسم نو ګوندي سودا مې ښه وي، دا خو د یوې ګړۍ او د یوې ورځې کار نه دی"

د شېر سترګي توپ ټک ته څلور سوې، څو دقیقې لا پاته وې چې له پلار څخه یې یو څو ایکې واخیستلې او په ډوډۍ پسې لاړ. دی پوهېده چې د ګلالۍ مور هلته ناسته ده ځکه هغه دویم ځل په واټ کې د ده دمخه تېره نه سوه، خو بیا هم ځان یې ناګومانه واچاوه او یوه ډوډۍ یې ورووړه.

د انګړ ور خلاص و او شېر بې له کوم ځنډ څخه ورننووت، خو له ننوتلو سره سم یې برغ تر غوږ سو او یقین یې بشپړ سو چې د ګلالۍ مور دلته تر اوسه پوري ناسته ده. زړه یې په ډبهاري سو، ځان یې په خپل زاړه اوږده کوټ کې ښه ونغښت، پر مخ یې لاس راتېر کړ او غاړې یې تازه کړې، لومړی تر هغه چې په وره ورننووځي، مور ته یې ور برغ کړل:

"لکه چې کومه مېلمنه لرې مورې؟ ها دا ډوډۍ در واخله"

مور یې لومړی تر هغه چې د ده خواته ور ولاړه سي، د ګلالۍ مور ته یې وکتل او هغې ورته وویل:

"یه! خورې زه مخ نه ځني پټوم شل کرته دې راسي، د زوی پر ځای مې دی، که مې کشر زوی ژوندی وای تر ده به لوی و"



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

بیا یې مور ور بږغ کړه چې "راځه رانوځه څو ډوډۍ دي راوړې دي؟ نن خو مېلمنه هم لرم".

شېر په داسې حال کې چې هغه یوه ډوډۍ یې مور ته ورکړه بېرته بازار ته ولاړ، مور یې پسې بږغ کړه:

"چای او بوره خو شته، خو مېلمنې ته جلبی هم راوړه".

شېر په لنډه ګړۍ کې بېرته راغی او یوه ډوډۍ او جلبی یې مورته ورکړې، بیا یې د ګلالۍ مور ته وویل:

"ادې ستړې مشې! وبخښه زما خو لومړی پلا ستړې مشې له فکره ووتله او لږ څه وارخطا غوندي سوم"

"پر ځواني دي برکت سه، زویه الحمدالله ټول ښه یو"

شېر د خوني په کونج کې په دې هیله ځان د یوه شي په لټولو بوخت کړ چې ګوندي د کرایې په باره کې یو څه واوري، له نېکه مرغه په دې وخت کې د ګلالۍ مور د شېر مورته وویل:

"ستا ټبر خو مې خوښ دی، زه له هغو خلکو ډارېږم چې دا بله خونه به کرایه کړي، ګورو به چې هغوی لا څه ډول خلګ دي، ننني زمانه خو خورا خرابه ده، داځکه چې اخره زمانه ده، خلګ بلا اخیستي دي په یوه ګوله مړی او یوه زاړه کالي باندې ځانونه وژني، خپل شرافتونه خرڅوي، په هیڅ شي بند نه دي"

پر شېر باندې دا ټکي (ستا ټبر خو مې خوښ دی) داسې ښه ولګېدل لکه پر پرهار چې د ملهمو پندکی (پټۍ) کښېښېږدي.

د ده زړه له خوشحالۍ داسې په ټال کښېووت چې ده به ویل ستوني ته راغی. کوم وخت چې شېر تر وره ووت نو د ګلالۍ مور ته یې بږغ کړل:

"تورې د خدای په امان، زه نو بېرته خپل کار ته ځم. ځکه چې ټول لوښي او لرګي مې ایله پرې ایښي دي"

د ګلالۍ مور په خواږه او له مینې ډک بږغ ورته وویل:



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

"پر پاک الله مې سپارلې يې، زويه! خدای دې پر خواني نور برکتونه کښېږده، د نجونو دا کوڅه او دا خونه خوښه سوې ده، هيله ده چې ژر به راکړه سو. د ها بل کور خلګ هم خورا ښه او شريف خلګ دي، خو دومره ده چې کور يې نم ايستلی دی او هره ګړۍ د دې وېره ده چې راباندې ونه نړېږي، خو د کور ښځېنتن هم هر څومره چې ښځلې او منډې تړړي وهې خو يوه يې نه دوې کېږي. لاس يې په متې تر خولې رسېږي (*)، دومره نه سي سپمولای چې خپل کور په ودان کړي. په خپله دوی هم په دې فکر کې دي چې له هغه ځايه په بېړه ووځي. زموږ هم دا هڅه ده چې ژر تر ژره خپل غوږونه وباسو"

شېر پر دې و وېرېده چې کومه کريږه يې له ډېرې خوشحالۍ له خولې ونه وځي او په داسې حال کې چې خپله شمله يې په خوله بشپړه ننه ايستله، په بېړه د باندې راووت.

شېر دوې شپې او ورځې د ګلالۍ د کډې د راتلو په انتظار خورا نا ارامې، خو ډېرې خوندرې تېرې کړې او تر سترګو يې د ګلالۍ شنه خو زړه بوغره دورې رادورې تاوېده.

دريمه ورځ غرمې ته نږدې شېر دوه جواليان په کډه بار وليدل او درې بوغره کړې ښځې په پسې وې چې د هرې يوې تر بوغرې لاندې لوښي لرګي وو. دا منظره شېر ته دومره خوندوره او په زړه پورې وه چې نږدې و پر جواليانو ور غورځار سي، او له دوی څخه کالي واخلي او په خپله يې په شا کړي. خو ځان يې سره راټول کړ او د ګلالۍ د مور خواته ورغی او هغې ته يې وويل چې د خپل لاس لوښي او لرګي ده ته ورکړي. چې هغې هم بې له کوم مقاومت څخه د خپل لاس شيان چې يوه ګډوه او يو زوړ منګی او يو د سکرو منقل وو ده ته ورکړل. شېر په داسې حال کې چې دا



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

شیان یې په لاس کې نیولي وو، د پلار خواته ورغی او هغه ته یې په خورا خوږه او پسته ژبه وویل:

"باباجانه! دا دی چې د خوني لپاره د کرایه والا هم راغلل، دا شیان زه ورسره وړم، خو غرمه نږدې ده، د ادې د ډوډۍ لپاره پیسې راکړه چې پر دغه مخه ډوډۍ هم ور وړم، که دي خوښه وي درې ډوډۍ به دغو نورو مېلمنو ته رانیسم".

پلار یې ورته ووېل:

"خو به یې ورته رانیسې، ځکه چې دوی خو نن مېلمانه دي او تولـه ورځ خواران په کډه کولو او بیا په کور او پلو (تنظیمولو) بوخت وو، او وي به"

شېر د پلار له لاس څخه د ډوډۍ پیسې په مینه واخیستلې او په بیړه د کور پلو ته روان سو.

د ګلالۍ تېره هلته په متې رسېدلې وه، چې دی هم پسې ورغی، ده له دې نوي کاله سره د کالیو په ننه ایستلو کې برخه واخستله. دا کار یې په خورا مینه او محبوبیت وکړ، د ده چې به هره پلا پر ګلالۍ سترګي ونښتې نو تک سور به واوښت. وروسته له دې په ډوډۍ پسې ولاړ، لومړی تر هغه چې په ډوډۍ پسې ولاړ سي مور ته یې ووېل:

"د دې مېلمنو د ډوډۍ لپاره هم پلار پیسې راکړې دي، ته چای وربخوه زه به ډوډۍ راوړم"

مور یې لږ څه سوکه وره ووېل:

"ښه به وي که دي توده ډوډۍ راوړه".

د شېر پښې له خوشحالۍ مځکې ته نه ورتلې او په خورا مینه د وڅکو او د هغو د اوبو په خرڅولو بوخت دی، ده ژوند هیڅکله دومره په زړه پوري او خوږ احساس کړی نه و.

♣♣♣



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

## څلورمه څپرکی

د حمل میاشت راغله او د وښکو د اوبو خوړونکي ورخ په ورځ ډېرېدې او د ښار د ګټې وضعیت پسې ښه کېږي، خو ورسره ورسره د دوی د کاله خرڅ هم یو څه اضافه کېږي، اوس هره دریمه ورځ کټو باندې کوي. په دې موده کې د ګلالۍ د تېر سام هم واخیست سوو او په کور کې یې اړخ ولګېده. د ګلالۍ مور چې د ښار درانه وضعیت او ښه خوی ته ګوري په دې خورا خوشحاله کېږي چې دلته راغلل.

ګلالۍ هم د ښار په نسبت په زړه کې د یوې تودې مینې احساس کوي او هره پلا چې هغهویني، مخ یې سور واوړي، او په رګو کې یې د وینې جریان خورا چټک سي. اوس ښار د ګلالۍ په نسبت خپله مینه نه سي پټولای او هر خل چې یې ویني په ځان کي یو ډول بېساري بې کراري احساسوي.

اوس خو ګلالۍ هم مخ نه پټوي او کله-کله چې ښار غرمه مور ته ډوډۍ ور وړي، د دوی تر منځ د کتلو خوږه مرکه هم توده سي او په دې توګه یو بل ته په سترګو کي د زړه خواله کوي.

یوه ورځ ښاپېرۍ مور ته وویل:

"ادې جانې! کوم وخت چې ګلالۍ ښار وویني نو ښه یې خورا سره واوړي او سترګي یې غتي راوخېژي".

"خوله دي و نیسه مرداري سپین کالي مه چټلوه پر خپلې مشرې خور داسي تهمتونه مه وایه، بل چېرې دا خبره ونه کړې پر نه څه به مو کالي په عالم کي وکاږي (*)".



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ښاپېرۍ د مور په دې وینا سر کښته واچاوه او وشرمېده. شپې او ورځې تېرېدلې، د شېر ژوند داسې خوږ او ښکلی و لکه ګل چې غوړېدلی وي.

د ګلالۍ مور د (مدیراغا) کره کار مونده کړ، او له سهاره څخه تر ماښام پورې به یې هلته کار کاوه. په دې کور کې د دې وظیفه د ولاړې کار و. کله به یې د اشپز تر لاس لاندې کار کاوه او کله - کله به یې د بیبیانو خونې جارو کولې، په دې کور کې درې نورې (ابۍ) هم ستة چې هره یوه ځان ته کار او وظیفه لري. هره ابۍ د یوې بي بي د خونې موظفه ده چې هغه جارو کوي او سنبالوي یې.

(مدیراغا) په دې وختو کې صرف درې مایني لري، دوې سوریتانې (یو ډول مینځې) هم لري، څکه چې د دوی حویلۍ لویه ده او خورا ډېرې خونې هر لوري ته لري، نو د ډېرو خلکو شور ماشور هلته دومره نه احساسېږي همدا ابیانې (یعنې ښځې چوپړې) دي چې له اشپز خانې څخه خپلو بیبیانو ته ډوډۍ ور وړي او له چای خانې څخه چای ور وړي.

د ګلالۍ د مور غیاب شېر او ګلالۍ ته نوره هم موقع ور کړه چې خپل د مینې ډک احساسات یو د بل په مقابل کې څرګند کړي، یو پر بل باندې د دوی ګرانښت نوره وده هم وکړه، او په لږه موده کې دې حد ته ورسېد چې دوی یو د بل له وجود څخه پر ته ژوند هیڅ او په دوې پیسې باله. بېلتون که څه هم د څو ساعتو لپاره و، خو دوی ته ګران و.

د ګلالۍ مور به هر ماښام ناوخته راتله او په یوه زوره کاسه کې به یې ژړې سپینې وریجې سره ګډې کړې وې، یعنې چلو او پلو به یې یو ځای سره اچولي و، او هر ډول سالن به یې لکه سابه، غوښې د هغو وریجو پر سر اچولي و. او له ځان سره به یې راوړه.



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

د تیکري په پلو پوري به یې چای او بوره هم غوټه کړي وو، او کله- کله به یې کومه دانه مالټه یا سنتره چې له ورځې به یې لا ساتلې وه راوړه او خپلو لوڼو ته به یې ورجلا کړه. دې وریجو او غوښو به پر دوی ډېری هم کاوه او هغه به یې سره یو ځای کړې او بیا به یې پر نزدې هوټلي خرڅولې.

له دې پلوه هم دې د میاشتي (۷-۸) افغاني لاس ته ور وړې.

د دې تنخوا شپږ افغاني وه، د ګلالی مور چې به سهار د لمانځه پر وخت ورغله نو د ماخستن پر اذان به راتله یعني تقریباً (۱۵-۱۶) ساعته کار یې کاوه، خو بیا هم په متې دې دوو لوڼو ته کالي کولي سوای او کرایه یې ور کولای سوای.

یوه شپه چې د ګلالی مور لږ څه وختي راغله او د شپږ مور ولیدله، نو د شپږ مور ورته وویل:

"خوار کی، دومره څغلې او ستړیاوي پر خان ګالې او له کوره هم تر ډېره وخته ورکه یې زه به یو چل دروښیم هغه دا چې د (مدیراغا) نوکري خوشې کړه او په کاروان سرایو کې د مسافرانو کالي راوړه، مینځه یې، هم به دې ګټه ښه سي او هم به لږه هوسا یې، د خلکو منتونه به درباندې لږ وي. زه چې یو څه په قوت کې وم دغه کار مې کاوه خو چې له لاس او پښو ولوېدم، نو شپږ هم رالوی سو او زما پر ځای اوس دی د وڅکو د اوبو د خرڅولو په اثر هغومره پیسې راوړي چې ما ګټلې. خورې! نارینه بیا ښه دي هر کار کولای سي خو د ښځو دې خوله وچه سي، پټې سترګې دي او هیڅ لاس او پښه یې نه ښوري. خلک ښه وایې چې ښځه پاک الله ناقص العقله پیدا کړې ده. که داسې نه وای نو دوی به هم خپل ځان په خپله چلولای سوای".

د ګلالی مور سمدلاسه ور غبرګه کړه:



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

"خوري! ته وايې هغه کارونه مي نه دي کړي؟ په دې کار يعني د کاليو په مينځلو خو مي دلاس ټول نوکان بايلودل، خو بيا هم موړ او وچه ډوډۍ نه سره رسېدلو. له کومه وخته چي مېړه مي د ښکاري درې په کار کي تر کاڼي لاندي او مړ سو، نو ما د خلګو د کاليو مينځلو ته لاس ورته کړ، دا څلور پنځه کاله کېږي چي په دې کار بوخته وم، خو که رښتيا در ته ووايم په هيڅ کار کي خبر نه شته او هر لوري ته چي مخه کړم هغه راباندي وتړل سي او يا دومره ترېنه راځي چي نه مرم او نه پايم. بخت مي خراب دی، سره زر مي په لاس کي توري خاوري سي، په اصل کي که رښتيا در ته ووايم خوري! ورکړه د خدای ده. ځيني خلګ وينو چي نه يې لاس خوار دی او نه يې پښه خواره ده، خو بيا هم له خوبه خوري او له خوبه څښي، ټکه يواځي پر موږ خوارانو لوېدلې ده، زه چي ګورم ټول خواران او چوپړ وهونکي د خدای په قهر اخته دي، يوه يې نه دوې کېږي. دا خواري لا څه کوې؟ ميراث خواره مي هم لا نه پسې پرېږدي، تل ځي او راځي او وايي چي زه دالوني په خپل سر ور نه کړم او د هغو ولور په خپله ونه خورم. کله وايې چي دا انجوني در څخه بيايو او په جنوبي کي يې خرڅوو او يا يې ازاد سرحد ته ور ولو او پنځه غرانه په جوړو... وی خوري! يوه خواري او يو غم خو نه دي چي زه يې در ته وژاړم... د مديراغا د کور کار يوه ښېګنه لري هغه دا چي لوڼي مي په نس مړې دي. ميراث خواره هم ډېر برېښ راباندي نه سي کولای ځکه له مديراغا څخه ډار بېږي..."

په دې وخت کي شېر مور ته ور بغ کړل چي بابا دې بولي او په دې توګه يې د دوی د زړه خواله وشلول.

د شېر پلار ماينې ته لږ څه په کلک بغ وويل:



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

"نه ګوري چې سپين غاړه راپوري ده (*) سپږه مې او ستوني مې وچ-وچ کېږي او پرله سوځي. ما غوښتل چې لږ څه خنده (تينګ) چاى او ګوړه سره را واپښوې او خوله مې کړې، خو ته ولاړې له نورو سره (بابولالي) وايې!"

د شېر مور په داسي بڼ کي چي د خان ملامتي يې په کې څر ګندوله وويل:

"وى سړيه! ما چي ويل چي يواځي پر موږ تياره ده. تياره خو پر ټول جهان غوړېدلې ده. د دې کونډې د نکل يوه برخه مې واورېده ته ومنه لکه پر زړه چي مي ايرې را اوښتې وي. خداى دي د غي خوار کي ته هم د هغه جهان عوضونه ور کړي، رښتيا چي په کور کي نارينه لکه رڼا داسي دي. که نارينه نه وي نو ښځي دي هم خداى مه لري. که يې د دې دوو لوڼو پر ځاى يو زوى واى نو دا خوار کى به ولي داسي ورته پڅه (*) واى او ولي به يې په دا سپين سر دومره منډې ترړې وهلاى".

"پرېږده ښځې! خپل غمونه دي لږ دي چي د نورو دا هم دلته راوړې. دا لايقه تر موږ ډېره ښه ده. دوې لوڼي يې دي. سبا به مېړونه وکړي او يوه لمن روپۍ به دې ته هم ور کړي چي ژوند به يې په ښه سي. غم خو زموږ دى چي لوى ميندہ (اينده) راته ناست دى او واده غواړي. نو واده خو داسي مفته خبره نه ده د سړي ملا ماتوي، ملا. ولورونه هغه دي اسمان ته وختل اسمان ته!"

مېړه او ماينې دا خبري په داسي حال کي سره کولې چي د شېر پلار چايو ته منتظر و او د شېر مور يو څه تور مرچ پر ډېره باندي وړول چي هغه له ګوړې سره په چايو کي د شېر پلار ته ور کړي. او بيايې دروند پټ کړي. په دې وخت کي شېر په تلتک کي سر ونغښت او غوښتل يې چي د خپلي کوژدې په خصوص



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

کې نور څه واوري. ده د همدې مطلب لپاره ځان په خوب واچاوه او يو څه د درواغو خرهارۍ يې هم جوړې کړې.

مور يې ورو له ځان سره وويل:

"مور دې بلا واخلي! تولـه ورځ پـه کوڅـو کـې ځغلي او را ځغلي ستړی سې ماښام چې کور تـه راسي سمدلاسـه يـې خرهارۍ سي او ويده سي". د شېر مور کـه څـه هم د (۵۵) کلـو پـه شاوخوا کې ده خو بيا هم تکړه ده، او د خپل زوی او مېره او د کور نور کارونه په خورا مينه سره کوي.

دې د شېر پر پښو باندې د شېر زوړ د بر کې اوږد کوټ ور واچاوه او په دې وخت ي يې وويل:

"مور دې تر تا جار سي، کـه څـه هم پسرلی دی او ساړه نـه شته خو دسهار خواته د سړي ساړه کېږي. خدای مې دې خپل زويک له هرې بلا څخه وژغوري".

بيا د مېړه خواتـه ورغلـه او پـر هغـه يـې تلتک سم کړ او لېږه ګړۍ وروستـه يـې چای، ګوړه او تور مرچ وروړل او تر سر ورتـه کښېناستله. چای پـه يـوه توره پيتلي چای جوشـه کـې اېشول سوی دی او پـه يـوه شنه غورېږ پيالـه کـې يـې ګـوړه او تـور مـرچ ګـډوډ واچول او بيا يې چای پر واچاوه. بيايې مېړه ته وويل:

تا خو به واسکټ هم کيښ، خوله به دې په عذاب کړي.

ها ونيسه! تـود- تـود يـې غوړپ کړه، او ورم يې سپيړمو تـه ونيسه چې هغـه خلاصي کړي، کـه دې مازې خولـه وکړه خدای بـه دې کلک راجوړ کړي، کوم وخت چې راجوړ سې نو يوه دوې دوړې به خبراتوم".

د شېر پلار پـه داسې حال کې چې پر سر يې تلتک راخوړنـد کړی و، چـای ژر- ژر غوړپـاوه او دوه درې غوړپـه وروستـه بـه يـې ساه وکښله چې "آه" بـه يـې د ده مـاينې پـه څرګند ډول واورېده. پـه



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

دې وخت کې د شېر مور يقين حاصل کړ چې شېر ويده دی، بيايې د شېر پلار ته ووېل:

"آسرېه! که يوه خبره در ته وکړم په قار کېږې خو به نه؟"

ده په داسې حال کې چې ساه يې کښله ورته ووېل:

"بيا دې څه نوې راوړې ده؟ لنډه به يې راته کوې!"

دې ورته ووېل:

"ګلالی - دا زموږ د ګاونډي لور پر شېر خورا ګرانه ده او داسې ځرګندېږي چې نجلی هم زړه پر بايللی دی، که دې خوښه وي نو..."

د شېر پلار يې خبره غوږ کړه او ورته ويې ويل:

"ښه - ښه دا څو وخته چې هلک سر اخيستی دی او پر هر شي باندې سور او شين کېږي سبب يې دا دی؟ د ګټې يې هم خوند نه شته زما په خيال هر څه چې مونده کړې يوه برخه يې همدغه کونډه مرداره ځني اخلي.

"دا مه وايه غاړې به دې بندې سي! کونډه خوار کې والله که په خبره لا وي. که هغه په خبره سي نو زړه دا راته وايي چې کډه به وکړي او ژر به لور بل ځای ورکړي، که داسې وسي نو ومنه چې هلک به مو له لاسه ووځي، او ټوله ورځ او شپه به دوري ورک وي، که دې خوښه وي..."

د شېر پلار په داسې حال کې چې هغه پياله چای يې خلاص کړ او پياله يې نورو چايو ته له ځان څخه ارته کښېښودله، ووېل:

"ښځې په پرديو غنو مو مه اخته کوه! کوم وخت چې خدای يو څو روپۍ راکړي، نو به په يو ښه د آب په کور کې خپلوي وکړو او..."

د شېر مور يې خبره غوږ کړه:



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

"دا ډېره د آب ښځه ده، ټولي خواري او تکليفونه يې پر خان ګاللي دي، خو لوني يې ډېري ښې په آب کې ساتلې دي، څوک داسې کولای سي؟. بله خبره دا ده چې دا کونډه به دومره شي هم له موږ ونه غواړي څکه چې شېر په خپله پر کونډي هم ګران دی او تل ښه خوله ځني وهي (*)، نو زه خو وايم چې همدا يې ځای او وخت دی او..."

او... څه ولور به له کومه ور کوو؟"

"ما خو پخوا لا در ته ويلي وو چې ولور (د عثمان غني رض) له کوره دی دسمال به ځني واخلو بيا پاک الله مهربان دی. له يوه لوري به يې چاره وسي، دا کونډه ډېر ولور نه غواړي او نه ډېري ډمامې جوړېږل (*) غواړي، خو بايد يو څه تلوار...."

"د څه شي تلوار؟... ګوره ښځې! عجب په دې خپل کور کې بې غمه پراته يو، دا خپله ښه ورځ او هوسايي وسهه (وزغمه)، زه پر دې ډارېږم چې دا کار و کړو، نو والله د سر غوږونه خو به مو لا په کې ولاړ سي، دا کور به ګرو سوی وي، او موږ به په يوه در او په بل در وځو او ننوځو، د عمر دا وروستي شپې او ورځي ترخې مه راباندي تېروه، ښځې!"

کوم وخت چې يې دا خبره خلاصوله، نو يې چای هم بس کړ او سر يې په تلتک کې کلک ونغښت او په زوره يې له خان سره وويل:

"شکر دی خدايه شکر! چې په دين د اسلام يو د دې جهان له نعمتو خو محروم يو، خدايه ته مهربان شې، د هغه جهان خواره راکړې، ايمان ته مو دي خدای خير کړي".

د شېر مور لازمه ونه بلله چې په دې برخه کې نوره ورسره وږغېږي او خبره يې په همدې ځای کې بل وخت ته پرېښودله.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

شېر د دوی دا خبري په خورا خوند اورېدلې او د خپل تلتک د سر خندوېيې لږ څه پورته کړې وه چې د دوی ږغ ښه واوري.

دوې درې شپې وروسته شېر وخت وموند چې له ګلالۍ سره مفصل وګوري. هغسي خو شېر او ګلالۍ هره ورځ سره ليدل. خو خبري به يې نه سره کولې. دا صرف د ماخستن د اوداسه وخت و چې دوی به په کوچني انګړ کې ځانونه په اوداسه بوخت کړل او ورو-ورو به سره ګډېدل. دا خبري به يې هم کله-کله کولې، نه هره ورځ. خو وروسته بيا د دوی روابطو دومره وده وکړه چې دوی به د شپې په زړه کې پر بام د سپوږمۍ په رڼا کې سره کتل او ږغېدل. په يوه دغسي ملاقات کې شېر ګلالۍ ته د خپل مور او پلار خبري وکړې او ورته ويې ويل:

"زما مور زما او ستا پر خوا ده. هغه بله شپه يې کوښښ کاوه چې په يوه توګه يا په بله توګه بابا قانع کړي چې زما او ستا کوژده او واده سره وسي. خو پلار مي صرف له دې څخه ستړګه کوي (*) چې د ولور او د واده مصارف نه سي ور کولای".

ګلالۍ په مينه ورته وويل:

"که مي رښتيا پوښتې! زما مور او ښاپېرۍ خور مي هم په دې برخه کي ها بله ورځ سره ږغېدلې.

زما مور د ولور او مصارفو په غم نه ده وېشتلې هغه بيا د ميراث خورو له خوا اومرې ده. دې وويل چې که مور دا دوستي او خپلوي سره وکړو هم او زه کوم ولور او دروند مصرف ونه غواړم خو ميراث خواره چې خبر سي. دغسي مطالبه به وکړي او بېرېږم چې دوی به په عذاب کړي.

په دې حال کي شېر د ګلالۍ تر غاړې لاس تاو کړ او د هغې پر تودو او اېشېدونکو نريو شونډو يې خپلې شونډې کښېښودلې،



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

او د زړه له کومي يې داسي مچه څنې واخيستله چې تقريباً څلور دقيقې يې دوام وکړ. بيا شېر په داسي حال کي چې پر خپلو سونډو يې په خوند ژبه راتېروله ورته وويل:

"زما د زړه ټوټې! داسي فکر کوم چي زما او ستا د نېکبختۍ او نېکمرغۍ لمر به ژر راوخېژي، ګوندي دواړه د يوه بنه او خوارږ ژوند څښتنان سو، او خپل عمر د يوه او بل په غېږ کي په خوند تېر کړو.

ګلالۍ! که مي رښتيا پوښتې، اوس زما ژوند ټول ستا په لاس او زړه کي دی. کله – کله چي يې زه په زړه کي راتېره کړم او له خان سره ووايم چي که ګلالۍ خدای دي نه کړي. نه وي نو زه به څه کوم؟.

ته اې زما زړه او مينې! ومنه چي ټول غړي مي غړند (سست) سي او زړه مي ډوب سي. د ولور د ادا کولو پروانه کوم دا کار ماته اسان دی".

د ګلالۍ په ټول صورت کي د هيلو او د اميدونو څپو څرېکي ووهلې او ښوا که يې خپله خوله د ده د خولي خواته ورهسکه کړه او شېر بيا د دې سر په خپل ټټر پوري ټينګ ونيو او په خورا مينه او جوش يې خوله پر خوله ور کښېښودله. دې خولي ايښودلو هم تر درو دقيقو ډېر دوام وکړ، کوم وخت چي دوی خپلې شونډي په ډېر تکليف سره بېلولې نو ګلالۍ په داسي حال کي چي دواړه لاسونه يې د شېر په غاړه کي ور اچولي وو. ورته وويل:

"ته به نو د ميراث خورو ظالمانو په خوله کي څرنګه د ولور زهر ور واچوې؟ او د دوی خولې به څرنګه پټې کړې؟"

شېر په مينه ورته وويل:



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

"دا کار ماته څکه اسان دی چې زه کولای سم خان د یو چا په عوض په عسکری کې څېره کړم او دوه درې زره افغانی واخلم دوه کاله به نوکري وکړم وروسته له هغه به مې بیا ګوندي ستا د غېږي خوند او خوږوالی په برخه سي.

ګلالی جاني! زه ستا د ګټلو لپاره هر څه ته حاضر یم او هر بار په هوسایۍ ورلای شم"

ګلالی د دې خبري په اورېدو خان بېخي د ده او دی د خان وګاڼه. دې خبري ګلالی دومره خوشحاله کړه چې له ډېري خوشحالی یې ستوني پرله کښېناست او بې له دې چې څه ووایې خان یې د ده په غېږ کې واچاوه.

شېر دا په غېږ کې راواخیستله او بیا په داسي حال کې چې دواړه لاسونه یې تر لاندي کړي وو، او ګلالی د ده پر لاسو اوږده-اوږده پرته او پښې یې کښته ځړېدلې په تنګو زینو کې په احتیاط راکښته سو. ګلالی په خورا احتیاط خپلې پښې پر مځکه کښېښودلې او بیا د ګوتو په سرو باندي په خونه ورننوتله او سانیولې په خپل ځای کې پریوته.

اوس شېر پر خان بنه ګرځي (*) تل یې له مور او پلار سره په دې دعوه وي چې ولې ده ته نوي کالي نه کوي. دی له پینه سویو کالیو څخه بد وړي.

ګلالی ته هم کله-کله بنه-بنه سوغاتونه لکه عطر، ګوتمي، دسمال او نور راوړي.

شېر اکثره وخت د کابل د ولایت د احصایې له مخه ناست وي او هلته هم د وڅکو او به خرڅوي او په عین حال کې جلبیان ګوري او د هغو دعوضو د څېره کېدو په برخه کې معلومات کوي. نور خلګ هم د احصایې د مدیریت له مخه د کابل د ولایت دېوال ته شا وهلي ناست وي او هر څوک یې پېژني چې داد عوض کېدو



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

لپاره ناسته دي. يوه ورخ يوه سپين کالي سړي چې شنه پښوري لنګۍ يې پر يوه زرينه کندهارۍ خولۍ تړلې وه ورته وويل:

"هلکه! ته دلته څه کوې؟

ته (کشمش آو) خرڅوې او که دې خان عوض کېدو ته چمتو کړی دی؟ که عوض کېږې خو راته ووايه چې زه دې دخپل بادار د زوی پرځای سمدلاسه څېره کړم او خپل حق دې درکړم. اوکه نه وي، نو د وڅکو اوبه دې داسې ځای ته يوسه چې هلته واړه ماسو مان ډير وي او يو څه ترينه بيل کړي"

شېر خپلې غاړې تازه او پر پزه يې دلاس دوې ګوتې تېرې کړې او ويې ويل:

"که رښتيا درته ووايم دواړه کوم. که چېرې بنه ونه (*) رامونده سي نو ولې يې نه کوم. د همدې کار لپاره دلته راغلم، که نه وي زه هم پوهېږم چې د وڅکو د اوبو اخيستونکي واړه ماشومان دي".

"نو راځه، چې هتې ته لاړ سو او هلته خبرې سره وکړو".

شېر سمدلاسه خپل لوښي او لرګي سره راټول کړل او په هغه سړي پسې رهي سو.

پر لارې شېر ورته وويل:

"ته مې دخان عوضي کوې؟"

"يه، زه دي بيايم چې زماله باداره سره خبرې وکړې! هغه غواړي چې دخپل کشر ورور عوضي دې کړي. زمابادار به اوس ته وويني، خورا بنه سړی دی، لويه هتې لري، درې حجه يې کړي دي په دې خوانۍ کې خوار خدای دوسته سړی دی".

دوی د کابل د سينما خوا ته رهي دي، ژر مطلوبي هتۍ ته راورسېدل. ده خپل لوښي او لرګي يوې خوا ته خوندي کړل او په



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

خپله په داسي حال کي چي د خپل زاړه لوی کوټ په تنیو یې ګوتې وهلې په شین پګړي سړي پسې د ننه په هتي کي روان دي.

د ده نظر ژر پر یوه خورا پړسېدلي خو زلمي سړي باندي ولګېد چي پر یوه لوړ کوچني تخت باندي چي په غالیو پوښلی دی ناست دی، مخ ته یې یوه کوچنی تجری پرته ده او شا پلو ته یې یوه لویه تجری چي پر وره یې په زرینو تورو (الله-محمد) لیکلي دي پرته ده.

شین پګړی سړی چي اوس څرګنده سوه چي د دې هتي والانو کر دی، لږ څه ټیټ غوندي سو او په داسي حال کي چي دواړه لاسونه یې پرله مېبل او سترګي یې د خپل بادار په تندي کي ښخې کړې وویل:

"دا دی صاحبه! را مي ووست"

هغه سړي په ډېر بېغ ورته وویل:

"پوښتنه دي څني کړې ده چي د کوم ځای دی؟ ضامن راکولای سي که یه؟ څو غواړي؟.

خپل خپلوان لري که یه؟

یا صاحبه! د دې شیانو پوښتنه مي نه ده څني کړې، له بڼي څخه ښه هلک برېښي. له کالیو څخه یې څرګندېږي چي په خپله د دې کابل دی".

"بلا دي ووهه! لکه غوبي غوندي یې تا خو به خبره پخوله، بیا به دي را ووست. ور سه اوس هلته ورسره کښېنه دا پوښتني څني وکړه بیا یې راوله، په تېره د وندې (*) په خصوص کي ښه او مفصل ورسره وګړېږه، که کوم مشر لري هغه دي راولي له هغه سره هم خبري وکړه".

شین پګړی او شېر بېر ته د هتي د وره خواته راغلل او یوې خواته سره ودرېدل. د شېر په زړه کي کر که پیدا سوه او د دې



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

سړي مخ او د خبرو طرز يې خوښ نه سو ځکه چې د هغه خوی ژېړ ورته وبرېښېده.

شين پګړي ورته وويل:

"حاجي صاحب په خوله لږ څه زيږ معلومېږي خو ته ومنه چې د سړي ورسره معامله سي، بيا خورا خوږ او زړه سوانده دی. ښه اوس نو ته ووايه چې کور دي چېري دی؟، ضامن ورکولای سې؟ ته خبري کوې او که بل څوک مشر لرې؟ څومره ونډه غواړې؟ د دې پوښتنو ځوابونه نن راکوې او که کومه بله ورځ راځې".

شېر په غړند او بې ميني غوندي بږغ ورته وويل:

"پلار لرم، کور مې په همدې کابل کې دی، زه ډېر څه نه غواړم څه چې رواج وي، هغومره دې راکړي. د نوکري حال او خواريو ته دې هم وګوري. دا خو ځرګنده خبره ده چې نوکري هم پر څو ډوله ده. که يې په قطعه کې څېره کړم نو درې زره افغاني غواړم او که په ژاندار کې يې څېره کړم نو (۱۵۰۰) افغاني غواړم دا په تاسي پوري اړه لري. که مو وس رسېږي او ما اطرافو ته په پوليسو کې لېږلای شئ نو البته دا وروستی مبلغ به راکوئ. که مو وس نه رسېږي او کومه واسطه نه لرئ. نو هم پروانه لري. يو څو روپۍ به مو ډېري ولاړې سي. يعني بيا نو درې زره يا دوه نيم زره افغاني غواړم. دا څه چې ما درته وويل دا عمومي رواج دی. زه له ځانه څه نه وايم".

بيا سپين پګړي شېر ته وويل چې "ته همدلته ودرېږه او زه به ستا خبري ټولي حاجي صاحب ته وکړم، او نتيجه به يې درته ووايم" په دې وخت کې شېر خپل لوښي او لرګي چې د يوه مېز لاندي په هټۍ کې ايښودل سوي وو راکښل شروع کړل او داسي يې ځرګندوله چې ګواکي په دې معالمه کې ډېر علاقمند نه دی.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

حاجي صاحب وروسته له هغه چې د شين پګړي خبري واورېدلې وويل:

"پروني سړي څو غوښتي؟"

"هغه ويل چې زه بې له اطرافو بل ځای ته نه سم تلای.

که مې په علاقداری کې څېره کوئ نو صرف يو زر افغانۍ د دوو کلو لپاره او که په حکومت کې سوم نو يو زر دوه سوه ۱۲۰۰ افغانۍ غواړم. په قطعه کې خو بېخي نوکري نه کوم. په ژاندارم کې که يې د پوليسو ځانګي ته ورکړم، نو البته يو نيم زر افغانۍ راکړئ.

حاجي صاحب لږ څه په کلک بږغ وويل:

"د هغه سړي غوښتني بدي نه دي. تا ولي له هغه سره پرېکړه ونه کړه؟. قومندان صاحب خو نن لا دلته په هټۍ کې و، که تا را په ياد کړې وای ما به ورته ويلي وای. هغه خوار خو زموږ او ستاسي له خبري څخه نه اوري. خدای دي يې درجې نوري هم لوړي کړي ډېر شريف او لحاظ والا سړی دی. ته دغه هلک ته ووايه چې که هغه څه غواړي چې پروني سړي غوښتل نو يو ليک ور څخه واخله او په پوليسو کي يې څېره کړه".

"صاحبه! د پروني سړي خو نن وعده وه، خو تر اوسه پوري رانغی، له دې څخه ځرګندېږي چې هغه پر خپلو غوښتنو پښېمانه دی".

"څه ورک سه له خانه مه ګرځېږه، هغه څه چې ما درته وويل هغه دغه هلک ته ووايه. وګوره چې څه وايي؟.

په دې حساب به پنځه شپږ سوه افغانۍ په کال کې ونډه له موږه اخلي او څه چې يې اضافه (پيدا) کوله هغه به هم د ده وي. خلک به دې (بدې) ورکوي، چې ځان وړيا په داسي ځانګو کې



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ځېره کړي. موږ خو لا ده ته دا يوه لمن روپۍ هم ورکوو بايد سر پرمات کړي".

شېر چې د شين پګړي خبري واورېدلې، سمدلاسه يې ورت وويل:

"دا چې دا کار په غاړه اخلي زما خوښه ده، زه به ورسم پلار به مي هم راولم او سبا دا وخت به موږ او تاسي په دې برخه کي يو ليک هم لاسليک کړو".

شېر په منډه خپل لوښي او لرګي راواخيستل او د کور پر لور رارهي سو. پر لسو بجو دی لومړی خپل پلار ته ورغی او هغه ته يې په خورا مينه او آب وتاب دا خپل تکل وکړ او ورته ويې ويل:

"که خدای راباندي مهربانه سو او اطرافو ته يې ولېږلم، ته ومنه چي دومره څه به درته راوړم چي ټول عمر به بې غمه ناست يې او خپل لمونځ او اودس به بې غمه کوې، ټول کور به يې له خوبه خوري او له خوبه به يې څښتي، والله که يې په دې مات او ګوډ کار سر سره ورولې، زه چي په ښه او بد پوهېدلی يم ما ښه ورځ نه ده ليدلې او تل د نيستي په اور کي ورتېرېږم، اخر خو موږ هم د پاک الله بندګان يو، زړه مي دا راته وايي چي په دې کار کي به ښه دروند شی لاس ته راسي. له حاجي صاحب سره مي قول کړی دی چي سبا تا هم ورولم او دا خبره به سره غوټه کړو".

پلار يې په داسي حال کي چي دروشه (نيره) يې پر يوه تور کاني تېره کوله او دواړي ستر ګي يې په کاني کي ښخي کړې وې، په ترېو تندي ورته وويل:

"اوس نو ښه سوه، دنيا خو مي خواره سوه او ټول عمر داسي تريخ راباندي تېر سو چي خدای دي د چا پر دښمن هم نه تېروي، اوس غواړې چي اخرت مي هم راخراب کړې او په هغه جهان تور



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

مخ له قبره را اوچت شم. یه زویه! داسي مه کوه له دې خبرو تېر سه. الله ته صبر وکړه، د صبر برخه خوږه او درنه وي، داد ظلم او زور له کارو څخه لاس واخله. خپله نیمه ګوله خوره او د خدای ثنا وایه! ماویل چي ته رالوی سې ګونډي اوږه مي درباندي سپکه سي، خو داسي څرګندېږي چي خواریو ته ځان نه سې نیولای، او غواړې چي وړیا روپۍ لاس ته راوړې، او ستا له پیلـه (سببه) به زموږ ګور او ایمان وسوځي...."

شېر له خپله سره تبنګ راکښته کړ او هغه یې د پلار د سندان له څنګه کښېښود او بیا یې په تریو تندي او قهر لړلي بږغ ورته وویل:

"یاره دا زاړه خلګ خو دي خدای ورک کړي، دوی تل زموږ د نېکبختۍ او خوشحالي په لار کي سپر کېږي.

که د دادومره خلګو ګور او ایمان وسوځل سو نو پرېږده چي ستا او زما دا هم لولپه سي. خلګو په داسي کارو کي ځان ته ښه خوږ ژوند برابر کړ او هرڅه یې تر لاسه کړل، خو ته لا په هماغو زړو فکرو کي ډوب پاته یې! پرېږده چي خپل کار وکړم او یو څه مونده کړم چي خپل کور او کهول جوړ کړم، تا خو خپل عمر خوشي په خوشي تېر کړ او هیڅ دي نه کړو برابر، اوس..."

پلار یې خبره غوڅه کړه او په ډډ بږغ یې ورته وویل:

"دا خبري اوس پرېږده، خلګ مه راباندي نندارہ کوه، مانښام به یې سره سپینوو، اوس څه ورک سه مور ته ډوډۍ ور وړه، توپ ټک نږدې دی".

شېر خپل لوښي او لرګي د پلار تر څنګ پرېښودل او په خپله یې کور ته ډوډۍ یووړه. دی او ګلالۍ د ورځي له خوا ښه نه سي سره کتلای، خکه ښاپېرۍ پسي څارو ده او دا څار د مور له هدایته سره سم کوي. خو دوی دواړه په تلوسه دي چي ژر شپه



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

سي او تول ويده سي او بيا دوى خپل خوږ او خوندور راز او نياز سره شروع کړي.

شېر مور ته ډوډۍ ورکړه او دا چي دى غواړي ونده واخلي او د چا عوضي سي، هم ورته وويل. که څه هم ده او مور پخوا هم په دې برخه کي خبري سره کړې وې، خو شېر مور ته په ښه زړه وويل چي:

"هماغسي په زړه پوري ونده يې مونډلې ده او غواړي چي اطرافو ته د يوه ماسل په توګه ولاړ سي، او بيا يې په کړه خوله ورته وويل چي د پلار رضايت ورته حاصل کړي، ځکه هغه يو څه مخالفت کوي".

مور يې له ميني په ډک بږغ ورته وويل:

"هر څه چي کوې ويې کړه زويه اوس نو شکر دى زلمى يې، پر ځان ښه وګر ځېدې (*) اوس نو ته هم کور او کهول جوړول غواړې، زموږ د زړو او سپين سرو خو صرف يوه تشه دعا ده. نور څه نه سو کولاى، خو دومره ده چي هر څه کوې نو له ځان سره به پام کوې، دې کار ته مي په دې زړه نه ورځي چي وهل او ترټل په کې وي. يوه ورځ به منصبدار دربانديي په قار سوى وي او وبه دې وهي، تر اوسه پوري مو د بل څېيړي ته نه يې ورکړى. زړه به مي درپسې ختلى وي زويه!"

"مور جاني! زړه مه راباندي کاږه اوس خو بېخي په ښو او بدو پوهېږم. ته دومره مرسته راسره وکړه چي ماښام به بابا ته وايې چي ما پرېږدي چي ځان څېره کړم او ژر يو څه لاس ته راوړم. ته خو پوهېږې چي..."

مور يې په غاړه کي لاس ور واچاوه او پر بارخو يې ښکل کړ او سوکه يې ورته وويل:



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

"هو زويه زه پوهېږم چې پر ګلالۍ جاني دي زړه بايللى دى او په هره توګه چې سي هغه غواړي زه هم ستا له دې غوښتنې سره خواخوږي لرم. زما هم زويه دا پېغله خوښه ده. داسي حيانا كه او درنه نجلۍ مې نه ده ليدلې. دا بله يې هم ښه نجلۍ ده. خو كه مې په رښتيا پوښتې ګلالۍ زما زړه هم وړى دى. كه مې دا انړور سوه نو ومنه چې ډېر به ښكمرغه سو او..."

"ادې جانې په زوره مه رغبېږه دا نجوني به ستا خبره واوري".

"يه زويه! هغوى پر بام ناستي دي او د ستني كار كوي. زموږ مركه نه سي اورېدلاى".

مابسام چې زوى پلار او مور پر كوندري (دسترخوان) سره راټول سول نو شېر مور ته وويل:

"ياره ادې كه مو په دې كار كي نصيب وسو خورا به ښه سې او ډېر به هوسا او په ارامه سو. تا ويل چې صرف په دې سبب مې زړه نه دربانديې كېږي چې يوه ورخ به منصبدار دربانديي په قار سوى وي. او وبه دي وهي. نو ادې تاسي په خپله د پښتو دا متل هر وخت واياست چې (ګټه د بلا وها خواته ده) او يا دا (روپۍ تر زر منه ډېره لاندي وي) كه دغه ډول خواري او تكليفونه ونه ګالم نو ته ووايه چې ژوند به څه ډول سم او خوږ سي؟"

پلار يې لږ څه په تريو تندي ورته وويل:

"دا ډوډۍ مه رابانديي ترخوه! پرېږده چې دا خو په ارامه وخورو. زه پوهېږم چې ته اوس څان ته لوى سړى وايې او زموږ د سپين ږيرو خبرو ته هيڅ غاړه نه ږدې".

ډوډۍ له ګندنې او چايو سره په ډېره چوپه چوپتيا وخوړل سوه او د شېر پلار د ګندنې وروستى ښاخ هم په وچه ډوډۍ كي ونغښته او بيا يې هغه د سرو وړو مرچو په يوه كمكي غاب كي



كتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

وچر موړله (وزمولله) او بيا يې په خوند په خوله کې کښېښودله.
په دې وخت کې يې د زړه له کومي په يوه خواسيني غوندې ږغ وويل:

"های زلميتوبه مونده به نه سې په خواريو او سختو کې مو هيڅ چرت نه واهه، هر شی داسې رابانديې لګېده لکه اکسير، خو اوس دا يوه ګوله ډوډی ډېر وخت ژويم او خوله مې دومره اوبه نه کوي چې هغه لمده کړي او نه مې غاښونه شته چې هغه ټوټې - ټوټې کړم".

د دې خبرې له تمامېدو سره سم يې سر د تاثر په ډول وښوراوه او ژړغونکی غوندې سو. خو ماينې يې ورته وويل:

"شکر وکاږه چې خواني دې عبث نه ده تللې. دا دی شکر دی زلمی مېراث خور به مو پر مېنه پاته سي، دا کونډه خوارکی خو وګوره چې زوی نه لري په څه ناوړه حال کې ده، او د هر چا ناړې پر څڅېږي. له خدايه په دې راضي يم چې کمبله به مې پر دې خلک نه ټولوي او نه به مې دا کور مېراث خواره اخلي. له زوړ تيا څخه خو هيڅ رغېده نه شته او هر څوک پر دې لاره تلونکي دي، نبکمرغه هغه دی چې کوچنی نهال او يا نهالان يې تر څنګ ولاړوي. د پښتو دا متل دې نه دی اورېدلی چې وايي:

"چې کمکی وني نه وي، لويي تل ولاړي نه وي "

شېر جان اوس يو حق پر موږ لري هغه دا چې پر خپله ښه يې کړو او يوه ښه په زړه پوري پېغله ور وکړو. زه او ته خو دومره نه سوو چې د ده دواده لپاره شی مې ولرو، خو دومره بايد..."

مېړه يې تندی کوت کړ او په وچ ږغ يې ورته وويل:

"ښځې ته خو لکه مات لوښی داسې يې، دا څومره خبرې دې زده دي؟، خبره ولې نه لنډوې او سوچ نه وهې چې هلک پرېږده چې لاړ سي د يو چا عوضي سي او يو څه مونده کړي، خو زه



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

وایم چي بې د عوضي لـه پیسو څخه نور څه نه سي مونـدلای، دا ځکه چي تـر ده غټ نور لېوان یې شکوي او ده ته والله کـه هیڅ پـه لاس ورسي. نو ولي بې ځایه منډي تـړي پـر تېـروي، او بې سببه یې مخ تورن کوي؟ تـر دي همـدا کـار ښه دی، کـه ډېـر نـه دربېـږي نو زه بـه یـې یـوه بـوټ ګنډونکي تـه وروړلـم او هلتـه بـه یـې شـاګرد کـړم. کوندي څه موده وروسته ښه قابل سړی ختني وخېژي".

شېر په پزه کي سوړ وهل او ویې ویل:

"زه چي قابل سړی کېږم نو "توري هیلی به سپیني سي" دا چي تـه وایـې چي داسي خلک لکـه زه پـه دې کـار کـي څـه نـه سي مونـدلای صحیح نـه ده، دا ځکـه چي زمـا د تـوري زوی (عبـدل) تـه خـو وګـوره هغـه پـه دوه کالـه کـي د خـورا ښـه او غـټ جایـداد څـښتن سـو. هغـه هـم ونـډه واخیـستله، ونـډه ټولـه ورپاتـه سـوه، بر سـېره پـر هغه یې ښه ډېر څه مونده کړل خدای چي یې چاته ورکوي بیا یې نو نه پوښتي چي د چا زوی یې! کـه خدای دي نه کا بخت مو یو راز او بل راز سو نو البته څه به تري ونه باسو، هر کار د خدای پر توکل کېږي. تـه مو پرېږده لا بـه سـمه راسي او لا به چپه. کـه نور هیڅ ونـه سول نو د ونډي روپی خو بـه راپاتـه سي، هغـه مو هـم تـر خوله تېـري دي"

د شېر پـلار سر کښته واچاوه او مـاینې یـې دغـه حالـت د ده د رضایت نخښه وبلله او سمدلاسه یې زوی ته وویل:

"دی هـم پـلار دی او زړه یـې دربانـدي خبـږي، کـه نـه وي دی هـم پـه دې خـوښ دی چي تاتـه یـو څـه پـه لاس درسي، سـهار بـه درسره ولاړ سي او لـه حـاجي صـاحب سره بـه خبره سپینه کـړي، خـو یـو شی مـه هېـروئ هغـه دا چي لـه حـاجي صـاحب څخـه بـه یـوه برخـه ونـډه پېشکي اخلئ چي زه لـه خیـره سره د خیـر پـه کـار لاس پـوري کړم او د ګلالي جاني دسمال او قند راوړم او..."



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

د شېر پلار ته دې وروستي خبري هم خوند ور کړ او هم له درانده مسوولیت څخه ووېرېده. شېر یې په غاړه کې لاس ورواچاول او پر رېږه یې ښکل کړ او په اصطلاح پښتو بازي یې ورسره شروع کړې، په پای کې یې شېر ته وویل:

"ښه نو څواني ده، په دې وخت کې سړی په هیڅ شي بند او واز نه وي. سهار به درسره ورسم او په اوږو کې به دې په څپېړه ووهم چې خدا برکت درباندي کښېښږدي"

په دې خبره مور او زوی خورا سره وغوړېدل او د خوشحالي فضاء په خونه کې خورا رونه سوه. شېر د خورا خوند خبري کولې او ویل یې چې ژر به ځان له خپل آمر سره ونښلوي او د هغه مرسته به ځان ته جلب کړي. پلار یې لږ نور هم سره وغوړېد او د خواخوږي په رغ یې ورته وویل:

"زما او د مور غاړي دي خدای مه بندوه، ته پوه شه او کار دي، موږ خو خپل ژوند په هوکه او یا سوکه (*) راتېر کړ. ته مو دادی لوی کړې اوس پر ځان وګرځېدې (*) تر دې اضافه پر موږ حق نه لرې، هو یوه کوزده دي راباندي پور ده که مو وس وای هغه به مو هم درته کړې وای".

د شېر مور د خپل مېړه خبره غوځه کړه او ویې ویل:

"په دې کې د غاړي بندېدلو څه سوال منځ ته راځي؟ زوی خو په غلا پسي نه لېږم، شکر دی د اسلام پاچهي ده د اسلام د پاچا چوپړ به وهي، پاچا خو د خدای سیوری دی. ملایان وایي چې دا ډول چوپړ عین عبادت دی. که خدای کول د زوی به مي دین او هم به یې دنیا په برخه سي. زما او ستا دعاوي به یې ښه ملا پسي ټینګه کړي"

☘☘☘



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# پنځمه څپرکی

سهار چې زوی او پلار لمونځونه وکړل نو پلار شېر ته وويل:
"د حاجي صاحب هتي خو ناوخته پرانيستله کيږي. که ستا په سطل کي لمدې کړې وڅکې وي نو هغه خرڅي کړه او بيا خپل تول لوبني او لرگي راوړه او کور يې کښېږده. بيا به نو ورسو او ستا چېته (فيصله) به در وکړم. هغه حاجي صاحب خورا په دينداري مشهور دی، او خورا ښه شتمني هم خدای ورکړې ده. دومره شتمني چې په حساب يې هم نه رسيږي. خو خلک وايي چې لږ څه تينګ غوندې دی، او په غران پسې د ځان غابښونه باسي. خو دی وايي چې تينګ نه دی صرف خوار کار کوونکي دغه ډول پروپاګنده پسې کوي".
پرلس نيمو بجو پلار او زوی دواړه د حاجي صاحب هتي ته ورننوتل او وروسته له سلام اچولو چوپ ودريدل.
حاجي صاحب وروسته له هغه چې يو لنډ نظر يې پر واچاوه لږ څه په زيږه ږغ ور ته وويل:
"دلته چا را پريښودلاست؟ ځئ خدای دې در کړي دروېزګر به په وره کي و دريدل او ږغ به يې وکړ. خو تاسي لکه ددوبي مچان د سږي په سترګو او په سپږمو ننوځئ".
شېر خپلې سترګي ګړدی کړې او ور ته ويې ويل:
"حاجي صاحب! موږ ملنګان نه يو. زما نوم شېر دی. پرون ستا ناظر راته وويل چې راسم اوستا د وراره پر ځای ځان غوضي کړم. زه دايم له پلار سره راغلم".



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

"ښه! چې داسي ده، نو ورسئ او دهغې د وره په خوله کې يوه ګړۍ تم وکړئ. ناظر ګمرک ته تللی دی چې مال محصول کړي، اوس به راسي ستاسي چېټه (فيصله) به در وکړي".

پر يولس نيمو بجو ناظر راغی او وروسته له څو خبرو اترو دوی خپله پرېکړه وکړه او د حاجي حاصب ميرزا يو ليک وليکه.

ناظر حاجي حاصب ته وويل:

"د پېشکي روپو په برخه کي زړه مه ځني وهه! ځکه چې داخلګ دلته په ښار کي کور لري، چېري نه سي ورکېدلای. کوم وخت چې دی ښځه سي نو د يوه کال ونډه به پېشکي ورکړو".

حاجي حاصب پر يوه کوچني سپين کاغذ باندي يو څه وليکل او هغه يې ناظر ته ورکړ چې داحصايې مدير ته يې ورکړي.

بيا يې دښېر پلار ته مخ وروا ړاوه:

"سپين ږيريه! ته په خوشحاله يې چې زوی دي زموږ په ځای ښځه سي؟ ستا بې رضا او خوښې موږ له ده سره معامله نه کوو".

بې له دې چې د ښېر د پلار ځواب ته منتظر سي د ټيليفون غوږۍ يې پورته کړه او له يو چا سره په خبرو کي سو، د ښېر پلار ورته (هو!) کړل او بيا يې دهغه سبب په شاوخوا کي خبري ورته شروع کړې، چې دده زوی غواړي عوضي سي. خو ناظر دې ته ځار وچې دده بادار د سپين ږيري پر (بابولالو) هيڅ غوږ نه دی نيولی.

بيا ناظر پلار او زوی ته وويل چې درځئ اوس نو ورسو، د ښځه کېدو غم و خورو. په درو، څلورو ورځو کي ښېر ښځه سو، دده پر ښځه خط داسې ليکل سوي و.

(دا سړی دي د کوهدامن حکومت ته ورکړ سي چې هغه يې دشکر درې علاقداري ته ولېږي).



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

شېر په ډېره خوشحالي خپل څېره خط حاجي حاصب ته ور وړ او هغه ته يې د پېشکي پيسو داخيستلو لپاره ورښکاره کړ.

حاجي صاحب وروسته له هغه چې پر څېره خط يې نظر واچاوه په پسخند شېر ته وويل:

هلکه. خدای خوار کړې! خولې دې په غوږو کې سوه، دادی علاقداری ته د رومي د دې پر ځای چې ته له ما روپۍ وغواړې بايد ته يې له ځانه راکړې. داځای چاته رسېږي؟"

خو بې له دې چې د شېر ځواب واوري خپل ميرزا ته يې وويل:

"د شپږو سوو روپو حجت وليکه، او د شېر او دده د پلار ګوتي پر ولګوه، څو تنه شاهدان هم په کې واچوه".

شېر څېره خط دميرزا له مخه کښېښود اوله هغه ځخه يې هيله وکړه چې ژر داخط وکاږي. تر هغو پوري به دی خپل پلار راولي. شېر دوې پښې څلور کړې او په بيړه پلار ته ورغی او هغه يې دخان سره بوت، تکنده غرمه لا نه وه سوې چې شېر د کرباسو په يوه خيرن زړو کي روپۍ نغښتي وې او له پلاره سره دخيابان په واټ کي مخ په پل خشتي روان و. د ده پښې له خوشحالي ځخه مځکي ته نه ورتلې او زړه يې په هوا و. څو دقيقې وروسته يې د روپو غوټه دخپلې مور په مخ کي واچوله، او پلار يې وويل:

"نن به د غرمې ډوډۍ يو ځای په کور کي وخورو. زه به ورسم او له نږدې سماوارچي ځخه به يوه ښه لويه چاينکي ښوروا راوړم او د دې کار په مناسبت به جشن جوړ کړو".

مور يې په داسي حال کي چي له خوښۍ يې ږغ پر له پسې پر بکېده وويل:



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

"که مو خوښه وي نو يوه چاينکي که څه هم وړه وي دا نورو دوو نجونو ته هم رواړئ. اوس مي هيله توده او ډېره سوه. ګوندي ګلالۍ مي نېږور سي. او دا خوارکۍ کونډه زموږ د کاله سره خوښه سي".

د شېر پلار (اوم) کړ او د خپلې ماينې خبره يې خوښه کړه.

وروسته له هغه چي شېر په سودا راوړلو پسې ولاړ، پلار يې د روپو غوټه د ماينې له لمنې څخه راواخيستله او په داسي حال کي چي دواړي پښې يې ارتې وغځولې. د هغو په شمېرلو يې پيل وکړ. د سپينو غرانو شړنګهار په خونه کي د دوی زړونه نور هم پور ته کړل او ماينې يې په مينه ورته وويل:

"نارينه اولاد خو ښه وي. دا دی خونه يې له روپو راډکه کړه. ما خو لومړی لا ورته ويل چي د کوزدې او واده روپۍ د (عثمان غني) له کوره دي. دادی د يوې پلندې روپو څښتنان سوو او ژر به د خپل زوی د کوزدې دسمال راوړم".

مېړه يې پنځه-پنځه غرانونه شمېرل او تر هغه وخته په دې شمېر بوخت و چي زوی يې له بازار څخه بېرته راته.

وروسته له هغه يې روپۍ بېرته په هماغي خوړګه (لته رينجه) کي غوټه کړې او ماينې ته يې په دواړو لاسو ونيولې او په خواږه ږغ يې ورته وويل:

"دا روپۍ د لرګي په صندوق کي کښېښږده. چي کيلي يې له ځان څخه ليري نه کړې له خوني ډېره مه وځه. خدای دي نه کړي که دا څوک در څخه يوسي دواړه لاسونه به مو په خوله سي. دوې سترګي به څلور کوې او تل به ځارو اوسې!"

په دې وخت کي شېر په شيانو بار په خونه راننووت او په داسي حال کي چي د ښوروا دوې چاينکي يې د لرګي په لوی



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

پتناسه کې ایښې وې او شېږ تودې ډوډۍ یې پر چاینکو اړولې وې او له هغو څخه توښت پورته کېده وویل:

"مورې نوره سر رشته یې نو ته په خپله وکړه".

مور یې سمدلاسه د مسو یو سپین لوی پتنوس راواخیست او د ښوروا او غوښو ډکه یوه چاینکه یې په هغه کې کېښېښودله او هم یې دوې ډوډۍ پر هغو کېښېښودلې.

کوم وخت چې یې پتنوس واخیست نو یې وویل:

"شکر دی خدایه چې زماله کوره هم یو شی د بل چا کره وروړل کېږي. تل خوړې او ښکلې ګلالۍ له هغو وریجو او غوښو زما برخه کړې وه. چې د دې مور یې د مدیر اغاله کوره راوړې. که مې ربښتیا پوښتې د پسرلي له لومړۍ څخه چې د زړ خوړۍ او نیستۍ شپې او ورځې دي او په بازار کې هر څه خوراګران دي، هیڅ ورځ دوی زه نه یم هېره کړې".

د شېر مور په خورا جګه ملا د ګلالۍ په خونه ورننه وتله او پتنوس یې د د دوی مخ ته کېښېښود. بیا یې په ډېرې خوشحالۍ د شېر د عوضې کېدو نکل ونښلاوه، خو هغه یې لنډ-لنډ ورته وکړ او بیا یې ورته وویل:

"زه به ورسم زوی او مېړه مې راته ګوري چې دوی بېر ته ووځي، بیا په دې برخه کې ښه ترا وړغېږو، دا ډېر وخت کېږي چې موږ د ورځې له خوا پر کاسه یو ځای نه یو سره کېښېنستلي. د شېر پلار لږ څه بد خوی غوندې دی".

ګلالۍ په خورا پسته ادیبانه توګه ورته وویل چې:

"دوی ولې خان په تکلیف کړ او زموږ لپاره یې دومره خرڅ وکړ".

خو د شېر مور ورغبرګه کړه چې اوس یې یواځې ګاونډیان نه بولي بلکې د خپل وجود غوندې یې بولي.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ګلالۍ چې د خپلې اييندې خوابنې خبرې واورېدلې نو له خوشحالۍ څخه په کاليو کې نه ځايېده او ښاپيرۍ د دې په خوشحالۍ په ښکاره توګه پوه سوه.

کوم وخت چې شېر له انګړه دباندې په پلار پسې ووت، نو يې ستر ګې پر ګلالۍ ونښتې او هغه يې پوه کړه چې ماخستن به سره وګوري.

په دوو دروشپو کې د شېر مور او پلار او شېر په دې سلا سول چې د ګلالۍ مور ته د خپښۍ خبره ياده کړي او د شېر او د ګلالۍ د کوزدې لارې چارې ولټوي. يو ماخستن چې د ګلالۍ مور د (مدير اغا) له کور څخه راغله د شېر مور ورغله او هغې ته يې وروسته له ستړې مشې او احوال پوښتلو وويل:

"خور جانې! پوهېږم چې خورا به ستړې يې، خو غواړم چې يو څه د زړه خواله درسره وکړم نو که ډېر زحمت نه وي يوه پلا دباندې د بام سر ته راسره ولاړه سه چې هلته خولې سره سرې کړو".

هغې سمدلاسه خپل تيکرى پر اوږو سم کړ او خپل زاړه بوټونه يې په پښو کړل او په داسې حال کې چې د شېر مور دمخه او دا په پسې وه، د بام سر ته وختلې. په دې وخت کې ګلالۍ په اصل مطلب وپوهېده او له ډېرې خوشحالۍ څخه يې د ښاپېرۍ په مړوند نوکاره ولګوله چې هغې په زوره (واخ) کړل.

کوم وخت چې بام ته وختلې د شېر مور چې سايې شړله ورته وويل:

"کښېنه خورې! په دا يوه ګام لاره باندې دايم داسې ساه شړم، کشکې خو څوک نه زړېداى. نن بيا وپوهېدم چې د ګور پر غاړه يم. ښه! نن غواړم خور جانې چې د زړه غوټه درته خلاصه کړم او څه چې مې په زړه کې دي هغه درته څرګند ووايم".



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

په دې حال کې د دې خبره د ښاپېرۍ د پښو په څرپهاري پرې سوه، د ګلالۍ مور ږغ کړه:

"دغه څوک راغلې؟"

"زه یم ښاپېرۍ"

"څه ورکه سه! ولاړه سه! په خونه کې کښېنه زه دستي درځم"

ښاپېرۍ بېرته خوني ته ولاړه، خو ګلالۍ سوکه په زینو کې راوختله او غوږ یې د دوی مرکې ته کښېښود.

ګلالۍ د شېر د مور وینا چې د دې مور ته یې په صاف ږغ کوله واورېده.

"خورې! ته هم پوهېږې او زه هم پوهېږم چې ګلالۍ او شېر پرله ګران دي. د دوی پاک او سپېڅلي زړونه داسې سره نښتي دي چې یو له بله څخه بېخي بېلېدلای نه سي. شېر د دې لپاره چې د خپل زړه ټوټه لاس ته وروليي ځان یې په اور کې واچاوه. د دې له پاره چې ګلالۍ وګټي ده ځان خرڅ کړ د دې له پاره چې ګلالۍ یې په نصیب سي ځان یې د بل تر څپېړي او لښتي لاندې واچاوه او د حاجي... د وراره عوضي سو، او ځان یې د هغه په ځای په عسکرۍ کې څېره کړ. خو اوس نو زه په ښکاره او ږکه خوله در ته وایم چې شېر غواړي ستا مریې سي، ستا زوی سي او د ګلالۍ سره یې... په دې درو څلورو میاشتو کې موږ او تاسې ښه سره ولیدل یو د بل په خوی او چوچ (دود، رسم) ښه وپوهېدلو. زړه مې په ټینګه دا راته وایي چې ګلالۍ جانه به خورا خوږ او پوست ژوند ولري. د دې کار په اثر به موږ او تاسې یو کور او کهول سو، او هر څه به مو سره یو سي او...".

د ګلالۍ مور چې په دې وینا هم خوشحاله او هم لږ څه متاثره سوه، د دې خبره یې سوکه پرې کړه او ورته ویې ویل:



کتابتون پولنه (WWW.KITABTOON.COM)

"خوري! که مې رښتيا پوښتې زه هم ښېر داسې بولم لکه د زړه سر. له لومړۍ ورځې چې زما سترګې پر ښښتې دي په زړه کې مې خورا خوښ سوی دی، زه هم په دې ښه پوهېږم چې پر ګلالۍ خو خورا ګران دی، هغه هم په دې خوشحاله بولم چې د ښېر سره يې سرويړد (بالښت) يو سې خو زه په دې نسبت زړه وهم چې ميراث خواره به مو په عذاب کړي. هغوی غواړي چې د ولور له خاطره زما لوني په اور کې واړوي، او خپلې خېتې په ډکې کړي. دوی ټول د خولې د پرېکړې څښتنان دي (*) شتمن هم دي په محکمو کې زما ورسره نه کېږي، زما خواري بړغ څوک اوري؟ تاسې هم لوڅ لغړ رامعلومېږئ. نو دوه لوڅ به څه ډول سره پټ سي نو..."

د ګلالۍ مور بيا د (نو) تکې وروسته له هغه چې ساه يې واچوله، پسې اوږد کړ او د ښېر مور ته يې د خبرو کولو موقع ورکړه، هغې هم سمدلاسه وويل:

"خورې! د دنيا غمونه او خوارۍ چا ټولي ايسته کړې دي، چې يو خلې (هوکی) وسې او دسمال راکړې بيا خدای مهربانه دی ګوندې څوک مو دومره ونه خوروي.

(مدير اغا) به په دې مسله خبر کړو، يو بل زموږ ليري غونډې خپل دی هغه هم ښه غټ کاردار دی، ګونډي راسره مرسته وکړي، ښېر په خپله دا دی اشنايان او شناخته خلک مونده کوي. مثلاً همدغه حاجي... صاحب ښه مرسته کولای سي، ښېر يې په نيمه خوله اطرافو ته څېره کړ. هغه ګوندي پر يو چا نخښه راکړي او يا يوه بل غټ سړي ته ټليفون وکړي. خورې! داسې توره تياره لا هم نه ده او نه موږ داسې (خوړلي شومه) يو شکر دی د اسلام ملک دی، شريعت چلېږي...."



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

د ګلالۍ زړه چې دوی ته نژدې په زينو کې ناسته وه په دې خبرو باغ ـ باغ سو او نژدې وه چې له ډېرې خوشحالۍ يې له خولې کريږه ووځي. خو ځان يې ټم کړ او په خوله يې د خپل ټيکري پلو ومانده او د دوی نورو خبرو ته يو غوږ سوه. بيا د ګلالۍ مور ورته وويل:

"ښه دی چې تاسې زړه نه وهئ زه هم زړه نه در ځخه وهم لور خو مې اوس شکر دی پېغله او پر ځان بشپړه ګرځيدلې ده د خپل واک ده او که خبره پسې اوږده سوه نو داسې يو څوک خو به مونده سي چې زموږ د خوارانو او بيوزلو ناره واوري، او د ميراث خورو لېوانو له خولو مو راوکاږي دا ټولې د (بيا) خبرې دي، د (بيا) د خبري به بيا کوو نو ښه ستا ځرنګه خوښه ده؟"

ما خو والله که دسمال برابر کړی وي او بل دا چې والله که يوه لپه نقل لرم او..."

"يه خورې! کراره کراري ده. هلک درې څلور شپې لا نه ځي، ډېر کش واکش به نه جوړوو. يو د جمات ملا به راولو. د کوځې دوه درې سپين ږيري او سپين سرې به خبرې کړو. زما مقصد دا دی چې د هلک او نجلۍ زړونه پر پښتي (*) سي او دوی به خپل راتلونکې ژوند روڼ او ځلانده ويني. شېر به هم په خورا تاوده زړه او لوړ همت خپله ونده ادا کړي او په پوره (مطمين) زړه به په خپله نوکري بوخت وي چې..."

ګلالۍ د دې خبرو په اورېدو په زړه کې داغوټه کړه چې بام ته ورو وخېژي او ځان د مور په غېږ کې داسې وغورځوي لکه په کمکۍ والي چې به يې دا کار کاوه. خو بيا يې بېرته دا فکر واړاوه او سو که په زينو کې راکښېنسته سوه او په خونه کې يې ښاپېرۍ له خوبه راکښېنوله او هغه يې ټينګه په غېږ کې ونيوله او پر بار خو يې کلکه په غاښ کړه. د ښاپېرۍ سترګې پټې او هماغسې په ځواږه



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

خوب وتلې وه. د دې بار خو د ګلالۍ په ټېرو غاښو خوږ سو او په زوره يې چيغه کړه. ګلالۍ د دې سر بېرته په غېږ کې ونيو او ورو-ورو يې داوړو په منځ کې په خپله خپړه ټپوله او په خورا خواږه او له ميني په ډک بږغ يې نازوله تر څو بېرته ويده سوه.

د بام پر سر باندې دواړو ښځو دا فيصله وکړه چې په دې دوو درو ورځو کې به دې د خپر کار ته لاس ورته کوي، که نور هيڅ نه وي نو قند به ماتوي او د شپږ مور ته به دسمال ورکوي. يو يا دوه غوري ډوډۍ به پخوي او يو څو تنه خپل او خپلوان به رابولي. دواړو سپين سرو دوه نيم زره افغانۍ ولور ومانه چې دا پيسې به د ميراث خورو په خوله کې وراچوي او يا به يې د واده په کارو باندې لګوي. وروسته له هغه دواړو غېږ پرله وګرځوله او يوه او بله يې پر يوه او بل بار خو مچ کړله او يو بل ته يې د دې ښه او نېکمرغه کار په نسبت مبارکي ورکړه. هره يوه سپين سري په خوشحالي خپلې خونې ته ننوتله. د شېر پلار او په خپله شېر د دې لار څارله. کوم وخت چې دا په وره ورننوتله، شپېر ور ولاړ سو او د برېښنا څراغ يې وواهه. بې له دې چې شېر پوښتنه ځيني وکړي، مور يې د ده سر په دواړو لاسو ونيو او خپلې خولې ته يې راکښته کړ او پر بار خو يې داسې مچ کړ چې د شېر پلار يې څرپ واورېده. بيا يې په خواږه او ژوندي بږغ په زوره ورته وويل:

"خداى دې پلو راپوري نېکمرغه کړي، که دې تالي يو ډول او بل ډول نه وي، ګلالۍ ستا او ته به د ګلالۍ يې. مور يې په خوشحالي دا خبره ومنله او قول يې وکړ چې په دې دوو درو شپو کې به قند مات کړل سي، نو زويه..."

د شېر پلار پر راوږغ کړل:

"ته دوري راسه! کښېنه ساه واچوه او خبري ښې پرله پوري وکړه. ولور دې څو ورسره وواية؟ خبري د ولور دي، دسمال



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

به میراث خواره راکوي او که به یې په خپله دا راکوي؟ ستا زړه ته ولوېدل چې پر پردیو لانجو به نه اخته کېږو؟ او..."

د شېر مور د مېړه څنګ ته نژدې کښېنستله او په خورا ښه او پاسته بڼغ یې ټول احوال ورته ووایه. او مېړه ته یې ډاډ ګېرنه ورکړه چې په دې کار کې به دومره خواري او زحمت نه ویني.

وروسته له هغه د شېر پلار وویل:

"خدای دې پلو نېکمرغه کړي، د پښتو دا متل دی خورا خوندور دی چې وایي (بخت یا پر کوځی دی، یا پر کوټی).

کوټی خو پاک الله رانه کړه دا موهم تر خوله دوري—دوري تېره ده چې کوځی به راکړي، د دغې نجلۍ تندی د یوې بختورې نجلۍ دی. ګوندي کهول مې پر راټول سي او څراغ مې په رڼاوي".

کوم وخت چې یې ماینې ورته وویل چې ولور دوه نیم زره افغانۍ ټاکل سوی دی، نو د شېر پلار (هوم) کړل او ورته ویې ویل:

"که څه هم شتمنو ته دا پیسې هیڅ هم نه دي، خو موږ ته لوی بار دی کاشکي همدا ولور وای. نور لګښتونه یې خورا ډېر دي، موږ په..."

ماینې یې خبره غوڅه کړه:

"څه لګښتونه دي؟ ته وایه! بیا به زه او ته ناست یو زامن به زېږوو او د هغوی کوزدې به کوو او بیا به یې ودونه راوړو؟ همدا یو ځل دی. ولور خو په خپله شېر وګاټه. خدای مهربانه دی ګوندي لګښتونه یې هم مونده کړي، که بیا له هري خوا راټپه سوه نو کور خو سته. سمدلاسه به یې پر (حاجي...) ګرو کړو، هغه دې کور ته خولي مولي دی. خدای دې ستا د نیکه هر هډ په جنت کې کړي چې دا کور یې جوړ کړی و که نه وای اوس به مو وتري (لوښې. کودي) چېري په شا ګرځول؟ خو زه بشپړ باور لرم چې خبره به



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

دې حد ته ونه رسېږي. زما مقصد دا دی چې د هلک پښه څه په (بنده) سې او خپله نوکري به په پوره (ډاډه) زړه وکړي پیسې به بې ځایه نه لګوي او یوه غران ته به شل غوټې ور کوي".

دریمه ورځ کوم وخت چې شېر مازیګر د انګړ په وره راننووت د دریه د رنګ او درونګ یې تر غوږ سو او سمدلاسه یې پښه ونیوله، د دوی په خونه کې د نجونو شخول (شور ماشور) دی. ده چې د خپل انګړ په وړو کې غولي کې هر څومره مصنوعي ټوخې کاوه خو چا غوږ نه په یوست، صرف ګلالی د خپلې خونې له وره څخه دی ولید او کوښښ یې وکړ چې د ده نظر د خان خواته واړوي. په دې حال کې یوه اته کلنه غوندي نجلی د دوی له خونې څخه راووتله، شېر ور ته ووېل چې ورسي او د ده مور راخبره کړي. تقریباً لس دقیقې تېرې سوې، خو بیا هم څه احوال معلوم نه سو. ګلالی د مالګې په یوه کوچني ګر ګاني (کنډوکي) وویشت او د ده ستر ګې یې د خان پلو ته واړولې.

شېر سمدلاسه پر بام وخوت او ګلالی هم دوري پسې ورغله. هلته ګلالی له خوشحالۍ څخه په یوه رېږدېدلي ږغ په داسې حال کي چې ټوله پر غوړېدلې وه ووېل:

"زېرى مې دربانـدې! نن زما او ستا شېريني خوري ده مبارک دې سه! او مبارک مې دې سې قند مات سو".

شېر له ډېرې خوشحالۍ څخه هېش پاته سو.

دوی په داسې حال کې چې یو پر بل یې غېږ سره ګر خولې وه خبري کولې. خو د دوی خولو په مشکل خبرو ته فرصت مونده کاوه، اکثره به په پزه کي سره ګړېدل. په پای کي یې د ساه اچولو لپاره خولې سره خلاصې کړې او په دې وخت کي ګلالی په لنډه-لنډه ساه د ورځې ټول احوال ور ته ووایه. وروسته له نیم ساعت



(WWW.KITABTOON.COM) كتابتون ټولنه

زه خوالي څخه شېبه له انګړ څخه ووت او پلار ته ورغی. د پلار چي سترګي پر ولګېدلې ورته ويې ويل:

"نن خو موږ له خبره سره ستا د کوزدې خبره فيصله کړه. مور دي د شاوخوا د هغو ګاونډيانو ښځې راوغوښتې چي زموږ له ډلې دي او له موږ سره يې (سپي غاپي)، تا خپل کارونه څرنګه کړل".

"زه خو دا دوې ورځې هغې څانګي ته ورغلم چي ماته به د کوهدامن پر حکومت يو رسمي امر راکړي، مکتوب يې و څنډاوه او د څانګي مشر خان په يوه او بله کاوه. خو نن مي يو څه (زهر) په خوله کي ورواچول. ټينګ قول يې راسره وکړ چي سبا به خپل مکتوب راکړي. حاجي اغا ته ورغلم او احوال مي ورته ووايه. ده وويل چي که چېري څانګه ډېر پېچ راکوي، نو دی به غټ آمر ته ټيليفون وکړي. خو ما ورته ډاډګېرنه ورکړه چي دې ته هيڅ حاجت نه شته (غوټه چي په لاس خلاصېږي، نو غاښو ته څه حاجت).

هغه کار چي په سپاهي خلاصېږي حوالدار ته به څه نه وايې..."

پلار يې خبره غوڅه کړه:

"څو دي په خوله کي ور واچولي؟ دا مجرا بايد حاجي صاحب راکړي".

♣♣♣



كتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# شپږم څپرکی

څو ورځي وروسته ښېر په خورا خوشحالي ملا وتړله او د خپلي نوکرۍ خواته روان سو. اوس په کور کي د مخ پټي او د (ایسته او وروسته) خبري نه سته. پلار، مور، خوابښي او خوښیني ښېر ته د زړه له کومي دعا وکړه او دی په خورا زړورتیا او تووده وینه له انګړ څخه راووت او په یوه زړه لارۍ موټر کي د کوهدامن لور ته روان سو. دی چي له موټر څخه څوړ (ښکته) سو نو نېغ د هغه ځای حاکم ته ورغی. لومړی دی د حاکم په حاضرباشانو کي سو. ده د هغه سړي درېشي او بوټونه واغوستل چي دی یې پر ځای مقرر سوی و. هغه سړی خورا سوکه-سوکه د خپلو تجربو څخه یو څه ورته وویل او مصلحت یې ور کړ چي (پنځه واړه ګوتي په خوله ونه منډې) که نه وي خورا ډېري سرګرداني به ووینې. ښېر به ملا په یوه پلن توربخون څو زاړه کمربند تړلې وه او دوې قمچینې به یې په کمربند کي وهلې وې. پر ک مشر ژر په دې دا زده کړل چي څرنګه سلامي وهه او د سلامي په وخت کي څه ډول پښې سره جفتي نیسه او څه ډول (ساب!) وایه.

ښېر په لنډه موده کي سترګي وکړې (*). خپل شاوخوا خلک او د دوی د واک اختیار اندازه یې وپېژندله. په لومړي سر کي ښېر زړه سواند و او هغه بندیان یا نور خلک چي حاکم به د وهلو حکم پر وکړ ښه نه سوای وهلای، خو درې څلور هفتې د ده



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

دا عيب هم ورک سو. کومه ورځ چي به يې ډېر کسان نه وو وهلي، نو ډوډۍ به خوند نه ورکاوه او داسي به پر له اوښت لکه يو شی چي يې ورک کړی وي. د شېر ورځني عايدات هم د ده له بلډتيا سره سم ډېرېدل. د حاکم نظر هم پر ده باندي ډېر سو، دا ځکه چي دی يو تکړه او د ښو لاس او پښو څښتن و. چي حاکم به خبره په خوله کي جوړوله دی به بيا په پوهېدلي و او هغه سي به يې وکړل. شېر وروسته له شپږو هفتو کور ته په رخصتي راغی د ده مور او پلار خورا حيران سول چي ده د کرباسو په يوه نسبتاً پاکه خوړګه کي دوه سوه افغاني ورکړې. کوم وخت چي يې غوټه پلار ته ورکوله نو يې ورته وويل:

"ها دا دوه سوه روپۍ واخله"

دا جمله يې دومره په زوره اوله فخره ډکه وويله چي ګلالۍ او ښاپېرۍ هم واورېدله. پلار چي يې دا دومره روپۍ وليدلې نو په خورا خوشحالۍ يې ورته وويل:

"زويه! دا به سهار وختي د (سن) هندو دکان ته ور ورم او د هغو نورو روپو په شان به يې ور کړم، زويه ډېر لګښتونه در ته ګوري".

وروسته له (جوړ په خبر) څخه څرګنده سوه چي د ګلالۍ ميراث خواره راغلي وو او د شېر پلار ته يې په کلکه ويلي وو چي ولور به دوی ته ورکوي که نه وي په محکمه کي به دعوه ورسره وکړي. بيا د شېر پلار د ممنونيت په ږغ ورته وويل:

"کور يې ودان، دا ميراث خواره ښه خلګ وو، که بل څوک وای والله خو به يې په درو محکمو ګرځولي وای، که نور هيڅ نه وای نو دا يې ويل چي دا نجلۍ مېړوښه ده او په دې پلمه به يې له هډ او مغزو سره خوړلي وای، د ګلالۍ د مور يې هم کور ودان ډېره



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ابداره او کاپیره (خوله وره) ښخه ده. میراث خواره یې په خورا چل او هنر تر ځان تېر کړل.

زه د دې په دغه ډول کړه خورا خوشحاله سوم".

د شېر مور چې تر اوسه پوري په بې ساري توګه پټه خوله وه په یو ځه هیجان او د یوې خوشحالۍ په برغ ورته را درسته کړه:

"خدای دې لمن تر نوکانو لاندې لري (*) ډېر ښه ورېښیمن کهول دی، په زړه خورا پاک دي. هغه څه چې وایي هغسي کوي، زړه او خوله یې یو شی دي، که څه هم د مدیر اغا کره چوپړ وهي خو بیا هم له ما سره (نه ناسته ده او نه ولاړه). که ستا کار همدا ډول پسې بند سو، نو ګوندي وکړای سو چې داله دې چوپړ څخه خلاصه کړو او بېخي له موږه سره سي. خدای وهست، هر څه چې مو درلودل هغه به ورکړ کړو، که زما واک وي زه خو به خپله د خولې یوه ګوله ډوډۍ هم ورسره نیمه کړم". په دې وخت کې ښاپېرۍ راغله او د دوی خوږه مرکه یې سره وشلوله. داسي څرګندېده چې ګلالۍ را استولې ده چې د شېر حال وپوښتي، شېر د مور په اشاره سمدلاسه ور ولاړ سو او د خپلې خوابنې کره ورغی. شېر او ګلالۍ یو پر بل سره وغوړېدل او تر دوو بشپړو دقیقو پوري سره خوله په خوله وو.

♣♣♣



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# اووم څپرکی

په شپږو مياشتو کي دننه-دننه ښېر ښې ستر ګي وکړي (*) او د کار هر سوري او ګوټ ورته څرګند سو. ده به تل ملاتړلې وه، درېسي يې له ځان څخه نه کښېله.

د ده عواطف تر پخوا ښخي پټخ (سخت) سوي دي هر څوک په جرات وهي او له دې څخه نه ډارېږي چي کوم ځای به يې خوړ او يا مات سي، په اصطلاح (چي حاکم به خولي وغوښته، ده به سر ور ووړ). ښېر په لږه موده کي خپل سام په ټولو خلګو کي پرېيوست. که به کوم ضروري او درونډ کار و نو د ده په مشرۍ به يې ماسلان ورلېږل. د قتل په معاملو، د بېګار په معاملو او د باقيداريو په معاملو کي به تل ښېر لېږل کېده، اوس دی په حاکم هم دومره چرت نه خرابوي. د هري معاملې په تحقيقاتو کي دی لوی اثر اچولای سي، او له دې پلوه ښه ډېر څه لاس ته ور وړي.

اوس د ده ماسلي تر (٥٠) افغاني کمه نه وي.

يوه ورځ حاکم وروغوښت او ورته ويې ويل:

"زويه! نام خدای ډېر جرار سوی يې او په دې منطقه کي دي ښه نوم هم ايستلی دی. ته به خبر يې چي په شکردره کي د...لپاره يو لوی او په زړه پوري باغ بايد جوړ سي. تا په خپله وليدل چي په خپله دی هغه ورځ راغلی و او هغه دوه کسه خارجي مهندسان هم ورسره وو، څوک چي هلته د هغې مځکي (ټوپوګرافي) کوي او بيا به د هغې له مخي د باغ نقشه جوړېږي او



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

وروسته به په خپله د باغ جوړېده شروع سي، پرون ته دلته نه وې او کوم ځای ته په ماسلی پسې تللی وې. د کابل والي... صاحب په خپله تشریف راوړی و او ویل یې چي سږ منی باید د باغ سرکان وایستل سي. هر چیري پلنې چوترې جوړي سي، د نیالګیو د کښېنولو لپاره ځایونه چمتو سي. د دې غرض لپاره باید شاوخوا خلک راټول کړای سي. نو ته خو ښه پوهېږې چي دا خلک خورا سپین سترګي دي، په مشر او کشر پسې دومره نه ګرځي. بیکاره او وزګاره پیتاوي ته پرېوځي خو چاته ښه نه اړوي. نو لرګي په کې وکاږه (*) او د جمعي تر ورځي پوري به لږ تر لږه پنځه سوه کسان راټولوې،... صاحب خو زموږ او ستاسي مشر دی او موږ او تاسي یې تر وزرو لاندي پراته یو. دې ملک ته یې ستر او نه هېرېدونکي خدمتونه کړي دي. دغونه حق خو لري چي باید په دې منطقه کي هم یو باغ ولري. چي یوه ورځ ساه په کي واچوي او خپل طبیعت په کي سم کړي. دا زموږ او ستاسي سپین مخي ده چي یو ښه او په زړه پوري باغ ورجوړ کړو."

په دې وخت کي حاکم په خبرو کي نوک ونیو (*) او بیا یې خپله خبره پسې واخیستله:

"په پغمان، ریشخور، جلال اباد او نورو ځایونو کي یې ښه-ښه او ارت ځایونه اچولي دي او ښې-ښې ماڼۍ او ښکلي باغونه په کي جوړېږي. د هغو ځایو خلک خورا حق شناسه او نمک حلاله خلک دي، په نیمه خوله د ... صاحب د کار لپاره د اشر په توګه حاضرېږي. یومان او کولنګان هم په خپله راوړي. ډوډی هم خپله خوري. خو دلته چي د تا غوندي وطن پالونکي زلمیان پسي نه وي او د لرګي زور نه وي په پسې والله که یوه ورځ څوک ځان خوار کړي".



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

شپې پښې سره جوختي کړې او په يوه داسې بږغ چې د ده ډاډ يې څرګنداوه وويل:

"صاحبه! يو څو تکړه ماسلان راکړه نو بيا يې ګوره په خلګو کې خو شيطانان هم سته. د چا خبره به نه اوري او نه به د ښيلو (بابو لالو) ته غوږ نيسي. ها بله ورخ تاسي په خپله وويل چې دا خلګ خو د چرګ غوندي طبيعت لري. که يې غړند ونيسې هم بغاري وهي او که يې کلک ونيسې هم او..."

حاکم يې خبره پرې کړه او ويې ويل:

"دا خبره ماته مه رابنيه! ورسه هر څوک چې دي خوښ وي هغه در سره بوځه مقصد په تاکلې ورخ بايد تر پنځه سوه پوري کسان راغونډ وي. که تر دې لږ وو نو غوږونه به دې په وره پوري مېخ کړم".

يوه ورځ يوه ډله سپين ږيري او خولې د پرېکړې (*) سړي عرض ته راغلل.

يوه سپين ږيري وويل:

"صاحبه! ته خو زموږ مور او پلار يې. ته پوهېږې چې دا د منې وروستي شپې او ورځې دي. هر څوک خپل لوښي او لرګي راخوندي کوي. په تېره بيا د اکثرو خلګو د پروږو درمندان تر اوسه لا پراته دي. او راخوندي کولو ته منتظر دي. اوس موږ پرېږده. په لومړي پسرلي به هر څه درته وکړو. د دې کار د کولو ښه وخت پسرلی دی. مخکه لمده وي کار ښه په کې کېږي".

يوه بل سړي پر راږغ کړ:

"صاحبه! دا بېګارونه اوس مه راباندي..."

حاکم يې په ډېر قار خبره غوځه کړه او په يوه وچ بږغ يې ورته وويل:



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

"ولي دا کار يو بېګار بولئ دا خو يو اشر دی. تل د کلي او يا د يوه ټبر خلک خپل مشر او يا خپل نېستمن سړي ته اشر ورکوي نو تاسي..."

هغه سړي بيا پر رادرسته کړه:

"صاحبه! خوله يې خطاوتله ستا سام پر پروت دی. پر دواړو ستر ګو يې کوو. خوله وخته سره".

حاکم ټول خلک دلاسا کړل او يو څه وعظ او نصيحت يې ورته وکړ او بيايې ورته وويل:

"د پسرلي موسم خورالنډ وي. هر څوک په خپل کار بوخت وي. تخمونه کري نيالګي ږدي په باغونو کي بېلونه وهي او داسي نور ډېر کارونه وي. اوس ښه وخت دی. د دې باغ کار خو خورالوی او دروند کار دی. يوه برخه به يې اوس تر سره کړو او پاته کار به يې په پسرلي وکړو. نوري خبري مه کوئ. قاضي صاحب هم دلته ناست دی. د هغه هم دغه ډول خوښه ده.

قاضي صاحب لاس پورته کړ او دعا يې وکړه. چي خدای دې دين او دولت په کرار لري او خدای دې زموږ د ګران ټولواک سيوری زموږ او ستاسي له سره نه کموي".

قاضي سمدلاسه خپل غبرګ لاسونه اوچت پورته کړل او څو آيتونه يې په يو څه لوړ بږغ وويل. او بيا يې خلګو ته مخ ور واړاوه:

"مومن مسلمان ته خپر رسول څومره ډېر اجرونه لري نو که ستاسو په اوږو يو مسلمان ورور ودان سي څومره ثوابونه به وګټئ. د حاکم صاحب خبره نړی لاندي باسئ (؟) او يو څو شپې دا تريخ غوړپ تېر کړئ. خدای او رسول به در څخه راضي سي".

عرض ته راغليو کسانو يو بل ته سره وکتل او نور څه چاونه ويل. په ټاکلي ورخ په هغه دره کي چي باغ جوړېږي ډلي-ډلي



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

خلک پر له اوري. ډولونه او سرناوي وهل کېږي. د هر چا يوم او يا کلنګ په اوږو دي او هغه لوري ته درومي. يو څو داخلي مهندسان هم شته چي ځای په ځای د لرګي ميږوي ټکوهي. د دې ځای يوه برخه له کاڼو او بوټو ډکه ده. يعني د باغ په دريمه برخه کله کرنه سوې نه ده، خو دوې برخي ځمکه يې ودانه ده. په لږ موده کي شاړه ځمکه د خلګو په قوت او زور په ښکلي او ښايسته بڼ واړولې سوه، او هيچا دا ګومان نه کاوه چي دا ځمکه دي يو وخت شاړه پرته وه. د جمعې د ورځي پر درو بجو والي صاحب راغی د خلکو فعاليت چي يې وليد تندی يې په اصطلاح دوې لوېشتي وغوړېده او حاکم ته يې وويل:

"څو کسه به په کار بوخت وي؟"

"موږ صرف پنځه سوه کسه غوښتي وو خو ماسلانو لږ څه فعاليت کړی و. د زرو کسو په شاوخوا کي يې راوستلي دي. که حقيقت راباندي وايې نو دا د ماسلانو فعاليت مه ګڼه خلک په خپله اوس د خپل وطن له مشرانو سره مينه لري. په نيمه خوله د دوی د کار لوري ته راروان وي. خلک اوس وپوهېدل چي د همدې زړسواندو او ملت پالونکو مشرانو تر سيوري لاندي د هوسايي ژوند تېروي. پخوا به داسي ورځ نه وه چي په دې منطقه کي پنځه شپږ مړي ونه سي. او س د مشرانو په توجه او ستاسي د ښه تدبير په اثر د ورځي يو سړی هم نه وژل کېږي. نو ولي به دوی د زړه له کومي کار نه کوي".

په يوه هفته کي سړکان وکښل سول. چوترې له نقشې سره سمې وداني سوې. په اکثرو برخو کي د مني نيالګي هم کښېښودل سول. هغه شاړه او ويجاړه ځمکه چي د غره په ډډه کي پر ته وه او د ټول باغ دريمه برخه بلله کېده داسي ودانه کړای سوه چي چا



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

دانه ویل دلته به کوم وخت کاني او بوټي وو، ټول کاني د رود خواته ورغړول سول.

بله جمعه چي والي صاحب راغی او باغ یې په یوه متشکله بڼه او ځرګند چوکاټ کي ولید خورا خوشحاله سو او مهندسانو ته یې برغ کړل:

"خورا ستر او په زړه پوري کار مو وکړ. که...صاحب دا باغ ولید نو له خوشحالی به یې پښې مځکي ته ورنه سي. تاسو درو واړو مهندسانو ته تقدیر نامې درکوم او یوه-یوه رتبه به مو درلوړه کړم".

یوه مهندس چي دېرش کلن معلومېده په ډېر احترام او ادب د ده له دې مهرباني او خوا خوږي څخه تشکر وکړ او ویې ویل:

"صاحبه! که مې رښتیا پوښتې دا د خلکو زور دی چي دا دومره ستر کار په دومره لږه موده کي سر ته ورسېده. د دې ځای زلمیان خورا غښتلي او خواریکښ دي او..."

حاکم د مهندس خبره غوڅه کړه:

"په خپله د...صاحب تالې لوړې دي پر خلکو هم خورا ګران دی ځکه داسي په اخلاص او توده وینه کار ور ته کوي".

"صاحبه! یوه خبره به در ته وکړم هغه دا چي ستا خپلې مځکي او باغونه ښار پر اته دي. که دي اجازه وي په لږه موده کي به یې سم کړم، په تېره د دې ځای خلګ د جووو په کښلو کي خورا پیاوړي او پوه دي. د پښتو دا متل دلته ښه لګېږي چي وایي:

"(د اولس زور د خدای زور) نو اولس ته دا کارونه دومره درانه نه دي تاسي خو هم اخر حقدار یاست".



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

"کور دي ودان حاکم صاحب! ته په خپله يو خانزاده سړی يې د لويي کورنۍ يې. ستا د غټې جايداد او د سخانکلونه مي هم اورېدلي دلي، زما کارونه ته اوس پرېږده. په پسرلي مي خيال دی چې له خلګو يو اشر وغواړم او دا خپلې مځکې او باغونه ودان کړم".

شېر حاکم ته نږدې ولاړو، کوم وخت چې مهندسان بېرته ولاړل او په باغ کې د کار کوونکو مشران لا د والي حضور ته نه وو راغلي چې حاکم شېر تر مټ ونيو او هغه يې داسې ورته معرفي کړ:

"صاحبه! خورا ښه او په زړه پوري خدمتګار دی. له ډېره صداقته او غښتلوالي فيل چپه کوي. دا چې خلک ګورې دا ټول د ده له خواسره راټول سوي دي. دی هم د ښې ستاينې او انعام وړ دی، خورا سور سترګی سړی دی".

والي د ده پر سر لاس تېر کړ او د تحريراتو مدير ته چې تر څنګ يې ولاړ و وويل:

"پنځوس افغانۍ د بخشش په توګه ورکړه. که ښه سور سترګی وي، نو زما په حاضرباشانو کي يې شېره کړه".

♣♣♣



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

## اته څپرکی

هسي خو شېر د جمعې هر شپه کور ته. ته او د شنبې په سهار بېرته راته. خو د جدي په میاشت کي یې یوه هفته رخصت واخیست. او کور ته ولاړ. ده او پلار حساب سره وکړ. په دې موده کي شېر اته سوه افغانی مونډلې وې او د ونډي له پیسو سره یې اوس څوارلس سوه افغانی د (سن) هندو پر دکان ایښې وې. لومړۍ شپه نه، دوهمه شپه یې مور په داسي حال کي چي د شېر پلار هم ناست و وویل:

"زویه! لمسي ته مي خورا هوا کېږي. اوس دا دی شکر دی یو جوال روپۍ لرې، څه شي ته ګورې؟ باید سمدلاسه د واده سرشته وکړو. ګلالی هم اوس تکړه او پېغله ده او ستا هم ترمه (تنکی) ځواني ده ګلالی بشپړه پر ځان ګرځېدلې ده. د لویېښت (بلوغ) یې ډېره موده کېږي. زه هم سپین سرې یم. د کور کار راباندې درونددی".

د شېر پلار وویل:

"ښه وایې مور، خو خواران خلک یو. دا میراث خواره یې کله یو ډول وي او کله بیا بل ډول. ښه دا ده چي لاس مو ځني راوخېږي او خپله ناوې خپل کورته خیني راولو او دا تبه ژر وشلېږي". شېر د پښتوا غوندي حیاناک او شرمندوک زلمی نه دی. دی اوس خورا زوړور او معتبر سړی دی. د دې خبرو په اورېدلو یې مور او پلار ته وویل:



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

"د پیسو له خوا زړه مه وهئ کالي به له (سن) څخه په پور واخلو. زه به هم نبې خوي ولګوم (کوښښ وکړم).

دومره خبره ده چې ژمی راغی. په ژمي دومره جنګونه او دعوې نه وي. په ماسلي ډېر نه وځم خو ګومان کوم چې د پسرلي په لومړیو شپو کې به ډېر څه په لاس راسي. دا نور زاړه او تجربه کار ماسلان وايي چې په پسرلي کې چې د (پیدا) وخت دی او پونده هم له کښې راخېژي نو د میرزا او حاکم خپل او خپلوان او یا د دوی د کلي خلک راځي او اکثره د ماسلي رقعې هغوی ته ورکوي. موږ رسمي ماسلان بعضي وختونه لاس تر زنه ناست یو. که زه خپله جرار توب ونه لرم نو والله که مي خپله ډوډۍ موندلې وای.

ډېر ماسلان دي چې له بېکارۍ ټوله ورخ سپېرې سره جنګوي. د جلب رقعې د رسمي ماسلانو په نامه لیکلې کېږي. خو د اجرا لپاره یې خپلو خپلوانو ته ورکوي".

پلار یې یو څه په جرات ورته وویل:

"څه چې په ازل کې درته لیکل سوي دي هغه به در ورسېږي. خدای خو مهربانه دی ګوندي داسې موقع په لاس درولي چې یو څه په کې درولوېږي. وار مه خطا کوه".

شپږ د خپلې ټولي رخصتۍ شپې او ورځې د خوابنې کره د ګرځونو (چغل بازی) په حال کې تېرې کړې او په دې موده کې یې د واده لپاره نبې او په زړه پورې خبرې له ګلالۍ سره وکړې.

ده یوه ورځ خوابنې ته وویل:

"موږ اوس صرف څوارلس. پنځلس سوه افغانۍ لرو چې دا پیسې ولور نه پوره کوي. خو له حاجي صاحب سره مي خبرې وکړې. هغه راته وویل "چې په پسرلي به زما د ونډې پاته شپږ



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

سوه افغاني هم راکړي ګونډي د ولور چېته (پرېکړه) په وسي. د کاليو او نورو لګښتو لپاره به پور وکړم":

خوابني يې په خورا خواخوږی ورته وويل:

"زړه مه وهه! هر څه اسانه دي. ماله ميراث خورو سره دا خبره غوټه کړې ده. دوی وايي چې د ولور نيمايي موږ ته نغد راکړه. نو دانور يې ستا. که لور ته ګېڼه مېڼه په اخلې او که يې په خپله ښه کوې. نو ما داسي فکر کړی دی چې په دې وختو کي به زر افغاني هغوی ته ور ولېږم. په دې توګه به د هغوی خوله له ځانه بېخي وکاږم. باقي پاته سوو موږ او تاسي... زما بشپړ باور دی چې موږ به په ښه توګه او په خوږه خوا ترله تېر سو. او د يوه بانه د درندېدو په اندازه کې کېچنوالی به پېښ نه سي. ته خپله ونډه په پوره (ډاډه) زړه ادا کړه. په دې برخه کي زړه مه خوره. دا خبري ما ستا مور او پلار ته تر اوسه نه دي کړې. خکه ډارېږم چې دوی به بې غمه سي او د واده سرشته به په ښه توګه ونه کړي".

شېر د خوابني په دې ښو او په زړه پوري خبرو خورا خوشحاله سو او خپل مور او پلار يې پټ پوه کړل چې د واده کيسه نوره هم اسانه سوه او دوی بايد په دې برخه کي خپل زړه ډېر ونه خوري.

شېر خپلې نوکرۍ ته په خوشحالی بېرته ستون سو او لږ وخت وروسته څو درنې پېښې وسوې چې شېر په هغو پېښو کي خورا ښه (پيدا) وکړه او د ژمي په شپو او ورځو يې نږدې درې سوه افغاني وموندلې.

يوه ورځ د ده يوه انډيوال ورته وويل:

"والله تالې دي ډېري ښې دي. زما دا دوهم کال دی چې دلته يم خو ما دانه دي ليدلي چې رسمي ماسلانو ته دي دومره



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ډېري رقعې او حوالې ورکړلې سي. پر تا هر څوک مهربانه دي، لکه چي کوډي دي کړې وي. روپۍ له هري خوا درباندي اوري".

لومړی تر هغه چي په خپله شېر څه ووايي يوه بل انډيوال چي دواړه لاسونه يې تر سر لاندي کړي او ستوني ستغ اوږد-اوږد پر خپله کراسته پروت و وويل:

"دا خو بازاري سړی دی په هر څه پوه دی. دا متل دي نه دی اورېدلی چي وايي (سل روپۍ پور کړه، زوی پر بازار لوی کړه). ته خبر نه يې چي شېر دلته له سترو کسانو سره پټه لاره لري. هر څه چي مونده کړي نيمايي هغوی ته په خوله کي ور اچوي نو د دوی نظر هم پر ده باندي ډېر وي".

کوم وخت چي ژمی په وتلو سو پښه خلاصه سوه نو د خلکو فعاليت ورو-ورو ډېرېده.

وروسته له جرباجړ (د حوت مياشت) څخه يوې و وتلې. هري خوا ته توري-توري يوې په غنمو او ورېشو کرلو بوختي برېښي چي د پسرلي کښتونه وکړي.

د صاحب... په باغ کي د ګلانو د کرلو لپاره پټي بايد جوړ سي يوم بايد ووهل سي او مځکه پر له واړوله سي. دا د باغ لومړی کال دی د دې کار لپاره ښه ډېر خلګ په کار دي. د منې په ډول بيا خلګ سره راټول کړل سول. په دې وخت کي د والي صاحب د باغ او مځکو جوړولو کار هم شروع سو. خلګ د دغه کار د کولو لپاره هم له شاوخوا کليو سره راټول سول. د شېر فعاليت خورا ډېر او درونډ سو. شېر د خلګو په راټولولو کي دومره ډېر بوخت و چي ده هيڅ په سترګو نه ليدل. د هيچا لحاظ يې نه کاوه. هر څوک چي به په مخه ورغی هغه به يې د کار لوري ته څکاوه. يوه ورځ يوه کلي ته ورغی او څو ښه غښتلي بزګران يې وليدل چي په خورا



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

پوره زړه او بې غمې د انګورو د تاکونو لپاره ځايونه جوړوي. شېر چې ورنږدې سو پر بړغ يې کړل:

"خدای مو خوار کړه! نه مشر پېژنئ او نه کشر. په خپلو کارو کې خو داسې بنه متېه وهئ او د زړه د کومې په کار بوخت ياست. خو چې څوک درته ووايي چې د خپلو مشرانو په کار کې هم لږ خان ستړی کړئ نو مو ايمان تر ګېډه سي. راځئ يو دوې ورځې مرسته وکړئ او داسې يوم ووهئ لکه دلته چې يې وهئ".

شېر د دوی کار خورا خوښ کړ او خوند يې ورکړ چې خلګ بايد داسې کارونه وکړي او په زړه کې يې د دې هيله مونده سوه چې کاشکې دی هم دومره اوچت او غښتلي وای لکه دا بزګران چې دي.

په دې وخت کې يوه زلمي بزګر ورته ووېل:

"ته څه فکر کوې چې دا د مشرانو کار نه دی څه؟، زموږ دومره باغ او جووې له کومه سوې؟ خدای خو يې هغه چاته ورکوي چې پر پيرزو يې وي. دا پلن او په زړه پوري باغ د ... صاحب دی چې خورا غټ سړی دی. خدای دې موږ د ده له شره وساتي. دی تل په دربار کې وي او له ټولواک سره اوږه په اوږه ناست مړی خوري پر هغه خورا ګران دی. د ده خبرې ملغلري غوندي ګڼي خدای دې اقبال د غومره نور هم اوچت لري. خدای دې زموږ د ټولواک سيوری هم تل تر تله لري".

شېر لږ څه سور پرله واوښت او د سترګو سپين يې ډېر سول او په يوه وچ بړغ يې ورته ووېل:

"تاسې مانه شئ خطا ايستلای. په دې چل غواړئ چې خان تېر کړئ. يواځې تاسې پر دنيا مين ياست. دا نور خلګ ګواکې هيڅ کار نه لري او وزګار ناست وو چې د ... صاحب کار ته ولاړل.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

درځئ سدرې واغوندئ پګړۍ په سر کړئ همدغه ډول په نغښتو پړتګو کي درځئ. يوه دوې ورځي خوارې ده ويې ګالئ".

يوه زلمي بزګر ورته وويل:

"ګوره ته د حکومت سړی يې! موږ هم له تا څخه کم نه يو. زموږ بادار که ستا په دې وضيعت خبر سو نو ته باور وکړه چي ډېر زيان به در واړوي. په موږ پسې مه ګرځه. نور د خدای مخلوق ډېر دی هغه بوځه. که نه وي بيا به پښېماني کوې او هيڅ به په لاس نه درځي".

د ښېر او بزګرانو تر منځ شخړه پېښه سوه. ځکه چي بزګران ډېر وو. نو ښېر ښه وترټل سو او لاس او پښې يې وګرېلې (ګرېدلې) سوې. ښېر په ډېر قار او خواشيني د ... صاحب د باغ خواته راغی او په بيړه يې خپل څو نور انډيوالان د حاکم په اجازه بوتلل او هغه بزګران يې راوستل او په کار کي يې ورګډ کړل. دوې ورځي وروسته چي بزګران بېرته خپل کلي ته راستانه سول. نو بيا په خپل کار په مينه لګيا سول. د جمعې په ورځ چي د دوی بادار راغی هغه په ماښجن ږغ ورته وويل:

"کار مو لږ رامعلومېږي. دا کار خو پخوا لا بايد سرته رسېدلی وای. دا ځنډ مو ولې کړی دی؟ لکه چي په نورو کارو اخته سوي ياست".

يوه بزګر چي ناظر غوندي هم بلل کېږي د ښېر نکل ورته وکړ چي په هغه باندي ... صاحب خورا خواشيني سو او تر شونډو لاندي يې وويل:

"زه ورسره کار لرم". بيا يې د ښېر نوم يادداشت کړ او د مازيګر خواته چي لمر غوټه کېده ښار ته ولاړ. دوې ورځي وروسته ښېر بندي سو او له مرکز څخه يو هيئت راغی چي تحقيقات وکړي چي دا دومره ظلم او تېری چا کړی دی او ولي



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

سوی دی او خلک ولي په زور کاروته بېول کېږي. حاکم لاس او پښې وکړې او د تحقیقاتو په پای کې شپېر د دې (ظلم) لوی مسول وګڼل سو. خو د شپېر مور او پلار د حاجي صاحب هتې ته نواتي ورغلل. د شپېر مور حاجي صاحب ته وویل:

چې که یې زوی خلاص نه کړي نو دا خپله زړه څادري به دلته ټوکر - ټوکر کړي او هم به خپل ګرېوان څېري کړي".

حاجي صاحب ځینو ځایو ته ټیلیفون وکړ او وروسته له هغه چې د شپېر پلار پنځه سوه افغانی دوري را دوري ولګولې شپېر په متي خلاص سو. کوم وخت چې شپېر کورته راغی نو مور یې ورته وویل:

"د پښتو دا متل چې وایي (د پاچا شکري په غم ککړې) خورا ښه او په زړه پوري دی. زویه ښه سو چې په خېر روغ او رمټ راخلاص سوې. (چې سر وي خولی ډېري دي)، روپی پیدا کېږي چې سر وي مالا پخوا ستا پلار ته ویلي وو چې پر موږ خوارانو دا حرام خوړه نه ځي. پلار دي په خوانی کي یوه پلا په دغسي ناوړه حال اخته سوی و، خو موږ له هغه څخه عبرت وانه خیست او دا دی بیا مو ځان په ککړ کړ".

د حاجي صاحب ناظر پر دې کاله خورا زړه سوی و، او حاجي صاحب ته یې خوله کړه کړه چې شپېر پرېږدي او حتی مرسته ورسره وکړي چې د خپلې ونډي یو کال نور هم په کوم بل ځای کي تېر کړي او پر یوه غټ مامور خط ورکړي چې شپېر د کوهدامن له حکومت څخه بدل کړي او کومي بلي منطقي ته یې واستوي. د شپېر مور او پلار په دې خوشحاله وو چې د میراث خورو غاړه یې ایستلې وه او له دې پلوه بې غمه وو. خو د نورو لګښتونو لپاره اوس هم ډېري روپی په کار وي. شپېر تقریبا شپه او ورځ پر ځان یوه کړه تر څو یې د حاجي صاحب په مرسته د



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

کوهستان محلي حکومت ته بدل کړ. کوم وخت چي شپږ حاجي صاحب ته د خدای په اماني لپاره ورغی نو هغه ورته وويل:

"تا دي خدای خوار کړي لکه خوار سوی چي يې، ته بايد خلک وپېژنې، سپين کالي او بيلي پښې والا بايد ترله وامري (سره جلا کړې)، د معتبر او غېر معتبر بايد تميز سره وکړې، بلـه دا چي پښې تينګي لګوه، هر چاته په يوه ستر ګه مه ګوره، په خلکو کي خدای فرق راوستلی دی. له زوروره څخه سړی ځان کاږي او خپله منګوله د هغه په غښتلي څپېړه کي نه ورکوي، دا پلا خومي په ته څه خلاص کړې. بله پلا دي والله که څوک پوښتنه لا وکړي. څه ورک شه پر رب مي سپارلی يې خپل دومره کارونه لرم چي والله که د سر ګرولو ته خلاص يم".

شپږ د حاجي صاحب لاسونه مچ کړل او سمدلاسه له هغه ځايه راووت او نېغ هغه سرای ته ورغی چي له هغه ځايه پروان ته موټران ځي. ده چي د خپلې تبديلي ليک د هغه ځای حاکم ته ښکاره کړ نو هغه ورته وويل:

"هلکه له کوهدامنه يې ولي راوشړلې؟ له مخه دي څرګندېږي چي ډېر وړی لېوه يې! خو دلته دا خبري ځای نه لري، بايد له ابدارو او سپين کاليو خلکو سره په ډېره ښه وضعيت ولرې".

بيا حاکم د ده تر راوړي ليک لاندي چي په سلسله يې ورته راوړی و وليکل (عدلي څانګي ته دي ورکړل سي).

ګهيخ شپږ د قاضي حضور ته ورغی او خپل راوړی ليک او د حاکم امر يې ورڅرګند کړ. د قاضي په خونه کي شاوخوا دېوالو ته ښه ډېر کسان ناست دي. د قاضي يوه لويه غټه سپينه پګړی پر سر او توره اوږده ږيره يې ده او سترګي يې په رنجو توري کړې دي او پر يوه پنډه نيالي چي له ډېرو خيرو توربخونه اوښتې ده



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ناست دی. قاضي په داسې حال کې چې لومړی يې خپله په وېښتانو کې پټه لاندينۍ شونډه د لوړې ژامې تر غاښو لاندې کړه په يوه امرانه او له حکمه ډکه لهجه کې وويل:
دا شرعي څانګه ده، دلته د لاس اوږدولو ځای نه شته. هر چا چې هر څه په لاس کې درکړل په هغه به قانع يې او د ډېر غوښتلو اسره به نه کوې. تکړه زلمی ځر ګندېږې. ګوندي ښه کار وکړای سې، څه ورسره ملا وتړه محرر به درته ذره هم درکړي، که دي موږ خوشحاله کړو نو دا امکان سته چې له محتسب سره دي اطراف ته ولېږو".
پر شېر باندې دا وروستی خبره خورا ښه ولګېدله او وروسته له هغه چې قاضي ته يې غبرګه سلامي ووهله نو محرر ته چې هغه هم په هماغه کوټه کې پر يوه زړه غوندي نيالي په يوه کونج کې ناست و ورغی او د هغه امر ته منتظر سو.
شېر ګمان وکړ چې محرر به د قاضي امر اورېدلی وي او سمدلاسه به (ذره) ورکړي. خو پر محرر باندې څلور پنځه کسه عارضين راګرځېدلي وو، ده د قاضي امر اورېدلی نه و. کوم وخت چې شېر عارضين سره يوې خواته کړل نو يې محرر ته د قاضي امر واوراوه. محرر سمدلاسه راولاړ سو او يوې بلې تاريکې کوچنۍ خونې ته ننووت او ذره يې راواخيستله او شېر ته يې وسپارله. شېر هغه په دواړو لاسو ونيوله او مچ يې کړه. بيا يې سمدلاسه هغه په ملا کې ووهله او د تيارسۍ په حال کې د قاضي مخې ته ودرېده. د قاضي چې پر ده سترګي ومښتلې په يوه خوږه ژبه يې ورته وويل:
"دلته د شريعت کور دی دلته ټول خلک يو شی او مساوي بلل کېږي يوې خواته کښېنه کوم وخت چې کار سي درته وبه



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ویل سي او یا هلته ورسه له چړي سره د ډوډۍ په پخولو کي مرسته وکړه".

د قاضي ډوډۍ پخوونکی یو سپین پګړی هلک دی شېر سلام ور واچاوه او دا چي دی قاضي راواستاوه هغه ته وویل.

چړي سمدلاسه یوه سپینه حلبي کاسه او یو غاب په لاس ورکړ چي هغه دباندي پر ویاله پرېمنځي.

شېر به کله په اشپزخانه کي له چړي سره مرسته کوله او کله به د قاضي په خونه کي د نور مراجعینو به ډله کي ناست و. صرف هغه وخت به پر خای درېده چي قاضي به پر یو چا په قار سو او دی به دې ته منتظر و چي د قاضي په امر هغه سړی په څپېړه ووهي او یا یې دباندي وباسي.

لومړی ورځ شېر د قاضي په امر دوه کسه (۲۱-۲۱) دُرې ووهل، مابنام محرر و شېر ته وویل:

"تانن دا خلګ خورا کلک ووهل. بله ورځ داسي مه کوه. خلګ سوکه وهه مدعا چي د شریعت امر په ځای سي".

شېر په لږه موده کي د محکمي په خوی او بوی پوه سو او د پیسو په پیدا کولو هم روږدی سو. ده د قاضي له وینا سره سم له هیچا کوم شی په زور او جبر نه اخیست. خو په خپله د محکمي د رسم او رواج په اساس ده هره ورځ یو څه (پیدا) کوله. (دعویجنو) به یو څه شی لکه چرګ. غوړي. هګی او نور شیان ورته راوړل.

د جوزا میاشت رانوي سوه. شېر په دې دوو میاشتو کي تقریبا دوه نیم سوه افغاني مونډلي او سپمولي دي. ده غوښتل چي خورا ژر کابل ته ولاړ سي او هلته خپلې پېغلي. مور او پلار ته خپل حالات په ښه توګه ووایي، دا دوې میاشتي پر ده خورا درني او اوږدې تېري سوې. خکه له دې ځایه دی هره د جمعې ورځ لکه



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

دين باز خواست كوي او هم به په لږه موده كي يو شي درجوړ سي".

شېر خپله رخصتي په خورا خوند او خوشحالي كور تېره كړه، دی هره شپه له خپلي پېغلي سره و او د واده او كله-كله يې د زامنو او لوڼو په باره كي خوږي-خوږي خبري او مركه كوله. شېر او ګلالۍ دا فيصله وكړه چي بايد لومړی تر هغه چي د ونډي موده پای ته ورسېږي واده وكړي، په تېره د شېر مور پر خپلي بېكسي خورا ژړل او تل يې ويل "چي شېرجان ته دي خدای زوی وركړي چي زما د وروستي عمر لكړه سي".

شېر په خوشحالي پر ټاكلي وخت بېرته خپل كار ته حاضر سو او د محرر په پوست بنه ورننووت چي ژر يې له محتسب سره مقرر كړي. ده له محرر سره دېري چني ووهلې او په پای كي يې په (۱۵۰) افغاني ومنلې. په درو څلور شپو كي د شېر مكتوب وليكل سو او د محتسب سره د ګرخندوی ماسل په حيث مقرر سو. محتسب چي په خپله د همدغي علاقې يو ملا وشمه سړی دی خورا بې دوله او بې دبه دی. د ده مخ كوي داسي ټكولي دي چي ته به وا غرونه او لوړي او ژوري په كې دي او ستركي يې خورا تنګي دي په تېره چي كومه ورځ وخاندي نو ستركي يې تر څو ثانيو پوري وركي وي.

شېر محتسب ته په خورا اطاعت او منته وويل:

"صاحبه! خواريو او نيستيو پر سر اخستی يم، مور او پلار مي له لاس او له پښو لوېدلي دي، درونـد ولور راپسي دی، كه ته خدای مهربانه كړي او ستا له اړخه يو څه مونده كړم تل به ستا منته كوم او دا ښه به دي نه هېروم".

محتسب په داسي حال كي چي پر خپل ټټو يې پښه اړوله او د هغه د زين پر يوه تانګ باندي شېر لاس ور ته ايښی و وويل:



كتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

"ته چي د پاک الله په لار کي خدمت وکړې نو ولي به څه نه کړې مونده. هر څوک چي د دين په لار کي په اخلاص ګام واخلي خداى د هغه پرمټو او غړو بر کتونه ږدي او داسي هو ساه او بې غمه يې وررسوي چي هغه په خپله ورته حيران وي، چي داله کومه راځي. د سعدي صاحب دا بيت دي نه دى اورېدلى چي وايي:
(دوستان راكى كنى محروم، تو كه بادشمنان نظر دارى).
درځه چي نن دا پوري کلي ته ورسو او وېدل کېږي چي هلته خلک لړ څه لټان سوي دي او د دنيا ميني دومره په مخه کړي دي چي اړو د خداى خواته يې هيڅ فکر نه شته لړ د غوږو تاو ور كول په كار دي".
محتسب پر ټټو سپور او شېر د هغه په مخ کي ځي. د شېر داسي ځپلي په پښو دي چي د موټرو له زړو ټايرو څخه جوړي سوې دي او په دې تودوخه کي يې خولې تر نوكانو څک-څک بهېږي. پر لاري محتسب ورته د الله د نعمتونو او د هغه د قدرتونو خبري كوي، او د جنت ښېګڼي ورته وايي. د جنتيانو د هوسا او په زړه پوري ژوند په شاوخوا کي په خورا په خوږو الفاظو وينا کوي.
شېر دې خبرو ته ټول يو غوږ سوى دى او داسي په خوند او مينه يې اورې چي ګواکي دى اوس هلته په جنت کي دى. بيا محتسب ورته وويل:
"ته په خپله بايد لمونځ او اودس ښه زده كړې پلار خو دي موځي او عامي سړى دى. له هغه څخه به تا څه زده كړي وي".
شېر د محتسب دغه وينا ښه نه واو ريده. ځکه چي دى لا تر اوسه پوري د جنت د ښو نعمتو او حورو غلمانو په چرت کي لاهو و، محتسب يې مزغي ته ګوته وروړه او دى يې د دې خوارېه فكر له سيند څخه رابرسېره کړى. شېر بې له كومي بلې خبري له محتسب څخه پو ښتنه وكړه:



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

پخوا غونډي کابل ته نه سي تلای. قاضي، مفتي، محرر او چپړي ځلور واړه په همدغه ځای کي اوسي چېري چي دوی کار کوي، یعني د دوی ځای هم محکمه ده او هم د استوګني ځای. چپړي هم د محرر سره مرسته کوي او هم محرري زده کوي او دیني سبق له مفتي څخه وایي او په عین حال کي د دوی کتو پخوي، پخه وچه ډوډۍ د یوه کور څخه ورته راځي چي هغه کور ته وچ وړه ورکوي، او هغه د یوه منه وړو په مقابل کي (۲۰) افغاني مروجې ډوډۍ ورکوي. شېر هم د ماسل وظیفه اجرا کوي او هم ځای جارو کوي لوښي مينځي. یوه ورځ محرر ورته وویل:

"ماته دري سوه افغاني راکړه زه به دي په قاضي صاحب د محتسب د ماسل په حیث مقرر کړم".

"ماته ځلور پنځه ورځي رخصت" واخله، چي زه بېر ته راسم په دې برخه کي به خبري سره وکړو".

شېر د پنځو ورځو په رخصت کور ته ولاړ هلته يې ګلالی او خپل مور او پلار ته د خپلې خوشحالی نکلونه وکړل، پلار يې ورته وویل:

"په دې خوشحاله یم چي د دین په خدمت کي ولاړ یې، ملا تینګه وتړه! خدای پاک به ښه برکت درکړي، ته په خپله وګوره چي دهمدې خدمت په برکت دي ښه (پیدا) هم کړې ده. په حکومتي ماسلی کي خو به دي زاره وچاوده. بیاهم ایله دومره څه درموندل کېدل لکه دااوس چي په هوسایي او سوواني (اساني) در رسېږي، د خلکو له منت څخه هم خلاص يې. بېشکه چي د دین خدمت برسېره په دې چي اخروي ګټه لري دنیا يې برکت يې هم خورا ډېر دی، زه له تا سره په دې خبره بشپړ سلایم چي محرر ته یو شی ورکړې او له محتسب سره ولاړ سې. په دې کي دي هم ثوابونه ډېر دي او د خدای له ښېلو او پوري وهلو څخه به د



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

"محتسب صاحب! ته وایه په جنت کي به د چرګ ښوروا وي؟ او که يې جنتي وغواړي څوک به يې ور کړي؟"

"ته خو رښتيا بې عقل يې! دا دومره نعمتونه چي شته. نو ته وایه دچرګ ښوروا به ولي نه وي. خو دا ټول نعمتونه د هغو لايقانو او بختورو په برخه دي چي هغوی د دين رسی ټينګه کړې وي او تل د رب ثناء وايي، دغه ډول بختور کسان به لکه دباد او برېښنا غوندي پر پل صراط تېرېږي. ته خو پل صراط پېژني چي څومره سخته لار يې ده".

شېر ورته وويل چي: "د دې پله په خصوص کي مي ډېري خبري له مور او پلار او هم له نورو ملايانو څخه اورېدلې دي. ته به دې برخه کي يو څه نور راته ويلای سې؟ پاک خدای مو دي په خېر له دې پله څخه تېر کړي".

محتسب په يوه داسي بږغ چي د ده حکم او امريت ځيني ښه څرګند و وويل:

"د پل صراط په خصوص کي دومره کتابونه ليکل کېدای سي چي دوک (دوه غابښي) خر يې نه سي وړای خو که يې په لنډو الفاظو کي درته ووايم نو بايد ووېل سي چي دا پل تر وېښته نری دی تر توري تېره دی، هغه کسان چي د خدای پر لاره سم نه وي تللي او يا يې ټول عمر په کفر کي تېر سوی وي پر دې پله باندي نه سي تېرېدلای، څرنګه چي پښه پر کښېږدي سمدلاسه به لاندي د دوزخ سرو لمبو ته لاهو سي. خو څوک چي ايمان تېر کړي ته ومنه چي هغه به لکه باد او برېښنا غوندي تر تېر سي، خو داسي هيله سته چي پاک خدای به ټول مسلمانان تر تېر کړي، ځکه خدای پاک ويلي دي چي مسلمان به تر ډېره په دوزخ کي نه پرېښودل سي".

شېر لږ څه په تعجب ورته وويل:



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

"يعني ګناه کاران به هم تر تېر سي؟"

"که يې توبه قبوله سي نو خود به تر تېر سي. د هر مسلمان توبه قبلېږي. مسلمان که هر څومره ګناه کار وي بيا هم چي توبه وکاږي له ګناهو څخه به داسي پاک سي لکه نوی چي له موره زوکړی وي..."

په دې وخت کي د ښېر سترګي د کلي پر ونو ونښتې چي له ورايه د يوې غونډۍ د څوکي له ها خوا څخه ځرګندې سوې، ښېر په خوشحالي وويل:

"صاحبه! دا يو کلي ته راغلو زه خو ډېر تږی سوی يم".

"شکايت مه کوه! د دې خواريو او زحمتونو اجر به پاک الله د ښېګني په تله کي در واچوي. بنده بايد صبر ولري. د صبر ونه په مراد پخېږي. خدای پاک په دې نه خوشحاله کېږي چي بندګان يې خواري او سختي ونه ګالي. خدای دي پر موږ او تاسي ورحمېږي. او له ګناهونو څخه دي راتېر سي. که خدای مهربانه سو، هر څه به ډېر سي په تېره بيا د جنت برخه به مو خورا ارته وي. دا دي نه دي اورېدلي چي وايي (په هغه جهان به په جنت کي هر مومن ته دومره ځای ورکړي لکه دا فاني دنيا او دومره به سرای ورکړي). بېشکه د خدای له قدرتونو څخه لېري نه ده".

دا وينا په متهي تمامه سوه چي دوی په کلي کښېوتل او نېغ د ماجت لوري ته روان سول د کلي په منځ کي يو مانده (خوړ) هم سته چي وچ دی. خو کله-کله د ډېرو بارانو په اثر ډک راسي. په مانده کي هيڅوک نه ښکارېده په دې وخت کي يو زنکي راځرګند سو. محتسب سمدلاسه ښېر ته امر ورکړ چي هغه ماجت ته راولي چي هلته د خدای د لاري او لمانځه او داسه پوښتني ځني وسي، نور څوک هم که په مخه درغلل بايد له ځان سره يې راولې. دوی چي هر څومره زاري جګي وکړي پر ېېږدې



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

به يې نه. زړګي له ورايه شېر و پېژاند چي ماسل دی څکه چي د ده د څرمنې ملا بند تر ملا و. زړګي له واره ځيني منډه کړه او شېر پسې ولټولې، وروسته له څو منډو هلک په يوه کور ننووت. شېر هلته پښه ونيوله. څو ناري يې وکړې خو چا غوږ و نه يوست. خو کوم وخت چي بېرته د جومات خواته راته يو بل په عمر پوخ غوندي سړی په مخه ورغی او هغه يې د جومات خواته رااووست او د پخواني زړګي نکل يې محتسب ته وکړ. شېر وليدل چي په خپله محتسب پر يوه پنډه نيالۍ پر يوه ښکلي چوتره چي تر يوه غټ توت لاندي هسکه جوړه سوې ده ناست دی، پر ده باندي شپېر اووه کسه نور هم راټول سوي دي.

د ده تر څنګ د کلي ملا او يو لوستی طالب هم ناست و. په دې وخت کي محتسب ملا ته مخ ورواړاوه:

"په کلي کي ټول هغه کسان را په ګوته کړه چي په لمانځه کي غړند دي او د خدای پر لار ښه سم نه درومي".

ملا صاحب غاړې تازه کړې او په داسي حال کي چي د تورو نسوارو بوتل يې پر ورغوي ټک واهه په يوه څواړه او سوکه ږغ وويل:

"الحمدالله چي په دين کي هر وخت د دين غاوران موندل کېږي؟ د اسلام يو او د اسلام په پاچهی کي ژوند کوو. شکر دی چي په دې مي زړه باغ-باغ سي چي څوک د دين په برخه کي پوښتنه ګروېږنه کوي. که مي رښتيا پوښتې په دې کلي کي ډېر داسي کسان سته چي د سهار او ماخستن لمانځه ته خو بېخي نه راځي او د ورځي په نورو لمونځو هم دومره پروا نه لري. بله خبره دا ده چي وعظ او نصيحت ته دومره نه کښېني او څرنګه چي په تلوار-تلوار لمونځ وکړي سمدلاسه د دنيا په کارو او چارو پسي منډي کړي، په تېره زلميان په دې وختو کي د خدای د اوامرو



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

دومره خیال نه ساتي. د زکات په برخه کي خو زلمیان او سپین ږیري خورا لټان دي. خان په یوه پلمه یا بله پلمه دوري -دوري کوي. خدای دي خپل فضل وکړي. که زموږ عمل ته خدای وګوري نو د دې وړ نه یو چي یوه ګوله ډوډۍ راکړي او یا دي د بې غمۍ ساه وکاږو".

ملا دا خبري په زوره -زوره وکړې چي ټول یې واوري. بیایې د محتسب غوږ ته خپله خوله نږدې کړه او یو څه یې ورته وویل. محتسب هغه په زوره تکرار کړه:

"ښه. ښه لواطت هم ډېر سوی دی اوس دي نو خدای خپل رحم او کرم وکړي".

په دې وخت کي یوه سپین ږیري سړي چي د کلي ږغېدونکی هم و او د محتسب سره نږدې ناست و کريږه کړه:

"ملاصاحب ته د کلي لمن پر سر اړوې! د دين په برخه کي چي دي څه ویل موږ ږغ نه کاوه او ته مو په دې برخه کي حق په خوا شمېرلې. خو اوس چي دا نوري خبري کوې نو...."

محتسب د ده خبره غوڅه کړه:

"دا نوري خبري نو د دين نه دي څه؟ جاهله ته د خدای په لارو او د شریعت په اوامرو څه خبر یې؟، ږیره دي په جهالت او نا پوهۍ کي سپینه کړې ده".

محتسب په قار شېر ته وویل:

"ورسه لښتي راوړه او دا بې ادبه ښه وډبوه. د علماوو په مخ کي بې ادبي کوي. علما خو د دين ستني او د نبي پر مسله ناست او د آن حضرت مبارک میراث خواره بلل کېږي. دا جاهل او ناپوه هغو ته په سپکه ګوري او دا کار هم په داسي حال کي کوي چي زه دلته ناست یم. های -های رښتیا چي اخره زمانه ده د علماوو قدر ورک سو".



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

کوم وخت چې ښېر په لښتو پسې ولاړ څو نورو ناستو کسانو محتسب ته عجز او زاري وکړې چې زموږ رغېدونکې او سپینږیری نه بې آبه کوي، او د هغه له وهلو څخه لاس واخلي. یوه له حاضرینو څخه لږ څه زړور ورته وویل:

"دا خو توره باز کاکا نومېږي، زموږ د کلي مخې هم دی، د کلي ماتې ګوډې ټولې دی فیصله کوي ډېر مېلمه پالونکې سړی دی. کوم وخت چې تاسې راغلاستنو ده سمدلاسه خپل زوی ته وویل چې چرګ حلال کړي او په کور کې یې ژر تر ژره غورمه کړي. دی د دغه ډول لګښتونو معاوضه له کلي څخه نه غواړي، خدای هر څه ورکړي دي، ښې ډېري مځکې لري".

بیا ملاصاحب لږ څه د پښېماني په لهجه وویل:

"دا تاسې نه دي اورېدلي چې د دین سپین سترګي به جنت ته ځي او د دنیا سپین سترګي به دوزخ ته درومي. نو ما محتسب ته هر څه په ډاګه ځکه وویل چې دی خو پردی سړی نه دی، دی خو زموږ په ژوند کې راګډ دی، محتسب صاحب سپین ږیري نه بې آبه کوي، خو سپین ږیري هم باید په خبرو پوه سي او د دین په کار کې په رښتیا ویلو بد یو نه سي".

محتسب په یوه پسته ژبه وویل:

"ده ته خو ما پر دې قار وکړ چې ده د عالم په مخ کې لږ څه سپین سترګي وکړه، موږ او تاسې باید د علما وو مقام وساتو. خو که ملا صاحب دې بخښي نو موږ هم څه خاصه دښمني نه درسره لرو... دا خبري پرېږدئ. اوس دا ګز او دا یې میدان. زه وګورم چې زما د پوښتنو ځوابونه څوک په ښه او بشپړه توګه راکولای سي".

وروسته له هغه یې یوه (۲۸) کلن غوندي زلمي وویل:

"هلکه دعا یې قنوت وایه".



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

هغه سور واوښت او ورته ويې ويل:

"صاحبه! زه د ماخستن په لمانځه کي د دعا يي قنوت پر ځاى درې ځله (قل هوالله) وايم ملا صاحب هم دغه راته ويلي دي".

ورکسه! تر څو به (قل هوالله) وايې! دا مبارکه دعا دي تر اوسه نه ده زده. ته ولاړ سه يوې خواته کښېنه چي زه له بل چا څخه پوښتنه وکړم".

بيايې يوه بل دوه ويشت کلن زلمي ته مخ ورواړاوه:

"هلکه پنج بنا بيان کړه".

هغه زلمي چي خان د خواب ورکولو لپاره سره ښوراوه نو دا نور څو کسه ورو-ورو يو په بل پسې د يوه سيي او يا بل شي په پلمه ولاړېدل. په دې وخت کي شبر هم له لښتو سره راغی او هغه يې د محتسب په امر په اوبو کي کښېښودلې. بيا محتسب پر شبر بږغ کړل:

"مه پرېږده چي څوک لاړ سي، تول بايد د لمانځه او اوداسه او دينداری د نورو پوښتنو ځوابونه ورکړي. که نه وي څورا به وډبول سي، ګيله به يې له ځانه وي".

شبر سمدلاسه په يوه وچ اوله قاره په ډک بږغ ولاړ سوو کسانو ته وويل:

"مه ځئ! دلته کښېنئ، د محتسب صاحب د پوښتنو ځوابونه ورکړئ".

محتسب له هر چا څخه پوښتني کولې، يوه د برش کلن سړي ته يې مخ واړاوه:

"تورات پر چا نازل سوی دی؟"

هغه خان پر يوه اندې او بل اندې کړ او په داسي حال کي چي خپلي پايڅې يې سره رانغښتې، په منډه پيل وکړ او د برېښنا



كتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

غونـدي وتـښتېد. نـورو خلکـو هـم پـه دې پلمـه چـي تـښتېدونکی سړی ونیسي منډې کړې او پـه یـوه ګړی کـي ټـول لـه نظـره غایـب سـول. شېر غوښـتل چـي پـه دوی پسې منـډه کـړي. خـو محتـسب ورته وویل:

"(د ډاګ هوسـی څـوک نیـولای سـي؟ پـه خپلـه بـه راسـي) یـواځي هغـه سړی چـي محتـسب یې مبلمـه کړی و او لـږ څـه لـومړی محتـسب ورتـه پـه قـار سـوی و. سـره لـه یـو څـو اتـو نهـو کلنـو هلکـانو پاتـه سـوی و ملا صـاحب او طالبـان یـې هـم ناسـت وو. مـلا د دې لپاره چي د خپل پخواني وضعیت تلافي وکړي، وویل:

"محتـسب صـاحبه! پـه دې ډول حرکتـو بـه ډېـر زړونـه خـوږ سـي. جـاهلان دي پـاک الله دي هـدایت ورتـه وکـړي. کـه څـه هـم د دیـن پـه کـارو کـي سووان (سـهولت) پـه کـار نـه دی خـو بیـا هـم سړی باید پر ډېرو ناانډولو ښبه کښ کاږي..."

محتسب لږ څه په وچ ږغ وویل:

"ملا صـاحب! مقتـدیان دي سـم نـه دي روزلـي، اوس غـواړې چـي پلـو هـم پـر واچـوې! کـه دي لـه لـومړي سـره دا خلـک د شـریعت لـه غمچینـي تـا خونـدي کـړي نـه وای او دوی دي تـل تـرټلای نـو اوس به په دا حال نه وای، او دین به ښه ور روښانه وای".

پـه دې وخـت کـي یـوه زلمـي ګـډوه او چلمچـي راوړه و ملاصاحب ورته وویل:

"دا زلمـی د دغـه کاکـا زوی دی، خـورا پـر دیـن ټینـګ دی، پنځـه واړه لمونځونـه پـه جومـات کـي کـوي داهـم د دینـداری برکـت دی چـي داسـي تکـړه معلومېږي، د علمـاوو مینـه یـې خـورا پـه زړه کـي ټینګـه ده. هر وخـت چـي چاریکـارو تـه لاړ سـي، نـو زمـا تـور نـسوار نـه هېروي، د طالبانو خیره هم په ځګه ملا ورکوي".

محتسب:



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

نـــو اوس څــــه نـــه څينـــي پوښـــتم خـــو ســــتا فکـــر دي وي ملاصـاحب! چـي داسـي خلګـو تـه ډېـر څـه ورښـيه. او د ديـن پـه لار کي يې ښه ترا پسي روزه"

د ډوډۍ لـه خوړولـو څخــه وروسـته لـه يـوه لـوري اوبـل لـوري څخـه څـوک -څـوک راپيـدا سول. خـو پـه ټول کلي کي چوک چوکـه (اوازه) سـوه چـي محتـسب راغلـي دی ډېـر کـسان د خپلـو خپلوانـو کـره نـورو کليـو تـه ولاړل او يـوه يـا دوې شپې يـې هلتـه تېـري کـړې. لـه ډوډۍ خوړولـو څخـــه وروســته ملاصــاحب طالبــانو تــه وويــل چــي ورسـي او د ماسپـښين اذان وکـړي. بيـا ملاصـاحب ناسـتو کـسانو تـه مخ ورواړ اوه:

"سـلا مـو نـه ده چـي محتـسب صـاحب پـه خبـر او درنـاوي رخـصت کـړو؟. د ماسپـښين لمونځ دا بـل کلـي تـه رسـولی سـي. دلتـه بـه پـه خلګـو لـږ څـه سـاه او زړه ننـوځي. پـر ټولـو بانـدي خـورا د رونـد سام پـروت. مـوږ خوشـحاله يـو چـي دا د ديـن خـدمتګاران تـل تـر تلـه راسـره وي، خـو بايـد دا نـور کلـي هـم د ده لـه فـيض او بر کـت څخـه ګټور سي".

ږغېـدونکي او سـپين کـالي سـړي غـاړي تـازه کـړې، او ويـې ويل:

"محتـسب صـاحب مـو پـر رب سـپارلی دی، مـوږ لـه ده څخـه راضي يو".

يوه بل سړي لږ څه په ډډ ږغ وويل:

"ګکـړی خـويـې حـق ده. ده هـم د خـدای د شـريعت او ديـن د روښـانولو لپـاره مـلا تړلـې ده، مـوږ خـو بايـد دومـره سـړيتوب ولـرو چـي د ده د درناوي لپاره يو څه ور کړو".

يـوه بـل سـړي چـي پـه ګنـده کـي يـې سـپږې غوښـتې او لـه دې ټولي څخه لږ څه ارت ناست و وويل:



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

"صاحبه! په خپله خو د هرې پوښتنې ځواب ورکولو ته چمتو يو. غران راپوري نه شته پرون ملک د نوي حاکم د راتلو په مناسبت د هغه د مېلمستيا لپاره يو يو غران سرې سر جلا کړ. غران مې نه و خوشل داني هګۍ يې راڅخه واخيستلې. زه خو . . ."
محتسب:
"ته ډېر سپين سترګى او بې حيا سړى يې. چاله تا څخه روپۍ غوښتې دي! چې ته نا حقه او ناروا ږغېږې.
ورسه شېره پر دا مخ يې څلور څپېړې ووهه! چې لږ څه سد يې سر ته ورسي. زه خو دين په روپو نه خرڅوم او نه دې ته راغلى يم چې د نورو په دود د خلکو غوښې وخورم".
شېر هغه سړى داسې کلک پر مخ وواهه چې د هغه پزه وينې سوه او تر ډېرو پورې وينې ځينې تلې. شېر د محتسب په دا پور ته خبرو خوابدى سو په زړه کې ورتېره سوه چې کوم شى به لاس ته ورنه سي. ځکه چې محتسب پاکنفسه ښکاري خو يې ځان ته تسل ورکړ چې ګوندې وضعيت ښه سي او دا خبرې د احساساتو له مخې وې.
په دې وخت کې د کلي ملک له چاريکارو څخه راغى. د ده په آس پسې دوه نور سپاره هم سته چې د کارتوسو قطار وزمې يې اچولې دي دا سپاره د ده شخصي نوکران دي کوم وخت چې يوه کليوال ورته وويل "چې محتسب راغلى دى نو دى نېغ کورته ولاړ او هغه سړي ته يې وويل چې ورسي محتسب ته ووايي چې زما تر راتګ پوري هلته ناست اوسي".
څو دقيقې وروسته ملک چې پاک په نيلو شنېلي کالي يې اغوستي دي او دواړه نوکران په پسې دي راغى. محتسب نېغ ولاړ سو او د ملک سلام يې عليک کړ او بيا يې په غبږ روغبړ ورسره



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

وکړ او پر خپل ښي څنګ یې کښیناوه. ملک ملا او هغه بل سپین ږیري سړي ته مخ ورواړاوه او ویې ویل:

"محتسب صاحب خو د رڅخه خپه سوی نه دی؟.

دی خو د شریعت سپاهي دی، د ده قدر پر موږ او تاسي باید ښخي ډېر وي. ستاسي په یاد دي چي اووه اته کاله دمخه څه حال و، محتسب چا په ښار کي نه پرېښود. بې دیني خورا ډېره سوې وه، پاک الله یو داسي دین دوسته پاچا راولیږه چي هغه تل د دین په غم کي دی او د شریعت د روښانه کولو لپاره هر څه کوي، خدای دي موږ د ده له قهره وژغوري، عمر دي ډېر سي".

وروسته له هغه چي ملک په ټول حال او احوال خبر سو، نو یې جیب ته لاس کړ او ډېرش افغانی یې راوکښېي. دا سپیني روپی نه وي دانوټونه وو، چي نوي رواج سوي وو. ملک دري سره نوټونه په دواړو لاسو د محتسب خواته ونیول او ویې ویل:

"(کم وما کرم شما) په دې کي پنځه ویشت افغانی د محتسب صاحب لپاره او پنځه افغانی د دغه ماسل لپاره دي خپه کېږي به نه!"

د محتسب تندی خورا وغوړېده او ویې ویل:

"یوه خلګ خو داسي ښه وي غوته یې په لاس خلاصه کړه. غابنو ته هیڅ حاجت پاته نه سو".

کوم وخت چي محتسب تر کلي ووت نو ملک له نورو خلګو سره د جومات پر لوري راروان سو، پر لاري یې له سپین کالي سړي څخه پوښتنه وکړه چي په دې مبلمستیا کي یې څو روپی لګولي دي، هغه ورته وویل "پنځلس افغانی پر لګېدلې دي".

ملک سمدلاسه جیب ته لاس کړ او هغه پیسې یې ده ته ورکړې، بیا یې ورسره کسانو ته مخ ورواړاوه:



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

"دالګښتونه مو په یاد اوسه د جمعې په ورځ به ټول لګښتونه چې په دې دریو هفتو کې سوي دي یو ځای کوم او پر ټول کلي به یې جلا (ونډه) کوم، بیا به ناري او بغاري نه وهئ چې ملک روپۍ ناحقه غواړي. ماته به ښېرا نه کوئ"

هغه سړي چې پزه یې شېر ور وینې کړې وه او د ملک تر شا روان او پر پزه یې خپله خیره نیولې وه وویل:

"غوا خو تاته درلنګه سوه که دي یوه روپۍ لګولې وي نو به وایې چې دوې مې تللې دي، زموږ په غوښو هم ځان مړوې او هم نور لیوان خوشحاله کوې! خدای دي تاسي غله ورک کړي، ستا له لاسه موږ په هوسایۍ ګوله نه ده خوړلې که ته نه وای دا محتسب موږ په لس افغانی هم رضا کاوه خو..."

د ملک له دوو نوکرانو څخه یو نوکر د دغه سړي ورور و. نو ملک ورته وویل:

"که د دغه ورور لحاظ دي نه وای نو غابښونه به مې در ایستلي وای، ته تل زما په غاړه کې رالوېږې او په لار کې راته ولاړ یې یوه ورځ به را څخه ژوبل سې!. ته که ډېر مرې نو د خپل سر جلا (برخه) مه راکوه خو دانور مه راته پورته کوه".

ملا چې د دوی په ډله کې را روان و وویل:

"دی خو د نامه څښتن دی، څه وکړي چې دا ډول وضعیت ونه کړي په اولس کې نه سي چلېدای، خدای دي خبر ور کړي له کومه وخته چې دی په ملکۍ کې درېدلی دی نو دومره ډېر ماسلان او غمونه مونه دي لیدلي".

محتسب او شېر هره ورځ په دوه درې کلیو ګرځي او هغو خلګو ته د غوږو پېچ ورکوي څوک چې په لمانځه اوداسه کې غړند (سست) وي، هغه خلګ چې زکات نه ورکوي هغوی ته کور ته ورځي او د زکات په شاوخوا کې د خدای امرونه وربنیي.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

په هر کلي کي یو څو زلیمان وډبوي او په اوبو کي یې واچوي. وروسته له هغه بل کلي ته لاړ سي. هر کلي ته چي ورسي نو ملا ته وایي چي څوک په لمانځه او اوداسه کي لټان دي او چا دین ته ببخي شاکړي ده؟. دوی دواړه اوومه ورځ بېر ته ګلبهار ته راغلل. دلته د بازار مولوي صاحب محتسب ته وویل چي "(چارګل) نومي سړی نه یواځي په لمانځه او اوداسه کي غړند دی بلکي د ده په عقیده کي هم یو څه زیان څرګندېږي".

محتسب د دې خبري په اورېدو (لا حول ولا قوت) وویل او له مولوي څخه یې پوښتنه وکړه:

"دا بدبخت څوک دی؟ خدای دې دا تور زړه ور سپین کړي"

"صاحبه! دا سړی د تېري دورې له لاټیانو (*) څخه دی. دی په خپله وایي او خلک یې تصدیق کوي چي ده اووه کاله مکتب هم په هغه وخت کي ویلی دی.

پلار یې هم خورا چورچورک سړی دی، ځیني سپین ږیري په ښکاره توګه وایي چي د لاټیانو په دوره کي ده عریضه کړې وه چي په ګلبهار کي دي مکتب جوړ سي، د همدې چارګل په مرسته دلته د مکتب د جوړېدو په کار پیل وسو، خو خدای پر لاټیانو ژر په قار سو او هغه یې ورک کړل.

محتسب شبر ته نېغ وکتل او په سترګو کي یې ورته وویل چي باید سمدلاسه دا سړی راولي. د بازار د مولوي یو چړي ورسره سو او د پله خواته نږدې یې یو دکاندار چي خړه (شبرخانۍ) لونګۍ یې پر یوه سپینه غرقچینه ول-ول تړلې وه راولاړ کړ او د محتسب حضور ته یې راووست. د محتسب سترګر غتې-غتې راختلې وې، سړي به ویل چي د ده په سترګو



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

کې ښځې تور نه سته نه او ټول سپین دي، په یوه خورا کلک او له قاره ډک بڼغ یې ور ته وویل:

"ووایه د شهادت طیبه کلمه!"

هغه له واره کلمه ور ته وویله او بیا یې په خورا ادب له محتسب څخه پوښتنه وکړه چې ولې داسې ور ته په قار دی او ولې یې په ټول د یار کې دی غوره کړ چې کلمه ور ته ووایي"

محتسب ور ته وویل:

پوښتنې لا هم کوې! ویل کېږي چې عقیدې ته دي خلل رسېدلی دی او د اسلام مینه دې په مغزو کې لړه سوې ده او یا مخ په لږېدو ده. ته نه یې خبر چې د کفر او د کفر بازۍ خبرې د وخته ولاړې. اوس بیا د اسلام ځلانده نور دلته وځلېدو. شریعت بیا روښانه سو، د دین وړانګې په هر تور ګوټ کې وځلېدې. نو په داسې ملک کې داسې خلک چې د هغوی عقیدې غړندې وي نه ځایېږي. داسې خلک باید خپلې ککرۍ وخوري. زه غواړم چې په تا ایمان تازه کړم او په دې دې پوه کړم چې که ته خپله دا وضعیت پسې اوږد کړې. څومره دیني او دنیایي تاوانونه به در واوړي".

چارګل په ډېر احترام او ادب ور ته وویل:

"صاحبه! شکر دی مسلمانان یو په دین د اسلام یو، ټول خپل لمونځ او اودس کوم په خپله مې د دین علم کړی دی، په مکتب کې مې دینیات ویلي دي..."

"دا د مکتب-مکتب خبرې له خولې وغورځوه! که نه وي غابښونه به دې وباسم، دا لوی مولوي ګواکې دروغ وایي؟ دا مولوي چې د علم په ګېڼه ښکلی او خپل ټول عمر یې د (دیوبند) په مدرسه کې تېر کړی دی، هیڅکله له حقیقت څخه خلاف څه نه وایي. زه نور څه نه په درکوم صرف یوه جزا له خپلې خوا درکوم.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

یوویشت ذُرې دي وهم او هم دي په دې د کانو ګرځوم چې د نورو عبرت سي، زه د دين باغچې ته هيڅکله د هيڅ ډول کنډو شته والی نه سم ځغملای او نه يې شريعت ځغمي او نه يې شريعت پالونکی حکومت، ته هم بايد په دې خوشحاله اوسې چې خبره دي نه پسې اوږدوم او که خبره يوه پلا سره ځيري او لوړو مقاماتو ته ورسيږي نو..."

چارګل چې دا خبرې واورېدلې نو يې له ډېره قاره ستونی پر له کښېناست او محتسب ته يې وويل:

"صاحبه! دغه مولوي ځو نور کسان هم د اسلام دښمنی په نامه او تهمت کنډ او کپر کړل. زه نه پوهېږم چې دی ولې دغسي کوي؟ د ملا...."

محتسب بې له خنده پر شېر ږغ وکړ چې راغورځار يې کړي او (۲۱) ذوري يې ووهي. په دې وخت کي پنځوس شپېته کسه نور سره راټول سوي وو. يوه زلمي په زوره ږغ کړل چې زموږ ږغېدونکي او د مخي خلګ ولي بې آبه کوې؟ خو يوه بل لږ څه په وچ ږغ ورته وويل:

"د دين په لار کي يې بې ابه کوي. وروره د دنيا لپاره خو ځوک څه نه ورته وايي"

چارګل سمدلاسه (۲۱) ذُرې ووهل سو او په کوچني بازار کي وګرځول سو. هر ځو قدمه وروسته به دی ودرول سو او يوه طالب به داسي کريږه کړه:

"شکر دی اسلام يو ځلي بيا ژوندی سو د چا چې عقيده خرابه سي نو دا ډول جزا به ومومي.

(فاعتبر وايا اولو الابصار).

♣♣♣



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

## نهم څپرکی

شېر ډېره موده کور ته نه و تللی ځکه چي دی له محتسب سره په کلیو او شاوخوا سیمو کي ګرځېده. خو د ګلالی څېره د ده پر زړه او د ده پر مغزو داسي کښېناستې وه چي يوه ګړی نه ځني ایسته کېده. د مېزان د میاشتي په پای کي ده له محتسب څخه د اوو شپو رخصت وغوښت. محتسب ورته وویل:

"خوار سړي احمقه په همدې شپو او ورځو کي یو څه په لاس درځي. بیا خو به ژمی سي او خلګ داسي بې کاره وي چي له خدایه یو څوک غواړي چي له دوی سره په جومات کي جنجال وکړي. زموږ او ستاسي کار خو په جومات کي دی په ژمي خلګ له غران څخه په اسانی نه تېرېږي. دا ځکه چي دوی کوم ضروري کار نه لري چي په هغه پسي تلوار ولري او ځان خلاص کړي. بله دا چي په ژمي له یوه کلي څخه بل کلي ته مزل هم نه کېږي، نو مصلحت دا دی چي دا دوې میاشتي لا څه مه وایه. د قوس پر پنځلسمه به دي رخصت کړم. آن د حوت په میاشت کي راسه، زه هم په دغه موده کي خپل کور غوربند ته درومم په مني به يو څه د لاندي غوښي هم مونده کړو".

خو شېر د ګلالی فکر دومره نا ارامه کړی و چي هیڅ شي ته یې پام نه و. په تېره چي خپله د روپو غوټه یې په پټه خلاصه کړه او هغه یې وشمېرلې. ده په دې موده کي چي له محتسب سره مل سوی دی پنځه سوه افغانۍ پیدا کړې وې. که څه هم شېر د میاشتي دولس افغانۍ تنخوا لري خو ترو اوسه پوري چا غران نه دی ورکړی ځکه چي هغه ده د حاکم میرزا او کوتوال ته پرې ایښي دي. شېر محتسب ته بیا زاري جګی وکړې، خو هغه یې



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

دې ټکي ته راووست چې څلور ورځې رخصتي ورکړي. شېر په خورا ښه زړه او مينه کورته راغی او سمدلاسه يې پلار کورته بوت او هلته يې د لسو –لسو افغانيو سره –سره نوټونه ورته ونيول او په يوه هسکه غاړه او فاخره بږغ يې وويل:

"واخله بابا اوس خو به په موړ سې!"

مور يې پر بارخوباندې کلک ښکل کړ او په زوره يې وويل:

"مور دې ستا بلا واخلي اوس دې ګلالي جانه وګټله. اوس يې داسې وبوله چې ستا په غېږ کې ده. په خپله موږ روپۍ څه کوو. پلار دې سپين ږيری او زه سپين سرې يم که ستا د واده بار مې پر اوږو نه وای نو ومنه چې په دغو روپيو نه خوشحالېدم".

پلار يې ورته وويل:

"تاسې ما پرېږدئ چې دغه روپۍ د (سن) لالا دکان ته ورووړم اوس لا لږ څه وخت شته دکان به يې نه وي تړلی".

د شېر مور پر ږغ کړل:

"سړيه شېر خو مونږ مېلمه دی له هغې خوالږ څه وريجې درسره راوړه چې ماښام ته يو څه ښه او په زړه پوري ډوډۍ پخه کړم. زه خو دومره د کار نه يم. خپلې نږور ته به ووايم چې راسره مرسته وکړي. ګلالۍ تر اوسه نه ده خبره که نه د وخته به لا راغلې وای".

کوم وخت چې د شېر پلار دباندې و ووت نو شېر مور ته وويل:

"ادې جانې که دې خوښه وي نو ښاپېرۍ د (مدير اغا) کره ورواستوه چې د ګلالۍ مور زما په راتګ خبره کړي او ورته ووايه چې ماښام لږ څه وختي خان راخلاص کړي او ډوډۍ له موږ سره پر يوه کاسه وخوري زه په دې کار ډېر خوشحالېږم او هيله ده چې هغه به هم خوشحاله سي".



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

د شېر مور لږ څه په ماښجن غوندي بږغ ورته وويل:

"داسي بيا دربانـدي ګرانـه سوه چي ډوډۍ بې لـه هغې خونـد نـه درکوي؟ موږ خـواران خو هيڅـا ور ونـه بللو چي راسـه نـن زمـوږ پـر کاسـه کښېنه. زمـا تـالې پـه اصل کـي ښـې نـه دي. سـره لـه دې هـم زه خـو ښـه يـم چـي هغـه خـوارکۍ لـه خپـل زوم سـره يـو ځـاى پـر ډوډۍ کـښېني. دې خـوارکۍ هـم ډېـري خـوارۍ او نـا امېدۍ ګـاللې دي. خـو خبـره داده چـي داسـتا خوابنـي ښـه حيـانـاکـه ښـځـه ده پـر خپـلو لوڼو او د هغـوى پـر آب او سـوات (پـت او عـزت) بانـدي ځـان وژنـي. دې ښـځي هـيڅ وخـت خپلـې لـوني دبانـدي نـه دي ايـستلې پـه تېـره د مـدير اغالـه کالـه خـورا ډار ېـږي او وايـې چـي د هغـه سـړي خپـل او خپلـوان پـه هـيڅ شـي خـلاص او تـړلـي نـه دي. ډېـري نجونـه او ښـځي يـې شـرمولې دي خـو څکـه چـي د چـا زور ورسـره برابـر نـه دى نـو نـاره يـې هـم چـانـه ده اورېـدلې. لـه دې کبلـه ښـاپېرۍ هـم هلتـه نـه سـي ورتلاى. کـه دې دغـي خبـري تـه ډېـره خونبـه او رضـا کېـږي نـو زه بـه پـه خپله زړګي بوغره پر سر واچوم او ورمنډه به کړم".

ماخـستن ډوډۍ پـه خـورا خونـد سـره څلـورو واړو يـو ځـاى وخوړلـه. ښـاپېرۍ ډېـري اللـي ووهلـې (*) چـي داهـم لـه اخـښبي سـره يـو ځـاى ډوډۍ وخـوري. خـو مـور يـې پـه دې څکـه راضـي نـه سوه چـي ګلالـی بيـا يـواځي پاتېدلـه. ښـاپېرۍ پـه دې شـرط پـه دې خبـره رضـا سـوه چـي شـېر بـه د ډوډۍ لـه خوړلـو څخـه وروسـته سمدلاسـه دلتـه راځـي او چـاى بـه لـه دوى دواړو سـره څـښني. د ډوډۍ تـر خوړلـو څخـه وروسـته د ګلالـی مـور د شـېر پـلار تـه د ښـاپېرۍ غوښـتنه ووېلـه. چـي هغـه سمدلاسـه شـېر تـه مـخ ور واړاوه او هغـه تـه يـې پـه اشـاره ووېـل چـي د خوابنـي کـره ورسـي. شـېر لا تـر وره نـه ووتلـی چـي د شـېر پـلار پـه خـورا خونـد او ښـه زړه د ګلالـی مـور تـه پـه خبـرو پيـل کـاوه خـو مـاينې يـې پـه دې پوښـتنه خبـره ورغوڅـه کـړه (چـې کـه چـاى څـښني



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

نو دا به یې پوخ کړي) د شېر پلار لږ څه په کلک غوندي بږغ ورته وویل چې (خود یې خورو، د دې پوښتنې څه حاجت و) بیا یې د ګلالی مور ته مخ وروا ړاوه او خپله خبره یې داسې ونښلوله:

"تراوسه خو ستاسې له خېښې اوخپلوی څخه خورا خوند اخلو، تراوسه پوري مو هېڅ مانې تر منځ نه دي راغلي، هیله ده چې وروسته له دې هم کومه دوسه (دسیسه) مو تر منځ ونه لوېږي، که مې رښتیا پوښتې زه ستاله میراث خورو څخه خورا ډېر وېرېدم، خو دوی خورا ښه خلګ وختل او هېڅ یې ونه ځورولو او په هغه څه قانع سول چې څه موده پخوا مو ورکړل. په پسرلي د شېر موده پوره کېږي، او د ونډې له جنجال څخه خلاصېږي. ما او د ده مور داسې پتېیلې ده چې سږ یعنې کوم وخت چې لوی اختر تېر سې د واده سرښته وکړو. د واده په اثر به د هلک پښه بنده سي او چرتونه به یې یوې خوا او بلې خواته نه الوزي.

ستا پور خودو مره نه دی پاتې، څه چې پاته وي هغه به هم د رب په فضل درورسوو. هلک اوس په خورا ښه خای کې دی. خدای هم د دین داورجوړه کړه او هم یې د دنیا دا. ته به خبره یې چې شېر خو اوس د محتسب ماسل دی، نو په دغه سبب ویلای سو چې پاک خدای د دواړو جهانو داورجوړه کړه. دغسې دې خدای د هر مسلمان داورسموي. له تا یې څه پټوو او ته خو یې اوس مور هم بلله کېږې. شېر ته خدای په ځولنډو شپو او ورځو کې دومره څه ورکړل چې په پخوانی ماسلی کې یې نه سوای موندلای. که مې رښتیا پوښتې نو دا هم د دین برکت دی چې د هغه د ټینګولو لپاره ده په اخلاص ملا تړلې ده". د ګلالی مور په دې نسبت په زړه کې بېساري خوشحالي حس کړه چې د شېر پلار د دې له خپلوی او خېښې څخه رضایت ځرګند کړ. نو یې په خورا روڼه او خلانده غوندي بږغ ورته وویل:



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

"که مي رښتیا پوښتې نو له تا او ستاله کاله مي هم زړه خورا پوست دی. زموږ او ستاسي د خپلوۍ که څه هم لږه موده کېږي خو ډېر خوندونه مو پر اخیستي دي، په تېره ګلالی خو داسي په خوشحاله ده لکه پر ګل چي غوړېدلې وي. زه بل څه نه غواړم د خپلې لور خوښي غواړم. زه خو داسي مور نه یم لکه دا نوري میندي او پلرونه چي دي هغوی خپل اولاد د یو څو پیسو لپاره په اور کي واچوي او تر عمره یې ژوندور تریخ او د ګرغ غوندي کړي. زه دومره درته ویل غواړم چي زه ستاسي هر څه منم. شکر دی دواړه هلک او نجلۍ ښه پر ځان ګرځېدلي دي (*). په تېره ستا زوی شېرجان خو ځکه چي نارینه دی نو دا خو منل سوی حقیقت دی چي نارینه د (خدای نور) دی، اوس د ځان او د خپل کاله له هره پلوه خورا ښه تمام دی، زه لکه دا نوري میندي له خپله زومه هیڅ ډمامې (*) نه غواړم. هر څه کالي چي راوړئ رایې وړئ. هره ګېڼه چي تاسي پر لور بري او له وسه مو کېږي ور وایې خلئ. زما ښه زرګران شناخته دي، ارزانه به یې ځني واخلو که نن واده غواړئ نن یې درکوم او که یې سبا غواړئ سبا یې درکوم. مقصد دا دی چي هر څومره چي ژر داد خبر او ښېګني کار ترسره سي نو زه به هغومره خوشحاله یم دا ځکه چي زه په خپلو میراث خورو هیڅ باور نه لرم. په تېره بیا د ګلالۍ یو کشر د اکازوی دی چي نه پر (هو) دی او نه پر (نه) دی، نه پر غر وځي او نه پر سمه. خدای دي ښاپېرۍ ته هم دغسي ځای ور پیدا کړي، چي هغه هم زما له اوږو څخه واوړوي. سپین ږیریه ښه دی چي خدای لوني نه دي درکړي، هغه وخت به نو ته زما په زړه خبر سوی وای. ښځه خو خورا عاجزه خدای پیدا کړې ده، ډېر د زړه سوې وړه ده، دا ځکه چي دا د بل تر لاس لاندي شپې او ورځي تېروي. که یې مېړه ښه و او بن یې نه درلوده او یا یې درلود خو ښه



کتابتون پښتو (WWW.KITABTOON.COM)

ښځه وه خو ښه تر ښه خو که يې يوه پلا د مېړه خداى پر سترګو ورته تور کړل هغه وخت راسه او تېرى يې وتړه (*) خداى دي چاته لور نه ورکوي. ته ډېر تالېمن يې چي لوني نه لرې...."

په دې وخت کي د شېر مور د چايو پتنوس راننه يوست او خپلي خواته يې کښېښود او په مينه يې په پيالو کي د بورې په اچولو پيل وکړ. د شېر مور د دوى خبري او مرکه تر ډېره حده اربدلې وه، په داسي حال کي چي چاى يې په پيالو کي اچاوه وويل:

"خورې زه خو ستا په زړه خبره يم، که څه هم پاک خداى ماته لوني رانه کړې او پر دغه يوه هلک وچه سوم. خو بيا هم د خپلي مور تاړاکونه مي په ياد دي، اوس خو موږ او تاسي کور او کهول سوو او بايد خبري سپيني وکړو. دغه سپين ږيرى چي اوس دلته درته ناست دى داسي پوست او خوږ نه ولکه دا خرنګه چي يې اوس ګورې. په خواني کي خورا په زړه کلک و. تل به يې راسره شخړه وه که به يې څه نه وو ګټلي نو ډېب پر ما و او مور به خورا را زهيره وه خو له وخته چي زوى مي رالوى سو دى په ښه او بد پوهېدلى دى نو پاک خداى د ده سوتى هم زماله سره ښېر ته کړى دى، خو زوى مي داسي نه دى هغه د اوس زماني سړى دى داسي نه دى ظالم لکه خپل...."

د شېر پلار د خپلي ماينې خبره ور غوڅه کړه او په کلک ږغ يې ورته وويل:

"ښځي! ته نه شرمېږې چي زه درته ناست يم او ته زما کمه وايې؟ اوس دي هم والله سر در مات کړم، زوى موى دى نه پېژنم. په خپله اوس وپوهېدم او ډېر وهل نه کوم، ښځه خو پاک خداى ناقصه پيدا کړې ده. د ښځي عقل وايي چي په پونده کي دى، که چېري يو څه وهل ونه خورې نو هغه وخت خوله لارې بيا وخي..."



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

د ښېر مور ومسل او لږ څه په سوکه بزغ يې ور ته وويل:

"سوکه بزغېږه هلک به يې واوري او خوا به يې بده سي. دی دادرې څلور ورځې رخصتي راغلی دی زموږ په لوږ بزغ يې خوا بدېږي. زما او ستا عمر خو بې له هغه دومره خوړنه و. خو اوس د دا يوه زوی زړه مي په دا خوشي خبر و مه ور خواشيني کوه...

د ګلالی مور خوار کی خو زموږ له خبري نه اوږي. شکر دی خپله لور يې تر خپلو ستر ګو لاندي ده. څه په هغه خونه کي ناسته او څه په دې خونه کي. موږ به مرسته ورسره وکړو چي ښاپېرۍ هم ښه ځای ور کړي. او دا په خپله له دې ډول کارو څخه چي پر دې خورا اوس په دې عمر کي درانه دي لاس واخلي..."

د ګلالی مور يې خبره غوڅه کړه:

"کاشکي د ښاپېرۍ هم داسي ځای په نصيب سوی وای، لکه د ګلالی. خدای خبر چي د هغې خوار کی تالې په څېري ختلې وي؟ زه خو په دې باور نه لرم چي ميراث خواره دې هغه هم داسي په اسانی راپرېږدي لکه ګلالی. که رښتيا در ته ووايم ميراث خواره له (مديراغا) څخه ستر ګه کوي (+) او ډېر کښن نه راسره کوي. د مديراغا دي خدای اقبال نور هم بلند کړي او خدای دې يې رتبې نوري هم پسې لوړي کړي. ميراث خواره له دې بېرېږي چي که مديراغا په دې خبرو خبر سونو د دوی تر خولې به هيخ ور نه سي او ټول ولور به مديراغا ځني وخوري. دوی په دې ښه خبر دي چي ډېري کونډي او پيغلي مديراغا په خپله ور کړې دي او ټول ولور يې په خپله خوړلي دی. هيڅوک زړه نه سي کولای چي له مديراغا سره دې وشکېلي. زما په خپله نيت دا دی چي د ده د بيبيانو چوپړ په اخلاص ووهم او دا دوهمه لور هم د ده تر سيوري لاندي په سر ورسوم. وروسته له هغه به مي اړخ مځکي ته ور سي او د بې غمی ګوله به تر خولې کړم..."



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

په دې وخت کې د شېر پلار ارمېړی وکښلې او بيا يې د ګلالۍ د مور خواته مخ واړاوه او په داسې حال کې چې سترګې يې د ارمېړيو په اثر اوښلنې وې، وويل:

"نو خبره پر دې پرېکړه سوه چې ګواکې واده به سږ په منې کوو. مور به هم اور اوبه پر له ګډوو او د دې کار د کولو لپاره به شيان سره راټولوو..."

"خدای دې نيکمرغه کړي. خوراډېري سر ګردانۍ لري. والله که يې څوک په ستن او سپنسې پسې ورسېږي"

کوم وخت چې شېر بېرته خپلې نوکری ته راستون سو نو يې د واده د لګښتونو لپاره نه شپه کتله او نه ورځ. هر چېري چې به په ماسلۍ ولاړ نو له خلګو څخه به يې بسپنه هم غوښته چې د هغې بسپنې په مرسته د واده لګښتونه پرې کړي. د محتسب هم زړه پر وسو او تل به يې کوم بډای ته ويل چې له شېر سره مرسته وکړي. بډايانو هم په دې نسبت چې د دين په خدمت کې ولاړ دی ده ته به يې تل لاس نيوی. شېر د قوس تر نيمايي پوري بيا څلور سوه افغانۍ مونده کړې او بيايې له محتسب څخه د واده لپاره رخصت واخيست. محتسب د پلار غوندې په مينه ورته وويل:

"بشپړه هيله ده چې خدای به د دې شپږو مياشتو خدمتونو اجر او ثوابونه هم په هغه جهان او هم په دې جهان ستا د نيکۍ په تله کې در واچوي. خدای دې پر متو بر کتونه کښېږده. ورځه ولاړ سه هر څومره شپې چې دي زړه غوښتې تېري يې کړه. په ژمي دومره کار نه وي، اکثر خلګ جومات ته د لمانځه لپاره راځي. په ژمي بې ديتان دومره ښه نه معلومېږي".

شېر په خورا مينه او خوشحالۍ د کور پر لوري را روان سو کوم وخت چې ده پلار ته وويل چې بيا يې څلور سوه افغانۍ



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

موندلې دي. نو هغه پر بار خو مچ کړ او د زړه له کومي يې دعا ورته وکړه. مور يې ورته وويل:

"زويه! ما او دا سپين ږيري پلار دي شپه او ورځ پر ځان يوه کړې ده. اوس نو د خدای او پيرانو په مرسته هر څه برابر کړي دي. خواښې دي هم شپه او ورځ خوي لګوي (منګولې لګوي) چې خپلې لور ته شی مې برابر کړي. تالې دي خورا لوړې دي هر څه ښه او په سوکه برابر پړې. ما دي تل پلار ته ويل چې د ولور او د واده د لګښتو پيسې له غيبه راځي. هغه زما خبره سوه دا دی شکر دی هر څه برابر سول. خدای د کور خرڅولو او ګروولو ته هيڅ اړ نه کړو. دا ټول زما او ستاد پلار د دينداری او دين ته ستاد خدمتونو برکت دی. ته دا راځخه ومنه زويه! چې زما په عمر زما نه په يادېږي چې ما دي لمونځ قضا کړی وي او يا مې دي روژه خوړلې وي. همدا ډول دي د پلار ژوند دی".

د شېر پلار د خپلې مايني د خبري ملاتړ وکړ او په خوږه ژبه يې وويل:

"دغه لا د خدای فضل دی چې ونده او ونډه بازي رااو تله او له بلې خوا که رښتيا در ته ووايم دا نجلې اوبو را اخيستې وه. يعنې وړيا په لاس راغله که د دې نجلې پلار ژوندی وای نو والله که يې په څلور زره افغانی ورکړې وای.

په اصل کې د شېر تالې ځکه لوړې راته څرګندي سوې چې بې خښتنه مال خدای په لاس ورکړ. دا کونده خوار کی پر دې ډاربده چې لور به يې ميراث خواره د دنيا په بله څنډه کې خرڅه کړي. نو له دغه کبله يې د ګلالې په ورکولو هله جوړه کړه. که مو چېرې له بل چا سره سر سوی وای. نو ته ومنه چې کور خو څه کوې والله خو مو د کور وتري (لوښي کودي) لا ټول په کې بايللي وای. دې خلګو ته نه ګورې چې د يوې ناوې د راوړلو په اثر چور پر



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

کونه کښېناستلي او بیا هیڅ وخت پر پښو نه دي ولاړ سوي. مور باید د پاک الله ډېر ممنون او احسان مند اوسو پر کور باندي وړیا ښکلې نجلۍ راغله".

په یو څو شپو او ورځو کي د واده ترتیبات بشپړ سول. د شېر مور او پلار او د ګلالۍ مور په دې باندي بېخي سلا سوي وو چي باید واده په برم او ډماموونه کړي، واده به ساده او بې له کښ واکښه کوي. د ګلالۍ مور تر هر څه لومړی غوښتل چي د خپلو میراث خورو زړه په لاس کي راولي او په دې وسیله د خپلي دوهمي لور لپاره هم په کابل کي مېړه مونده کړي. د شېر د واده څخه څو شپې وروسته د میراث خورو له خوا یو احوال د ښاپېری مور ته راورسېد او هغه استازی چي دغه پېغام یې راوړی و سپین سري ته وویل:

"ته خو ښه خبره یې چي د ښاپېری اکا د لوګر د ... صاحب لاس نیوی کړی دی. دا صاحب زوی نه لري. سره د دې چي ډېري ماینې یې وکړې، خو بیا هم خدای زوی ورنه کړ. د ښاپېری اکا وایي چي یوه لور (ګلالۍ) خو خپلې مور په خپله خوښه ورکړه او مور څه ورته ونه ویل او س نو زموږ وار دی دا نجلۍ یعني ښاپېری دغه ... صاحب ته په خوړه (شکرانه) کي ورکوم. باید د ښاپېری مور له دې خیال او فکر څخه لاس واخلي چي ګواکي خپله دا دوهمه لور به هم په خپله خوښه بل چېري ورکوي".

د ښاپېری مور چي اوس اوس د مدیر اغا له کوره راغلې وه او ساه یې لا نه وه اچولې د دې خبري په اورېدلو خورا غمجنه سوه، که څه هم دا وېرې وه او زړه یې غوښتل چي ژر ډوډۍ وخوري خو دې خبري داسي مړه کړه چي ډوډۍ یې بېخي خنې هېره کړه. د ګلالۍ مور په ژړغونکي بږغ استازي ته چي هغه هم د دې له میراث خورو شمېرل کېده وویل:



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

"... صاحب خو خورا سپین ږیری او په خوله کي یې غاښن نه سته زما لور خو لا مور رودني ده. هغه به دې څرنګه قبلوي؟ زه د ... صاحب غیبت نه کوم او خدای دي زما غاړې هم نه په بندوي دا ځیني خلک وایي چي ... صاحب له ښځو سره ښه نه کوي.

ځیني خلک وایي چي لوني په اوني کي له دې کبله وژني چي بیا د مېړه کره میراث یو نه سي. خلک وایي چي ده ته خدای ډېري لوني ور کړې دي خو یوه یې هم تر پېغلتابه نه ده رسېدلې. ما دي خدای د ده له شره وساتي. دا ځیني خلک دا ډول ناوړه خبري پسې کوي..."

استازي د دې خبره نا بېره په قار غوڅه کړه او ورته وې ویل:

"داسي خبري په پیرانو پسې مه کوه رنده او کنه به دي کړي. دا خو د خدای دوستان دي. ځیني خلک خو په دې وختو کي لږ څه له لاري اوښتي هم څرګندېږي. دا خبري هغه خلک کوي چي دوی غوارړي دین ته شا او دنیا ته مخ کړي. ستا نه دي په یاد چي دغسي خلکو پیرانو او ملایانو ته څرنګه په بده سترګه کتل او د دوی د نصیحت په خلاف یې څرنګه نوي - نوي شیان منځ ته راوړل، مکتبونه یې جوړ کړل او د ښځو مخونه یې لوڅ کړل. هم دغه ... صاحب خوار کي غار نه سو موندلای چي په ننوځي. خو نن ورځ خدای په خپله خپل دوستان ساتي او د دوی دښمنان یې تار په تار کړل. ته باید غاړه هسکه ونیسې چي ستا خوار کي لور د خدای د داسي ښه دوست په کور ننوځي. دا مشره لور دي دا ده یوه امي سرې ته ور کړه تل به خوار کي په نس وږې وي او یا به د نورو خلکو کره ټوله شپه او ورځ چوپړ وهي. ستا او ستا د لور تالې خورا هسکي دي. زما اکا دا په ټینګه پټېلې وه چي باید دا انجلۍ یعني ښاپېرۍ په جنوبي کي خرڅه سي او یو څه



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

پیسې په بود سي چې د پلار پورونه یې په ادا سي او د هغه خوار کي غاړې خلاصې سي. د هغه خدای بخښلي پور خو ورځ په ورځ درنېږي. حاجي کوندل کاکا وايي چې له ده څخه یې پنځه سوه کابلۍ د کال په څلوېښتو منو غنمو وړې دي. سند او شاهدان هم لري. یو دوه نور کسان هم دغه ډول دعوه لري".

د ښاپېرۍ مور په بېړه ورته وویل:

"ښه دې ښه دې اوس دا خبره مه څېړۍ نجلۍ خو اوس لا کوچنۍ ده ګورو به چې موږ لا تر هغه وخته ورځو چې دا نجلۍ پر ځان ګرځي (*). چا پخه راوړې ده؟ مړینه هر چا ته ګوري. ګوندي تر هغه وخته پوري یا زمالور مړه سي او یا هغه څوک چې دې ته یې سترګې نیولې وي، په دې برخه کې به زه له خپل زوم او خپل بادار یعني (مدیر اغا) سره هم سلا مشوره وکړم، دومره درته وایم چې (مدیر اغا) پر موږ وچ ولاړ دی. که مې دا خبره ورته وکړه او دې پوه سو چې ښاپېرۍ زما بې خوښي یوه زاړه اتیا کلن سړي ته ورکوي. نو ته ومنه چې هغه به زمالورۍ وکړي. ته خو خبر یې چې (مدیر اغا) څومره لویه مرتبه لري. خورا ستر کسان ده ته په درنه سترګه ګوري. هره ورځ یې کور ته داسې غټان راځي چې والله په یوه اشاره ستا اکا یو موټی ایرې کړي....."

استازي د دې کونډې خبره غوځه کړه:

"په مدیر اغا څه نازېږې په خپله مدیر اغا د... صاحب خورا اخلاصمن دی په کال کې لس پنځلس پلا د ده سلام ته ورځي مدیر اغا خو لا پرېږده خورا لوی-لوی خلګ لکه وزیران او نور د ده مریدان دي. که مبارک مازي مزغی کوږ کړي نو والله هر وزیر خو به خپله لور او خور په ډېر فخر او سر لوړۍ د ده کره په خوږه (شکرانه) کې ورولي، دا خو صرف کاکاجان داسې فکر کوي چې



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ښاپېرۍ په خوږه کې هغه مبارک ته ورکړي. دا لا چاته معلومه نه ده چې هغه یې قبلوي او که يه؟"

د دې خبرې په اورېدو د ښاپېرۍ په مور مزغې کوز وځېږده او ساړه یې واسوېلل. د دې په سترګو کې د بېچارګۍ نخښې له ورایه ځرګندې وې، په داسې حال کې چې د (مدیراغا) له کوره راوړې ډوډۍ یې پر یوه خوړا غوړجن کوندري (دسترخوان) سره سموله ښاپېرۍ ته چې د خپل اخښي کره ناسته وه بږغ کړل چې راسې او ډوډۍ وخوري بیا یې استازي ته وویل:

"زویه ډوډۍ وخوره ګورو به چې خدای لا څه کوي؟ یو ښه به له ما سره کوئ هغه دا چې لوني به له ما څخه نه بېلوئ هر څېري چې ما ورکړه وربه یې کړم خو دا مې درسره قول او وعده ده چې ټول ولور به یې تاسې ته درکړم. د ګلالۍ خو مې نیمایي ولور درکړ خو د ښاپېرۍ ټول ولور یې ستاسې، ما ډېرې خوارۍ او لالهاندۍ له دې انجونو سره وړې دي، ما مه پخوئ"

په دې وخت کې ښاپېرۍ خوني ته رانزدې سوه او دا غږ انګه یې څکوله:

"که مې خدای خپل امخولي یار کړ
د پزې تیک به د ولیانو نذر ږدمه".

شېر او ګلالۍ خورا ښې او خوږې شپې او ورځې تېرولې. شېر د پسرلي تر اخره پورې بیا ښې ډېرې روپۍ له محتسب سره مونده کړې خو څکه چې محتسب له قاضي او مفتي سره مخالف سوی و. نو له دې جهته شېر د خپل زړه په مرضۍ روپۍ نه سوې مونډلای. له دې څخه ډارېده چې کومه بیزو ورته جوړه نه سي



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(*) او لکه هغه بل کال بیا ونه شکول سي. خو سره له دې دومره احتیاطه بیا هم ښېر د یوه روژه خوړونکي په فقره کي ګیر راغی. دا فقره له دې قرار وه. د روژې په میاشت کي یو سړی په چاریکارو کي پر دې ونیول سو چي ده روژه خوړله. دا سړی سمدلاسه محتسب ته ور په ګوته سو. محتسب د دې پېښي د جریان صورت جوړ کړ او هغه یې محکمې ته بوت. هلته دغه سړي یو څه لاس او پښې وکړې او ځان یې خلاص کړ. خو محتسب په دې قانع نه سو او خبره یې تر لوړو مقاماتو پوري ورسوله چي په پای کي متهم (تورن) یو څو ذرې ووهل سو او هم په خره چپه سپور کړل سو او په ښار کي وګرځول سو. ځکه چي ښېر د محتسب ماسل ونو د دغه متهم او ګناه کار په خره پسې و او هغه یې ښه مفصل د ښار په ټولو کوڅو کي وګرزاوه. څو شپې وروسته د متهم خپلو او خپلوانو د نورو په لمسه پر محتسب عرض وکړ چي په دغه فقره کي یې روپۍ خوړلې دي او یوه ستره دعوه خیني جوړه سو. د دې دعوې په پای کي قاضي او محتسب بیا سره پخلا سول او خبره بېرته سړه سوه. خو تر څو چي خبره سړېده نو له ښېر څخه نزدې هغه ټولي روپۍ لاړې چي ده د خپل واده په وروسته موده کي په اصطلاح ګټلې وې. کوم وخت چي ده د خپل (خدمت) سند او ترخیص اخیست نو صرف درې غرانه ورسره پاته وو چي یوه افغانی یې هغه کاتب ته ورکړه چاچي د ده ترخیص په کتاب کي ثبت کړ له ده سره دومره څه نه وو چي موټر کي یې ولګوي. دی د کابل پر لور په پښو رارهي سو. پر لاري باندي یې یوه موټر ته لاس ورکړ او هغه ته یې وویل:

"وروره! تقریباً اتلس میاشتي مي د دین خدمت وکړ اوس مي میعاد پوره سو. خو دومره څه نه دي راپاته سوي چي تر کوره



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

پوري يې په کرايه کې ولګوم، ثواب به دې وسي که مې تر کابله پوري درسره يو سې!"

موټر خورا ډک دی، په اصطلاح خلک سر په سر سره پراته دي، د موټروان زړه پر وسو او دی يې د خپل لاس خواته په تکليف کښېناوه، کوم وخت چې موټروان د ده په احوال خبر سو او شپږ خپل ټول نکل ورته وکړ نو موټروان تندی تريو غوندې کړ او د پښېمانۍ په برغ يې د خپل ښي لاس سورلۍ ته وويل:

"زه خو والله پر خپلو کړو او ښو کولو باندې پښېمانه يم، هغه بله ورځ په بغلان کې محتسب يو شمېر ډېر موټروانان سره راوګرځول او داسې پوښتنې يې کولې چې په عمرو-عمرو مو نه وې اورېدلې، ما يو څه ژبه هم ورسره وکړه چې پر هغه باندې دی خورا په قار سو او خپل ماسل ته يې وويل چې "ما پنځه ذرې ووهي، ماسل زه خورا کلک-کلک ووهلم. تر اوسه مې اوږې خوږېږي، که زه داسې خبر وای چې دا هم هماغه ډول ماسل دی نو کله مې راخيست".

د يو څه وخت پټې خولې څخه وروسته د ښي لاس سورلۍ شپږ ته وويل:

"هلکه! بد عمله خونه يې؟ ښه خو دې د يوه ښه سړي راڅرګند يږي، داسې ماسلان لکه خان چې ګورې ډېر څه مونده کوي او ډېر مې ليدلي دي چې په يوه دوو کلو کې يې ښې ډېرې مځکې او باغونه رانيولي دي. دا ته ولې داسې خوار و زار يې؟ ترخيص دې ولې واخيست؟ خو يو څه پيسې به دې تېرې کړې وای او خان به دې هلته ټينګ ساتلی وای، داسې ښه او د برکت ځايونه خو چاته نه رسېږي. خلک پر داسې ځايونو سر ونه ماتوي. زموږ يو خپل دی چې دا څو کاله کېږي له محتسب سره دی، ته ومنه چې اوس نيمايي کارېز ټول د ده دی. په دې څو شپو ورځو



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

کي محتسب خپله لور هم ورکړه. په اصل کي لکه چي ته په خپله بې خولې او بې ژبې سړی يې له ډکي وياله څخه تېرې راستون سوې".

کوم وخت چي شېر پلار ته ورغی او هغه يې د زړو څپليو او ګوټو (بوټانو) په ګنډلو بوخت وليد لږ څه ژړه غونکی سو او په زړه کي دا ور تېره سوه چي دی نه سي کولای خپل سپين ږيري پلار او سپين سرې مور وساتي. شېر پر پلار باندي نابېره ږغ وکړ. پلار يې پرله وغور ځېد او بيا يې ورته وخندل او ورته ويې ويل:

"اوه، دا ته يې زويه خدای دي راولـه کـه خدای کول عمر دي ډېر دی، دا اوس-اوس مي ستا چورت واهه ډېره موده دي تېره کړه په دعوه او سرګردانيو دي خبر سوم. ټول کور په تا غمجن و خو شکر و بيا احوال راورسېد چي په خبر تېره سوه. که څه هم مور او ګلالی دي ويل چي زه درپسې درسم خو زموږ ګاونډي منع کړم او راته ويې ويل چي خبره خلاصه ده نو ولي زه بې خايه لګښتونه وکړم. دا ښه دي ولي سپېره او ژېړ بخونه ده؟ ورځ يې زويه او که بل څه ناروغی لرې؟"

شېر پلار ته د خپلې روغتيا ډاډګېرنه ورکړه او بيا يې يو څو پيسې څني وغوښتې چي کور ته يو څه خواړه يو سي. پلار يې دوه نيمې کابلۍ ورکړې او پر بار خويې مچ کړ او ډاډګېرنه يې ورکړه چي په دنيا کي داسي کارونه ډېر پېښېږي. دی بايد په دې ناوړو پېښو ډېر خوابدی نه سي. کوم وخت چي شېر په کور راننووت ګلالی وليد او په خورا مينه يې د ده خواته ورمنډه کړه او خان يې د شېر په غېږ کي ور اړتاو کړ او دواړه لاسونه يې د ده په غاړه کي وروښې کړل. يعني تر چاپېر يې کړل. په همدې وخت کي د شېر مور د دوی خوږ واورېد او له خوني ورته راووته. د شېر چي سترګي پر خپله مور ونښتلې نو يې ګلالی سو که يوې خواته



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

وښويوله او د مور په غاړه کي يې لاسونه ور تاو کړل. مور پر يوه بار خوله او بل بار خو مچ کړ او سوکه يې په غوږ کي داسي ور ته وويل چي ګواکي ګلالۍ يې لا وانه وري:

"زويه! زېری مي درباندي. ګلالۍ اميندواره (حامله) ده. خدای دي د نوي کوچني قدم راپوري بختور کړي زويه اوس نو پر دنيا هيڅ ارمان نه لرم".

له دې خبري وروسته يې ګلالۍ ځنګ ته ور وڅکوله او کلکه يې پر بار خو مچ کړه او په داسي حال کي چي ګلالۍ يې په غېږ کي نيولې وه، شېر ته وويل:

"زويه! دامخ دي ولي داسي تک ژېړ سوی دی؟ په ګلالۍ پسې خپه وې او که بيا هغه دعوې داسي ځپښلی يې؟ ستا له ټولو تکليفونو او خواريو څخه خبر سوو. خو څه مو کړي وای لاس مو نه در رسېده. پلار دي او ما بې له دې چي خپل زړونه وخورو بل څه مو نه سو کولای. ما پخوا لا دا درته ويلي وو چي پر ما او پلار دي مرداره دنيا نه خي، که يوه روپۍ له چا څخه په ناروا وخورو نو ته ومنه چي پنځه روپۍ تاوان را اوړي. خدای پاک خپل دوستان خوروي. خو پر دانورو خلکو بيا داسي بنه ځي، که هر څو مره روپۍ په ناروا سره راټولي کړي بيا هم ورځ په ورځ چاغېږي او پيسي مزي کېږي. پلار دي خو پلا حاجي صاحب ته ورغی او هغه ته يې زاري وکړې چي تا له دې بيزو څخه خلاص کړي. هغه په هو کي ورته وکړل خو بيا به يې پته ونه لګېدله. د شېر مور دا خبري په داسي حال کي کولې چي يو لاس يې د شېر او بل لاس يې د ګلالۍ په غاړه کي وراچولی و او دري واړه ورو-ورو د خوني د وره خواته تلل.

په دې وخت کي شېر د ګلالۍ د درونډ والي سبب معلوم کړ او يو ډول بېساري خوښي او ډاډ ګېرنه يې حس کړه.



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

شېر بلـه ورځ سـهار خپـل تـرخيص حـاجي صـاحب تـه ور ووړ او هغـه تـه يې هغـه خواري وړ ولې چې پر ده باندي په چاريکارو کې ورغلـې وې او تـولي هغـه روپـۍ څنـي خلکـو خـوړلي وې چې ده (کتلـې) وې. د حـاجي صـاحب زړه پـر وسـو او يـو سلګون نوټ يې پـه لاس ور کـړ او تـرخيص يـې پـه تجـرۍ (د پيسـو پـه صـندوق) کـې کښېښود. شېر يـوه ګـړۍ هلتـه ځـاى پـر ځـاى ودرېـده تـر څـو چـې حـاجي صـاحب پـه ټيليفـون کـې خبـري خلاصـې کـړې، وروسـته لـه هغـه چې لـه څـو نـورو کسانو سـره يـې د نـرخ او نـوا خبـري وکـړې او د ګمـرک د محصـول پـه شـاوخوا کـې يـې ورسـره مرکـه خلاصـه کـړه نـو يې شېر ته مخ ور واړاوه:

"وروره! تـه خـو مـې پـه حـق ورسـولې نـور څـه خـو بـه دي راباندي پاته نه وي؟ څه په مخه دي ښه".

شېر په ډېر عجز او کاږه مغزي ورته وويل:

"ډېـر بـه خوشـحاله سـم کـه مـې لـه ځـان سـره مـزدور کـړې، تـه يـو نيـت پـه خيـره سـړى يـې، سـتا لـه بر کتـه مـې واده وکـړ او د ولـور او نـورو مـصارفاتو ټـول لګـښتونه مـې پـرې کـړل. سـتا مـزدوري مـا د نېکمرغۍ په څرک نيولې ده".

حـاجي صـاحب چـې دا خبـري واورېـدلې سـره وغورېـده او پـه يوه ځوارږه غوندې ږغ يې ورته وويل:

"هلکـه! تـه بـه د ماسـلې پـه ډوډۍ روږدى سـوى يـې، لـه مـوږ سـره بـه دي ګـوزاره ونـه سـي. دلتـه خـو ډېـر اخـلاص او صـداقت پـه کـار دى. لـه مـوږ سـره يـواځې هغـه خلـک ښـه چلېږي چـې لـه خدايـه ډار ولـري او د چـا مـال تـه يـې سـترګې نـه وي بر ګـې کـړې خـو سـره لـه هغـه هـم څکـه چـې پـه ښـو پـوهېږې، نـو سـبا راسـه. نـاظر تـه بـه ووايـم چـې يـو کـار پـه لاس درکـړي. کـه دي لـه مـوږ سـره صـداقت وکـړ او زمـا مـال تـه دي پـه بـده ونـه کتـل نـو تـه ومنـه چـې خـداى بـه د دواړو



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

جهانو ښادي او خوښي درکړي. هغه وخت به ښه سړی سې او د چا حق به نه خورې چې د دين رسۍ ټينګه کړې او پنځه وخته خپل لمونځ او اودس کوې او خپله روژه ښه تر انيسي".

د شېر مور او پلار هم په دې خورا خوشحاله سول چې شېر له حاجي صاحب سره مزدور کېږي. شېر په خورا مينه او مېړانه په کار پيل وکړ. شېر په لږه موده کې د کار د ښه اجرا کولو په برخه کې خپل ښاغليتوب ثرګند کړ.

حاجي صاحب په شېر ښه کالي واغوستل او تل به يې د هغه بکس ورسره اخيستی وا او په بګۍ کې به ورسره سپور و. په تېره بيا شېر په دې برخه کې خورا پياوړی سو چې له حاجي صاحب څخه به يې لوی-لوی سوغاتونه د خينو لويو او غټو مامورينو کره وروړل، او په يوه اشاره به يې هغه تحفه او سوغات د غټو خلګو تر نظر داسي په ادب او مهارت تېر کړ چې ټول به يې خورا خوشحاله کړل او سوغات به يې خورا غټ او دروند وښود.

لږه موده وروسته حاجي صاحب پر شېر باندي په دې پوه قار سو چې ده به د حاجي صاحب د کارو اسرار هر چاته وايه او هم کوم وخت چې يې ده ته خواب ورکاوه نو حاجي صاحب ورته وويل:

"وروره ما په تا کې دوه ستر عيبونه وليدل. لومړی او لوی عيب خو دي دا دی چې د ديندارۍ خواته دي پام ډېر نه شته اکثره وخت لمونځ قضا کوې، نو ته چې د خدای حق او امر نه عملي کوې نو زما دنيا به څرنګه وساتې. دوهم لوی نقص دي دا دی چې ته زما د کارو په برخه کې له هر چا سره خواله کوې. هغه بله ورځ ما يو سوغات درکړ چې د ګمرک رييس صاحب ته يې ورکړه، خو تا دا خبره هر چېري کړې وه چې په پای کې نور غټان خبر سول او ماته يې لوی او دروند تاوان راواوښت. هر څه مې د



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

لاسه کېږي چې درسره وېې کړم او حتی داسې دي بندي کولای سم چې بیا دي والله که څوک پوښتنه لا وکړي، خو څکه چې څه موده دي زموږ خدمت کړی نور څه نه درته وایم. شېر ډېر کښېته او پورته سو خو هیڅ کار یې مونده نه کړ پلار یې ورته وویل:

"هغه خپل پخواني کار ته لاس ورته کړه. اوس د بادرنګو وخت دی هغه خرڅوه. بیا به توت او انګور خرڅوې، کوم وخت چې بیا حوت رانږدې سو، نو بیا هغه خپل کار کوې یعنې د وڅکو اوبه به خرڅوې".

شېر لومړی تر دې چې د پلار په قول وکړي. د بې بې مهرو حکومت ته ورغی چې بې تنخوا یې په ماسلی کې واخلې بیا د بګرامیو حکومت ته ورغی. د هغه ځای سر کاتب ورته ویلي وو چې که پنځه سوه افغانی نغدې ور کړې، دی به یې د خپل او خپلوانو په نامه په دې کار کې ولګوي. شېر ډېرو کسانو ته ورغی چې دا روپې په سود ورکړي خو هیچا بې د کور له ګروی څخه دا ډول پور ورنه کړ. کور یې پلار نه ګرووواوه او هغه ویل چې که له لوږې مړ سم دا کوچنی تاتوبی به ګرو نه کړم. که څه هم د ګلالی او شېر ژوند بېکارۍ او مفلسی خوړا ور تریخ کړی و خو سره د هغه دوی دواړه د خپل وړوکې د راتلو په خواږه او په زړه پوري انتظار کې شپې او ورځې تېرولې څکه چې بېکاره و، نو شېر به تل له خپل پلار او مور سره په دې سبب ناندرۍ کولې چې دوی ولې کور ګرو نه کړ او ده ته یې پنځه سوه افغانی ورنه کړې. شېر په دغه تو ګه خپلې شپې او ورځې ګوډولې. کله به یې هیڅ نه کول او کله به یې یو څه توت یا بادرنګ خرڅول. خو په دې کار کې هم څه شی لاس ته نه ورته. د مني په منځ کې د شېر کره زوی وسو. د شېر د مور او پلار او خوابنې د خوشحالی کرېږې تر اسمانه ولاړې



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

د ده پښې له ډېري خوشحالۍ مځکې ته نه ورتلې، ده یوه ورځ مورته وویل:

"ادې! اوس ځان بل ډول راته برېښي، زه دانه وایم چې زه خوار کوټۍ او بېکاره یم، زه دا وایم چې دا ټوله دنیا یې ماته راکړې ده".

مور یې په خورا پرېکړې او غښتلې برغ ورته وویل:

"الحمدالله، خدای له دې حمد ثنا وي شکر دی چې خدای میراث خور راکړ، اوس نو که مړه سم هم خورا به ارامه یم، سترګې به مې ستا خواته کږې نه وي. زویکه پلار دې هم بېرته خوان سوی دی په مخ کې یې وینه ګرځېدلې ده، ولې به نه وي خو خدای ملا تړلی زلمی ورکړ. هغه بله ورځ مې ګلالی پر بار خو مچ کړه او ورته ومې ویل چې تر تا دې قربان شم ته خو زرغونه سوې او موږ ټول دې زرغونه کړو. پرون مې کوچنی عاشقانو او عارفانو ته یووړ خوړه مې په پورې کړه، د حضرت صاحب مبارک جومات ته مې هم ور ووړ هغه مبارک په خوله کې ورتو کړل. او راته ویې ویل چې د هلک په غوږ کې اذان چا ورکړی دی؟ باید ده مبارک ته مو ور وړی وای، کوم وخت چې مې مبارک ته وویل چې زموږ د جومات ملا هم د ده خلیفه دی او هغه په غوږ کې اذان ور وکړ نو تندی یې بېرته سره وغوړېد. لوی پیر دی خدای دې موږ له بده نبته وساتي، داسې نبت لرم چې د نقیب صاحب مبارک دربار ته یې هم ور وړم او له هغه ځخه هم یو تاویز ورواخلم..."

د شېر زړه په دې زوی خورا پورته سوی و او د ده مینه او فعالیت تر پخوا خورا ډېر سوي و، ده به کله کاهو او کله بیا تازه توت خرخول. په دوبي یې سرې او به خرڅولې ده به یو څه واوره له یخدان ځخه رانیوله او دوه درې سپین خو خیرن پیتلي (حلبي) ګیلاسونه به یې پر تخته ورته ایښي وو. او په تکنده



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

غرمه به یې ناري وهلې (سرې اوبه سرې اوبه. زړه په سوړ کړئ خواره غریبه)"

ښار چې به هر ډول فعالیت وکړ او هر ډول منډې تړې چې به یې وکړې بیا هم په اصطلاح خوله او لاس یې نه سره ور تلل. د پلار کار یې هم په دې سبب غړند (سست) وچې دوبی سوی وا اوچا خپلو پښو ته دومره پام نه کاوه اکثره خواران او کار کوونکي به یبلې پښې ګرځېدل. په دې موسم کي د کار غړند والي د ښار پلار او دهغه دنور کاله ته یو عادي او مسلم شی و. بل دا چې د ښار پلار هم په ستر ګو ضعیف سوی و. اوله نېرې (رینې) څخه یې ښه کار نه سوای اخیستلای تل به یې خپله ګوته په نیره تپې کړې وه. که به یې کار ونه کړ نو ښار یواځې د کاله سپېره خرڅ نه سوای پوره کولای. ښار دوبی او منی په هوکه او یا سوکه (*) تېر کړ. د (١٣١٨) کال په ژمي کي یې بیا لکه د ځو تېرو کلو په شان یو څه وچ توت او چارمغز په یوه زړه تو کری کي اچولي دي او کوڅه په کوڅه یې پر سر ګرځوي. او (توت) او (چارمغز) ناري وهي. ښار سږ کال یو څه زنغوزي هم په یوه کاغذ کي د توتانو پر سر ایښې دي. خو سره له دې ټولو کارو بیا هم دی په زړه کي چرت وهي چې "د وڅکو اوبه" تر هر څه ګټه لري او د دلوي پنځلسمي ته ګوري چې بیا هغه کار شروع کړي. ښار او ګلالی اوس په هغه خونه کي اوسي چې دوی غوښتل هغه په کرایه ور کړي. ښار د پخوا په شان ناوخته نه راځي. کوم وخت چې د حمام پوړندي راوړي نو بیا د باندي نه ځي او له ګلالی سره په خپل کوچني زوی لوبي کوي. د دوی دواړو سات په هلک خوار تېر دی. یوه ورځ ګلالي ور ته وویل:

"سپین سرې مور مې تر اوسه لا پر دی چوپړ وهي. کاشکي زه ښځه نه وای. ما خو به خپلې مور ته هر څه راوړای او دا به مې



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

هيڅکله دې ته نه واى اړه کړې چې د پردو په کور کې تر تېر ماخستنه پورې ربړونه وګالې. تا به تل ويل چې خپله خوابښې به له مور سره يو ځاى کښېنوې او له دومره خواريو او ربړو به يې وژغورې خو تر اوسه تا په خپله وعده وفا ونه کړه اوس يې بيا در په يادوم چې خپله ژبه پر ځاى کړه..."

شېر په يوه غړنده او غمجن غوندي ږغ ورته وويل:

"ته وايه زه نو په دې نه پوهېږم چې د خوابښې ساتل او له هغې سره مرسته کول ښه کار دى؟ پاک خداى مې په زړه خبر دى چې دا مې يوه ګړى هم له زړه نه ده وتلې. خو څه وکړم؟ په خپلو غوښو خو اور نه لګول کېږي. درته مې وينې چې له سهاره تر ماښامه پورې مندې ترړې وهم. خو هيڅ په لاس نه راځي. دوې کابلې مې ساتلې وې چې يوه ورځ به مو په کار سي خو هغه تا وليدلې چې مور مې په زور راڅخه واخيستلې او د نقيب صاحب خليفه ته يې په خوړه (شکرانه) کې ورکړې. او سدوجان (د دوى زوى) ته يې تاويز په راوړو. خداى دې سدوجان ژوندى لري. زه او ته به سره جوړه سو. مور به دې هم له دې ربړو څخه خلاصه کړم. پر کال مې نيت دى چې کلبنرى ته ولوېږم او په لړه موده کې به موټروان سم. ګوندي له دې لارې يو څه په لاس راسي..."

ګلالۍ د ده خبره غوڅه کړه: "يه! کلبنرى ته دې نه پرېږدم. هره خوارې مې قبوله ده خو دا کار به نه کوې. ځکه کلبنرې له غم او خطر سره تړلې يو کار دى. مورې چې په شور بازار کې اوسېدلو نو زموږ د ګاونډې يو زوى په کلينرى کې و. د ده له موټره يو سړى لوېدلى او مړ سوى و خو همدا کلبنر يې په غم کې پاته و او مور او پلار به يې تل ژړل. هر څومره منډې ترړې چې يې وکړې کومه ګټه يې ور ونه رسوله. خداى دې موږ له دې ډول غم څخه وژغورې".

♣♣♣



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# لسه څېرکی

د دلوي د مياشتي په پای کي شېر بيا د وڅکو د اوبو په خرڅولو پيل وکړ. شېر به په هماغه پيتاوي کي ناست و چي درې کاله پخوا به ورته ناست و. ده د ورځي يو غړان او يا (۷۵) پوله ګټل. د پلار د کار سره دوې ايله دومره کولای سول چي د کور ډوډۍ برابره کړي. د کور په ډوډۍ کي خو د ګلالي مور هم يو څه مرسته ورسره کوله. يوه ورځ شېر د پخوا په څېر غټ مازيګر غوندي کور ته راغی چي له حمامه پوړندې کور ته يو سي. څرنګه چي په کور راننووت په خونه کي يې خوږ واورېده د مور دا خبره يې واورېده.

"اوس لا ړنا ده زه به ورسم د حضرت صاحب مبارک څخه به تاويز راوړم. که خدای کول يک په يکه به يې داروسي".

د شېر زړه غورځار سو او ويوهېده چي په کور کي يې کوم ناورين (مصيبت) لوېدلی دی. په بيړه په خونه ورننووت تولي ښځي پتي خولي سوې ښاپېرۍ ورته وويل:

"د سدوجان له سهاره را ايسته لړ څه تبه ده...".

د شېر مور د ښاپېرۍ خبره غوڅه کړه او ورته وې ويل:

"د هلک تبه ده له سهاره را ايسې تي هم نه روي. زړه دا راته وايي چي مور يې پر کوم درانه ځای ختلی ده او پېريان ورته خښمېدلي دي. اوس دستي زه څم تاويز ورته راوړم...".



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

دې خپله خبره لا نه وه تمامه کړې چې پر خپلو سپرو او په کابل کې جوړو شوو موچنو يې په وراخطايي سره حمله کړه او هغه يې په ښو کولې په دې وخت کې شېر ورته ووېل:

"په دې وخت کې اوبن په هغو کوڅو کې نه سي تېرېدلای. ته به په دغه سپين سر چېرې په کې ولاړه سې. زموږ جومات ته نوی ملا راغلی دی هغه هم د حضرت صاحب مبارک مريد دی. زه به ورشم له هغه څخه به تاويز ورته راوړم. ګوندې په هغه ښه سې، که چېرې په هغه هم نه سو ښه نو سهار وختي به د حضرت صاحب مبارک تاويز ورته راوړم. تاسې مه وارخطا کېږئ. خدای به هر څه اسانه کړي..."

په دې وخت کې شېر وليدل چې د ګلالۍ سترګې سرې سوې دي او له هغو څخه په څر ګنده ډول ښکاري چې ګلالۍ ټوله ورځ ژړلي دي، کوم وخت چې شېر داډ ګېرنه ورکوله او ورته ويل يې چې سدوجان به خدای جوړ کړي نو ګلالۍ ته لا غربيي ودرېده او تر سترګو يې اوښکي وټ-وټ راتوی سوې. شېر بې له دې چې د پوړندو په سطلونو پسې وګرځي په بيړه له کوره راووت او د جومات خواته رهي سو. په جومات کې ملا په تلوخانه کې ناست دی او له يوه بل ښه لوستي طالب سره په بحث بوخت دی چې شېر يې وليد نو پر يوه انډي او بل انډي سو او لومړی تر هغه چې شېر څه ورته ووايي ملا ورته ووېل:

"هلکه! ته يو څه په لمانځه او اوداسه کې غړند راته اېسې. نن ماسپښين لا محتسب صاحب راغلی و او د بې دينانو او د هغو خلکو پوښتنې يې را څخه کولې چې په لمانځه او اوداسه دومره غور نه باسي، ما دې د پلار لحاظ وکړ او ستانوم مې نه ور واچاوه. بله ورځ که د ماخستن او سهار لمانځه ته نه وې راغلی نو ومنه چې محتسب صاحب ته به دې په ګوتو ورکړم، د مرداري دنيا مينې



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

اخیستی یې. ټوله ورځ دوري او رادوري ځغلې خدای دې پر منډو او ترړو هیڅ برکت هم نه ږدي. ته یو څو وخته خدای ته مخ کړه، ګوندي ډېر بر کتونه ووینې..."

شېر په ډېر احترام او مینه ورته وویل:

"صاحبه! خواریو او غریبیو والله روخی (پلو) را څخه ورک کړی دی. یوه مې نه دوې کېږي هر څومره چې ډېرې منډې وهم هغومره نیستي راباندې زوروره کېږي. رزق د مخه او زه ورپسې ځغلم. دا خواري لا لږې وې چې زوی مې هم راته ناروغه سو. اوس تاویز ته راغلی یم. ملا صاحبه! د خوابنې او د خپل کور د پوړندو سطلونه مې په کور کې وغورځول او زه تاته راغلم چې ژر تر ژره تاویز راکړې او بیا په منډه په پوړندو پسې لاړ سم که داسې ونه کړو، ماښام به ټول له یخه وچ کلک سو او لا به د بشپړ غران سکاره له بازاره اخلو..."

ملا په داسې حال کې چې په خپل د تخرګ په جېب کې یې لاس واچاوه او له دې کار سره یې مزغې یو څه کوږ کړ ورته وویل:

"هلکه! خوږه خو به دې راوړې وي. ته خو خبر یې چې زموږ د سلسلې تاویزونه بې له خوږې نه جرېږي (اغېزه نه کوي). دا خبره چې یې خلاصوله نو یې د ده خواته لاس ونیو او یو نغښتی کاغذ یې په لاس ور کړ. او ورته ویې ویل:

"ها! واخله درې سپین پوښونه ور کړه. او له درو (قل هوالله) ویلو څخه وروسته یې ور په غاړه کړئ. خدای لوی دی ګوندې روغ سي. تاویز به په اوداسه ور په غاړه کوئ ته هم که اودس نه لرې نور ورسه اودس تازه کړه بیا یې در سره یوسه. د پاک الله نومونه دي بې طهارته د هغو کښته او پورته کول ښه کار نه دی.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

شپه په بیره تاویز بېرته ملاصاحب ته ورکړ. او په منډه لاړ د جومات له څاه څخه یې اوبه راوکښې او ژر-ژر یې اودس په وکړ او بیا یې تاویز په بسم الله له ملا څخه واخیست اود کور پر لوري په منډه را روان سو لومړی تر رارهي کېدو شپه ملا ته پنځه (پنځه یکی) د خوړې (شکرانې) په توګه ورکړې چې ټولې یوه پنځه ویشت پولې کېده.

ماښام په ټول کاله کې چوپه چوپتیا ده، د شپه پلار تر ټولو یو څه ښه دی خو کوم وخت چې د شپه خواښې راغله او د ډوډۍ نه ډک تال یې یوې خواته کښېښود او په خورا وارخطایی یې د کیفیت په خوا اوشا کې پوښتنه وکړه. د شپه مور په خورا خواشیني ورته وویل چې هلک ناروغه دی او درنه تبه یې ده. له سهار راایسي یې تی نه دی رودلی اوس هم بېسده غوندي پروت دی شپه مازیګر تاویز ورته راوړ خو تر اوسه پوري یې څه ښه په سوې نه ده.

د شپه د خواښي سوړنکی سو او په ژړا کې یې وویل:

"یا خپلو پیرانو راورسېږئ که خدای سدوجان راجوړ کړ نو پنځه غرانه په ستاسي د ارواح په خوښی خیراتوم".

د شپه پلار له یوه اسوېلي څخه وروسته وویل:

"تاسي د غفورجان انا ورته راولئ هغه ښځه پوهه ده ګوندي د هلک په ناروغی وپوهېږي. او یو څه دارو به ورته ورکړي، هغه ښځه په دې برخه کې ښه نوم لري. هر څوک یې ډېر صفت کوي. که په هغه نه وسول نو د حضرت صاحب مبارک تاویز ورته راوړئ هغه یې یک په یکه دی".

تېر ماخستن د شپه پلار په سندلی کې ډېره ووهله او پسې ویده سو. یوه کړی وروسته د شپه خواښي هم خپلې خوني ته ولاړه او د ولاړېدو په حال کې یې وویل:



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

"ښاپیرۍ یواځي په خونه کې پرته ده، پیریان یې ونه وېروي، زه باید ژر ور ولاړه سمه. ګونډي سدوجان سهار ته ښه سي. خدای خو مهربانه دی".

شېر او ګلالۍ دواړه سره ناست وو او هره ګړۍ یې سدو ته کتل چې سترګې یې راروښانې کړي خو سدو به کله-کله په ډېر زحمت د خپلو سترګو باڼوګان سره پورته کړل او ژر به یې بېره سره واچول. په دې وخت کې به ګلالۍ په بیړه په خورا مینه او پاسته ږغ ورته وویل: "زوکیه".

شېر به هم د سدو خواته رابېر ته سو او په دقت او مینه به یې د هلک خواته وکتل دوی دواړو د شپې تر یوې بجې پوري سره ناست وو. د شېر مور به هم کله ویښه او کله ویده له دوی سره د شپې تر تقریباً دوولسو بجو پوري ناسته وه، خو بیا یې سندلی ته تکیه وکړه او ویده سوه بیا شېر هم ویده سو او یواځي ګلالۍ هلک ته ویښه او ویده ناسته وه.سهار په سپېدو باندي ګلالۍ هم ویده سوې وه او د شېر پلار راکښېناست. د سدوله مخ څخه یې تلتک بېرته کړ او د کوچني تیلي ډیوې په رڼا کې یې د سدو مخ ولید او د ده په زوره سوڼکې یې واورېده، په دې چې سدو ژوندی دی خوشحاله سو او په دې چې په زوره-زوره سوڼکې کوي. وارخطا غونډي سو، او خپله ماینه یې سوکه وښوروله او ورته یې ویل:

""ګلالۍ او شېر ویده سوي دي ته دې هلک ته کښېنه چې پېریان پرې باندي رانه سي، زه چي اودس او لمونځ وکړم نو د حضرت صاحب مبارک حضور ته ورځم چې تاویز راوړم. وختي ورتګ ښه کار دی څکه بیا یخی ویلي کېږي او ډېري ختمي او چکړې په جوړي سي".



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

د شېر پلار چې دباندې راووت د ملا اذان يې واورېد او په زړه کې يې سره غوټه کړه چې ښه دی د سهار لمونځ د حضرت صاحب په جومات کې وکړي او ځرنګه چې لمونځ وسي سمدلاسه به د تاويزه دا ورته ووايي او په دې توګه به د خپل کار وخت ته هم راورسېږي. په خپل دې فکر باندې خوشحاله سو او د شور بازار خواته رهي سو ځکه چې ختې نه وې دی ژر په داسې حال کې چې يو زوړ استالفي پټو يې پر غاړه و او هغه يې پر ځان باندې خپور اچولی و د حضرت صاحب جومات ته ورسېده او په بيړه يې له ځاه ځخه د نورو خلکو په دود اوبه راوکښې او په کوزې يې اودس تازه کړ.

ډېر وخت نه و تېر سوی چې په خپله مبارک جومات ته راغی او نيغ د مېراب خواته تېر سو. لس دقيقې وروسته اووه قطاره خلک يو په بل پسې ودرېدل، او لمونځ شروع سو.

د شېر پلار کوښښ وکړ چې په لومړۍ ډله کې ودرېږي خو بريالی نه سو او ايله يې ځان په دويمه ډله کې ځای کړ. ځرنګه چې لمونځ خلاص سو او دعا وسوه د شېر پلار سمدلاسه راولاړ سو او د مبارک خواته يې پښه ايښودله چې يوه طالب چې د مخ په ډله کې ناست و تر مټ ونيو او سوکه يې ورته وويل:

"مبارک اوس له چا سره خبري نه کوي. ځکه چې وظيفه دی. لمر چې ښه راوغوړېده وروسته له دې خلک ګوري او له هغوی سره خبري او اتري کوي".

د شېر پلار دا غوره کړه چې تر هغه وخته پوري وظيفه سي او په دې توګه هم ثواب او هم خرما وګټي. خو چې د کار وخت يې راغی نو مخکې ځای نه ورکاوه او هره ګړۍ به يې سر له خپلو لېځو راپورته کړ او په تمنا به يې د مبارک لوري ته وکتل. له ډېرو داسې کتلو ځخه وروسته چې نه بجې نږدې سوې مبارک سر پور



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ته کړ او په ارامۍ راولاړ سو. په دې وخت کې نور خلک چې وظیفه یې کوله هم پر پښو جګ ودرېدل. د شېر پلار ور دمخه سو او پر لاس ور پرېووت او وروسته یې ورته وویل:

"صاحبه! لمسی مې خورا سخت ناروغه دی که به دې خدای مهربانه کړي او یو ښه او په زړه پوري تاویز راکړې. چې ګوندې خدای یې را روغ کړي".

یوه خلیفه چې په عمر پوخ غوندې ښکاره کېده ورته وویل چې ورسه په هغه پوري ډله کې کښېنه ځکه چې هغوی ټول د تاویزو لپاره راغلي دي. لسو بجو ته نږدې د ده یعني د شېر د پلار وار راغی او دننه وراغی په خپله مبارک نه و خو تاویزونه یې خلکو ته د ده په زړه پوري او ورنږدې خلیفه ور کول. د شېر پلار غږومبې کړ چې ده هیله درلوده چې په خپله له مبارک څخه تاویز واخلي خو یوه سپین ږیري غوندې سړي چې د خلیفه تر څنګ ناست و په یوه ملامت ناکه لهجه ورته وویل " چې په خپله مبارک دغه خلیفه صاحب ته واک ورکړی دی چې خلکو ته تاویزونه ورکوي، نه وینې چې څرنګه شنه او زرغونه تاویزونه دي او ټول پخوالا په لاهور کې چاپ سوي دي؟ دا کار د مبارک په اجازه کېږي. که نه وي نو ته وایه دې تاویزو به داسې ښه اثر کاوه؟. که دې زړه ته زما خبره نه لوېږي نو کښېنه په خپله به مبارک پر یولسو بجو راسي او په خپل لاس مبارک به تاویز درکړي".

د شېر پلار دا غوره وګڼله چې تر یولسو بجو پوري کښېني. د هغې حجرې دمخه چې مبارک په کې کښېني خورا ډېر خلک نر او ښځې ناست دي. د اکثرو خلکو کوچنیان په غېږ کې دي. ځینو کوچنیانو سرونه کاږه نیولي دي او ځینې بیا له ژړا شنه تللي دي



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

خیني خلک پر لنده مخکه باندي پیتاوي ته ناست دي. او خیني ولاړ دي.

مبارک لانه و راغلی چي شېر په پلار پسي راغی کوم وخت چي یې سترګي پر ونښتې نو یې لړ څه په کلک ږغ ورته وویل:

"نه وینې چي دربانديي ټکنده غرمه سوه؟ اوس به په دې ختو کي څه ډول تېرېږې؟ بې خولي او بې ژبي یې چاته پر مخ نه شې ور تلالی. لومړی به دې خوې لګولې وای او خپل کار به دي خلاص کړی وای..."

لومړی تر هغه چي د شېر پلار خپل زوی ته خواب ور کړي. یوه بل سپین ږیري سړي چي یو کوچنی هلک یې په غېږ کي و پر راږغ کړو:

"دې سپین ږیري ته ولي داسي په کلکه خبري کوې؟ د پیرانو دیدار او د پیرانو مرستي خو داسي وړیا شی نه دی. هر څومره چي په دې لاره کي خواري او زحمت ولیدل سي هغومره یې ګټه ډېره وي. ته نه وینې چي موږ دا وړوکي په غېږ کي له سهاره را ایسته ورته ولاړ یو. په زړه یې د یوه وېښته غوندي غچ هم نه را تېرېږي"

پوره پر یولسو بجو خورا غوښن ګړ دی سړی چي سر او پښې یې دومره نه تر له معلومېږي د لمر خاته کونج له خوا راڅرګند سو. په ده پسي یوه خورا لویه ډله خلک را روان دي، ډېر خلک سپین پګړي دي، خولي او دربسي والا هم په کي دي.

حاضرین چي د جومات په غولي کي د حجرې مخ ته او شاو خوا ناست وو ټول ولاړ سول، دا حضرت صاحب مبارک و چي له سباناري نه وروسته له حرم سرای څخه را ووت.

په دې وخت کي یو جګ نری سړی چي خورا ښه او په زړه پوري دربسي یې اغوستي وه او یو بل ګړ څه پنډ غوندي سړی



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

ورپسې و. د جومات په انګړ د شمال شرقي وره له پلوه رانه وتل. او په خورا اوږدو ګامونو د مبارک لوري ته ور روان دي دوی داسې په بیړه دروميي چي ته به وايي چا پسې اخیستي دي. دا دواړه سړي چي مبارک ته ور نږدې سول نو جګ نري سړي په خورا بیړه او تلوار د مبارک پر لاسو حمله کړه او هغه يې خپلې خولې ته د مچولو لپاره ورنږدې کړل. کوم وخت چي دا دواړه کسان د مبارک خواته نږدې کېدل نو نور خلک سره بېر ته سول او ښه ارته لاره يې دوی ته پرېښوده چي د مبارک خواته ورسي.

کوم وخت چي جګ نري سړي د مبارک لاسونه مچول او هغه يې يو وار پر يوه او بيا پر بله ستر ګه ښوول. نو د خلکو شخول (خوږ) او غريو پورته سو جګ نري سړي چي د لاسو له مچولو څخه خلاص سو او د ده ملګري د مبارک لاسونه خولې ته ونيول نو لږ غوندې کوږ ودرېده او هر چا داسې حس کاوه چي ده به له ډېره احترامه او تعظیمه ساه او چته نیولې وي. په دې وخت کې هغه پخواني سړي د ښېر خواته رانږدې سو او د تحکم په ږغ يې ورته وويل:

"اوس يې وګوره د پيرانو او د خدای د دوستانو مرتبې دومره لوړې دي! دا دوه نوي راغلي کسان دي وپېژندل؟ دا د... او د... وزيران دي. تا خوار ګيله کوله چي پلار دي ولې دومره خنډېدلی دی. په دې دربار کي خورا غټ - غټ کسان لکه د دا نورو خورانو غوندې ولاړ وي. د خدای د دوستانو ناز خو تر هر چا اوچت دی. مبارک بر سېره تر دې چي پر خدای ګران دی. پر پاچاهم ګران. مبارک دونه پر پاک خدای ګران دی چي (تاج) له يوه سره اخلي او پر بل سر يې ږدي. کفار لا پوهېدلي دي چي مبارک د پاک الله رښتني دوست دی. پرون ما په دا خپلو ګناه ګارو سترګو ولیدل چي خورا سره - سره خارجيان چي خلکو ويل



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

له لېږي ملکو ده ته راغلي وو. دلته داسي ولاړ وو. تا به ويل سپي دي. اخره زمانه سوه خدای مودي ايمان ته خبر کړي. اوس تر موږ کفار د خدای له دوستانو سره ډېره مينه لري".

مبارک په اشاره هغه دوه غټ کسان پوه کړل چي حجري ته ولاړ سي او په خپله پر يوه معمولي څوکي کښېناسته او له خلکو سره يې په خبرو پيل وکړ. د ځينو په سترګو او ستوني کي يې ورتو کړل. چا ته يې د ژبې دم ور وکړ. د چا لپاره يې د تبو د پرېکړې لپاره سپېنسي دم کړل. ځينو نورو ته يې دعا کوله او ډېرو خلکو ته يې تاويزونه ورکړل. دا تاويزونه هم له پخوا څخه اماده سوي وو. له ځينو نورو خلکو سره يې خبري کولې او پر ځينو وزيرانو او يا غټو مامورينو به يې د سپارښتي ليکونه ورکول. وروسته تر دي پر بل ډول خلک راوړاندي سول. يعني هغه کسان چي په محکمو کي يې دعوې وې. په دې وخت کي يو درېشي والا پنډ غوندي سړی د مبارک پر څنګ ودرېده او پر عريضو باندي يې حکمونه ليکل او بيا به يې مبارک ته د لاسليک لپاره ورکړې. دا سړی هر چا پېژانده چي د عدل د وزارت د تحريراتو مدير دی څو وخته دمخه په خپله مبارک د دې وزارت چاري اجرا کولې خو اوس د ده زوم دا کار کوي. خو بيا هم مبارک په غېر مستقيم ډول په عدلي چارو کي مرسته کوي.

شېر او پلار يې غوښتل چي دا ټول خلک خلاص سي بيا خپل مقصد او دا چي سدو خورا سوځنده تبه لري "مبارک" ته ووايي او په دې توګه د ده مخصوصه توجه خان ته واړوي.

لس بجې نږدې دي او يواځي يو سپين ږيری سړی پاته و چي هغه هم خپله عريضه د "مبارک" په مخ کي کښېښودو او په ژبه يې ورته وويل:



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

"صاحبه! زه خو ستا د وره پخوانی خاوري یم او نوم مي ملا.... دی، په پخوا وختو کي تاسي زه په میمنه کي قاضي مقرر کړی وم، خو بیا مي دا کار د ځینو شخصي عذرونو په نسبت پرېښود، اوس بیا دې ته اړ سوی یم چي قضاوکړم، ځکه زامن مي سپي وختل او خپله ډوډی نه سي موندلای نو که به دي خدای مهربانه کړي او بیا مي یو ځای ولېږې، ستا او ستاسي د کاله په حق کي به تل دعا کوم".

وروسته له هغه چي د دې سړي پر عریضه یې یو څه ور وکښل نو یې مخ د ښېر پلار ته ور واړاوه، د ښېر د پلار سمدلاسه په سترګو کي اوښکي وګرځېدې او په یوه ژړغونکي بږغ یې ور ته وویل:

"صاحبه! خورا راباندي ګران لمسی مي زښت ډېر ناروغه دی، که به دي خدای مهربانه کړي او یو ښه تاویز به راکړې، دغه مي زوی دی زه او دی دواړه تر اوسه پوري د همدې مقصد لپاره دلته ناست وو".

(مبارک) په ډېره حوصله او ښه د میني په بږغ خلیفه ته وویل "زماله پلوه یو تاویز ور وکاږه".

د دې وینا له کولو وروسته سمدلاسه ولاړ سو او دننه حجرې ته ورغی، خلیفه له جیبه قلم راواخیست او په یوه ټوټه کاغذ باندي یې څو کرښي وکښې او سپین ږیري ته یې په لاس ورکړ او ور ته ویې ویل:

مبارک خورا درباندي مهربانه دی، ټولو خلګو ته یې چاپي تاویزونه ورکړل خو تاته یې د ده په امر لیکل سوی تاویز درکړ، که څه هم دا تاویز او هغه تاویز هیڅ توپیر نه سره لري خو بیا هم ستا د سپیني ږیري لحاظ یې وکړ او دا دومره ښه یې درسره وکړل".



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

په دې وخت کې شېر پنځه غرانه له جېبه را وایستل او خلیفه ته یې ونیول، او ورته ویې ویل:

"که خدای سدو را جوړ کړ، ته ومنه چې یو لوی تور مې به دلته خیراتوم چې د بل څخه بسپنه راټولوم هم دا خپل قول او لوز په پر ځای کړم، که مې څه هم د دین لپاره ډېر چوپړ وهلی دی خو بیا هم ځان د دغسې بنو خلګو او پیرانو د وره توري خاوري ګڼم".

د غرمې توپ غرمب وهل شېر او پلار یې د جومات له انګړه راووتل په کوڅو کې ختې خورا ډېرې دي. شېر ځای پر ځای مجبوریږي چې خپل پلار په شا کړي او تر ډېرو ختو او وبلنو ځایو یې پوري باسي، د شېر زړې په کابل کې جوړې سوې موچنې داسې په ختو لړلې سوې دي چې هیڅ نه معلومېږي چې دا موچنې دي او که بوټونه حتی لینګې یې لا هم په ختو لړلې دي. زوی او پلار دواړه هلاک په انګړ رانوتل، د ګلالی مور هم غرمه راغلې وه او له نورو ښځو سره یو ځای د زړو کې د ځانګو خواته چې په هغه کې سدو پروت دی ناسته ده، د ټولو ښځو شونډان وچ کلک دي کوم وخت چې شېر او پلار یې په انګړ رانوتل نو د شېر پلار په زوره او د خوشحالی په بږغ وویل:

"دا دی د حضرت صاحب څخه مو تاویز راوړ، زما بشپړ باور دی چې که مرض وي او که هر ډول پیریان پر ناست وي بیا هم چې دا تاویز په پوري سي سمدلاسه به روغ رمټ سي".

د ګلالی مور وار له واره وویل:

"اوه-پر خوله دي برکت سه! څومره ښه زېری دي راوړ"

له دې خبرو سره په نورو ښځو هم سانتوتله او تاویز یې ګلالی ته ورکړ چې ژر یوښ ورکړي. ګلالی چې تاویز په بسم الله ور واخیست نو یې له خسر څخه پوښتنه وکړه چې څو پوښونه ورکړي؟. خسر یې شېر ته وکتل او بیا یې په ډېره نا امیدی وویل



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

چي د پوښو ترتيب يې نه دی ځني زده کړی. خو شېر له واره ورته وويل چي بايد درې پوښونه ور کړي، ځکه چي تاويز ته عموماً درې پوښه ور کوي. خو د شېر مور پر رادرسته کړه چي هر څوک بايد له خپلې ګېډي ونه رغېږي خيني تاويزونه ماليدلي او اوربندلي دي چي اووه پوښونه غواړي. شېره زويه دومره خواري لا نوره هم پر ځان راوړه او يوه پلا بل هم ورمنده کړه او په خپله له مبارک او يا له خليفه صاحب څخه پوښنه وکړه، چي څو پوښونه بايد دې تاويز ته ورکړو؟. زويه له هرڅه سره لوبي په کار دي خو د الله له نامه سره بايد ډېر احتياط وسي. مور او تاسي خو اميان يو په حقيقت مو ښه سر نه خلاصېږي".

شېر خپلې پښې په يوه زړوکي وچي کړې او بيا يې په سندلي ننه ايستلې چي تودې يې کړي. په دې وخت کي د شېر پلار په يوه ډېر رغ وويل:

"ناجوړ تيا خو د خدای له لوري ده. خو د سدو په ناروغی ټول کور داسي خواشيني يو چي د هيچا په خوله ګوته نه ننوځي ورسته شېره يوه ګوله ډوډی له دابست څخه راوړه چي والله له لوري مي د ستر ګو تور راځي او سپين مي ځي ته هم د شېر موري! ورسته يو څه چای پوخ کړه د ازل کړه هيڅوک نه سي اړولای. خدای مهربانه دی تاويز به وجرېږي (اثر به وکړي)".

له چای او ډوډی خوړلو څخه وروسته شېر بيا پر دوه بجي د (مبارک) جومات ته ورغی ځکه چي ټول خلک پر لمانځه ولاړ وو. نو شېر تر دريو بجو پوري هلته پاته سو. خليفه ور ته وويل چي اووه پوښونه ورکړي، درې تور، درې سره او يو زرغون پوښ ورکړي. دې تاويز هم ګټه ونه کړه شېر په بيړه ولاړ او د ګلالی د مور له لاربښووني سره سم يې د لوګر د موسيي صاحب زاده صاحب څخه تاويز ور ته راوړه، خو هغه هم ونه جريد او ټول کهول



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

په خورا اورخطايي او نا ارامي کې دی، په تېره په څلورمه ورځ د سدوجان په تېر کې خبرکې واورېدل سو. ده به په ډېر تکليف ساه شړله. پنځمه شپه د هلک وضعيت خورا ويجاړ سو. شېر او ګلالۍ به ټوله شپه ورته تېرولـه. د دوی سترګې خورا سرې-سرې اوښتې دي مخونه يې تک ژړ دي. د شېر پلار او مور هم خورا ډنګر سوي دي، که څه هم د شېر پلار هره ورځ کار ته درومي خو هيڅ کار يې دمخه نه کېږي. دا څکه چې دی خوار په لمسي خورا زهير دی. پر شېر چې بله هره خوا ودرېده او هيڅ تاويز کار ونه کړ نو يې قرآن شريف راواخيست او د سدو تر سر يې کېنېښود او تر زړه يې دا وايستل چې که خدای سدو جوړ کړ نو يو تور مږ به خيراتوي. يوه ګړی وروسته چې د سدو وضعيت نور هم خراب سو نو شېر قرآن شريف په ډېر احترام راواخيست او په داسې حال کې چې ښکل يې کړ او په دواړو سترګو يې کېنېښود وويل:

"اې د پاک الله کلامه. پاک خدای دي ستا په برکت زما يواځيني ښکلي او په زړه پوري سدوجان راجوړ کړي. يو تور مږ به د خدای په رضا سمدلاسه حلالوم، اې قرآن شريفه! ته مې پاک خدای ته شفيع کړې يې هيله ده چې ستا په برکت او ستا په حرمت سدوجان له مرګه څخه راوګرځول سي. برسېره پر دې د وځکو د اوبو پنځويشت پيالې به وړيا د خدای په خوښې هغو خوارو او بېوزلو ماشومانو ته ورکوم چې دوی تل په دې وځکو کې سترګې ښخې نيولې وي، اې قرآن شريفه د سدو د جوړ تيا لپاره تر هر څه تېر يم...".

د شېر مور د خپل زوی پر دومره غم او خواشيني باندې خورا خوابدې سوه او يوه لويه کريږه يې وکړه او پلنه راواوښته او په زوره-زوره يې څګېروي شروع کړه. د ګلالۍ مور هم وروسته له غرمې رخصت راواخيست او کور ته راغله. بناپيرۍ او ګلالۍ



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

دواړې وار خطا سوې دي د شپږ د مور خرهاري دومره اوچت سو چې شپږ يې هم وېراوه. د ګلالۍ مور يو څه اوبه پر مخ ور وشندلې او د سندلۍ د تلتک يوه څنډه يې پر واچوله. د ګلالۍ مور هم د شپږ د مور په دغه وضعيت خوابدې سوه او خپله خواشيني يې په دغه برخه کې نه سواى پټولاى خو شپږ په خورا خوابدى او غړند بږغ ورته وويل:

"دا خو دادې خوى دى کوم وخت چې يې خوا ډېره بده سي نو داسې له سده وځي. اوس به بېرته سمه سي. خو چاته چې د سمېدو څه هيله نه شته هغه سدو دى. د سدوجان حال تر سهار نور هم پسې خراب سوى دى. کاشکې کوم طبيب ته مو ور وړى واى. چې دوا يې ورکړې واى. ويل کېږي چې ملا (امو) اخوند خورا ښې دواوې ورکوي. ستا خوښه نه ده چې له هغه څخه دوا ورته راوړم؟ هلک خو دور وړلو نه دى زه به په خپله ورمنډه کړم!...".

په دې حال کې د ګاونډي د کور مېرمن رانوتله. دا يوه پوهه شپېته کلنه ښځه معلومېږي. دا ښځه برسېره پر دې چې په تاويزو او د هغوى خورا ژر اثر باندې کلک اعتقاد لري د دوا او درمل په خوا او شا کې هم لاس وهي. مثلاً د سدو د ناروغۍ چې دوې شپې سوې وې هم دغې ښځې يو څه جوانه (سپېرکى) او څواږه ولنې (باديان) او څه پلوس ور وفرمايل. د هلک له ناروغۍ څخه چې څلور ورځې تېرې سوې دا مېرمن يوه پلا بيا راغله او د سدو تبه يې وکتله نو يې ورته وويل چې دې هلک ته بايد يو څه ګوړه او يو څه شونډ ور واچول سي او بيا خوله کړل سي. خو شپږ خوانښې له دې کار سره مخالفت کړى و او ويلي يې وو. چې د هلک کولمې نازکې دي. ګوړه او شونډ دواړه خورا ګرم دي. دا ګرم شيان به د هلک لړمون ور سورى-سورى کړي. اوس چې



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

دغې پخې اوسپین سرې مېرمنې د سدو لاس په لاس کې ونیو او د هغه د تېتر خرندی یا خیږکی یې واوریده نو یې سر وښوراوه او شېر ته یې وویل:

"ښه ده چې دغه خوارکي ته حق ور پل (عفوه) کړې چې خپله ساه ورکړي. دا تاسې نه ایله کوئ. خوارکی خورا په عذاب دی هیڅ طبیب او یا پیر ته مه ورځه ورسه ملا صاحب راوله چې کوچنی مومن بې یا سینه تېر نه سي. "چې نه کوي حبیب، څه به وکړي خوار طبیب" داسې څرګندېږي چې دا هلک د خدای په کار دی".

د دې خبرې په اورېدو د ټولو حاضرینو کریږه سوه. د شېر مور هم تازه له خپلې بې سدی را پر سد سوې وه. هغې هم لوی – لوی سوتونه "انګولاوې" ویل. شېر په داسې حال کې چې پر خپل سر باندې یې ځیري –ځیري خورا زړه خولی سموله د خپلو سترګو اوښکې په لاس پاکې کړې او تر وره د باندې را ووت او نېغ د جومات خواته ولاړ، ملاصاحب چې په عین حال کې د (مبارک) مرید هم دی د شېر په لیدلو وپوهېده چې ناروغه زوی یې سخت دی. باید د یاسین لپاره ورسره ولاړ سي. سمدلاسه یې خپل څادر را واخیست خپل طالب ته یې وویل چې جمه سوې ده ستا سبق به بیا درته ووایم. زه اوس د موځې کاکا له زویه سره ځم. هلک یې سخت ناروغه دی چې بې یاسینه پور پرې نه کړي.

د ملا دا خبرې پر شېر خورا درنې ولګېدلې. زړه یې راټول کړ چې باید ځواب ورکړي چې ده ته ضرورت نه شته خو په ډېر زحمت یې خپل دا فکر و ګرخاوه او خپله خبره یې د زهرو غوندې تېره کړه. ملا د هلک سر ته کښېناست او په بیړه یې یاسین شروع کړ، د ده د یاسین له شروع کېدو سره د ښځو کریږې پورته سوې ژړا او انګولاوې تر اسمانه ورسېدلې. شېر په زوره –



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

زوره ژړل. ملا تر نیم ساعت پورې ورته یاسین ووایه چې ستړی سو نو یې شپږ او د کاله نورو غړیو ته مخ ور واړاوه:

"دا سپېڅلي هلک دي، د پاک خدای په کار سوی دي ستاسې ژړا ناشکري بنيي. تاسې باید د خدای په کړو بېخي خوشحاله او راضي اوسئ، هغه څه چې خدای کول بنده ګان یې مخه نه سي نیولای. که تاسې دومره ژړا او واوېلا کوئ نو خدای به در څخه ناراضه سي په هغه جهان به هلک خپل مور او پلار مونده کړي او د خدای حضور ته به یې ورولي. دی به خدای ته وایي چې (زه تر هغو پوري جنت ته نه ځم تر څو چې زما دغه مور او پلار له ما سره نه وي پرې ایښودل سوي. د دوی تر ګناهو به بې له کومه شرطه ور تېرېږي)، الله به سمدلاسه د ده مور او پلار ور وبخښي او امر به وکړي چې دوی د دې وړوکي په مخ خلاص دي او ټول ګناهونه دي ور معاف سي، نو په اصل کي خو تاسې لویه ګټه کړې ده تر تاسې بختور به نور څوک نه وي. برسېره پر دې تاسې دواړه اوس لا زلمیان یاست، خدای به نور د خیر اولاد درکړي، ولې ژاړئ صبر خورا ښه شی دی، ډېر اجرونه لري پاک خدای دې عوضونه درکړي".

د ملا صاحب دې خبرو دوی لږ څه په کرار کړل. او له لږ ګړي څخه وروسته ملا بیا په یاسین پیل وکړ ملاصاحب تر مازیګره پوري په یاسین ویلو بوخت و. کوم وخت چې د مازیګر اذان وسو نو ملا بیا لمانځه ته لاړ، وروسته له لمانځه ملاصاحب بېرته راوګرځېده په دې وخت کي ښاپېرۍ د شپږ د مور بوغره پر سر کړه او سطل یې واخیست او د حمام په پوړندو پسې لاړه، د شپږ خوابښې لا وختي د مدیراغا کره تللې وه د ماښام تر لمانځه پوري ملا په یاسین ویلو بوخت و، بیا یې شپږ ته وویل:



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

زه به لمونځ وکړم زه تن د حبيب جان دکاندار په وار يم.
چي لمونځ مي خلاص کړ نو هلته ورځم هلک تر اوسه پوري.....،
که چيري سخت سو نو ما خبر کړئ بې ياسينه بايد تېر نه سي".

د ماښام لمونځونه به لا نه وو سوي چي سدو پور پرې کړ،
کوم وخت چي دوی په وپوهېدل نو ټول کور پر سر واخيستل سو،
شېر او ګلالۍ خورا بدې ورځې کولې، کالي يې شکول وېښتان يې
شکول، د شېر پلار هيښ پاته سو، هيڅ ژړا نه ورتله. شېر په ژړا-
ژړا کي خپل پلار ملامتاوه چي ولي يې طبيب ته له لومړي سره نه
ور ووست او ولي يې په دې کار کي ځنډ کاوه شېر له ډېري
خواشينۍ هر چا ته ښکنځل کول.

♣♣♣



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

# پولسه څېرکی

سهار پر لسو بجو چوکچوکه (اوازه) سوه چې ښېر قرآن شريف په غولتون کې اچولی دی. او په دې ترتيب يې خان د سنګسار وږ کرڅولی دی. په لږه موده کې دا اوازه په ټول کابل کې خپره سوه هر څا به د دې تکل کاوه. او هر يوه به په دې برخه کې له ځانه او يا له نورو تبصرې کولې. سمدلاسه لوړو مقاماتو هم د دې خبرې د څېړلو او د ښېر د نيولو امر ورکړ. د ښېر ګاونډيان او يو څو نور د ده لېرې او نږدې خپلوان د دې لپاره راغلل چې د هلک د ښخېدو تېرې وتړي (*). نه نيمې بجې وې چې يوه ډله خلک راغلل. دوی اکثرو ښه-ښه کالي اغوستي دي. څو کسه يې درېشي هم لري. درې څلور کسه يې سپين کالي او سپين پګړۍ دي درې کسه يې ماسلان هم دي. په لومړي پلا به چا فکر کاوه چې دا سپين پوښي او معتبر خلک چېرې درومي؟ ځکه د ښېر کهول خو دومره د نامه څښتن نه دی چې دغسې خلک ورته ورسي- په تنګه کوڅه کې به هر چا چې دغه ډله وليدله نو حيرانېدل به. دا ډله نېغه د ښېر د کور مخې ته ودرېدله. د ښېر په کور کې خورانارې او انګولاوې دي. بې له ژړا او لويو-لويو سوتو بل هيڅ نه اورېدل کېږي. د ګاونډيانو ښځې او د ښېر خپل او خپلوان له شور بازاره سره راغونډ سوي دي. له دې ډلې څخه دوه په عمر پاخه خلک په وره ور ننوتل دوی مجبور سول چې په انګړ بې له اجازې ور ننوځي. ځکه دوی ور ډېر وټکاوه خو چا دومره غوږ



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

په ونه ایست او هر چا د ویر سندري بللې، په انګړ کي تولي ښځي لوڅ مخ وې، کوم وخت چي دوی دا سړي ولیدل نو یوې خواته سوې او ځینو خونو ته منډه کړه. په څو دقیقو کي څرګنده سوه چي دا خلګ د کابل له ولایت څخه راغلي دي، دوی د دې لپاره راغلي دي چي شېر ونیسي او بندي یې کړي. شېر چي په خونه کي پر زوی ژړل او له ډېري ژړا څخه بېخي هېښ پاته سوی و راوایستل سو کوم وخت چي هغو دوو کسانو ده ته یو څه ویل دي په ځان نه پوهېده چي څه ورته وایي.

په دې وخت کي یوه سړي ماسلانو ته ږغ کړل چي:

"راشئ دا د رب دښمن ونیسئ".

له دې وینا سره سم یې شېر پر څېېړه پر مخ وواهه. داسي یې پر زوره او د زړه په اخلاص وواهه چي د شېر تر ستر ګو بخر کي غورځار سول، د غونه وو چي ماسلان رانوتل او د شېر لاسونه یې تر شا ور وتړل. په دې وخت کي د شېر مور او ګلالۍ را ووتلې او په زوره یې کرېږي کړې چي شېر ولي او چېري بیایي؟ خو ژر یو چا په کیفیت پوهه کړې چي د څه لپاره یې بیایې. د شېر پلار راووت او د ماسلانو سره بوخت سو او کوښښ یې وکړ چي شېر د دوی له لاسه ایله کړي خو هغوی یوې خواته پوري واهه. یوه سپین پګړي سړي یې سر خپلې خواته ورنژدې کړ او په غوږ کي یې داسي ورته وویل:

زوی دي زندیق سوی دی باید پلو پر وانه چوې پرېږده چي د پاک الله له شریعته سره سم داسي جزا ووینې چي یوه مسلمان ته په دغسي حال کي لازمه ده. خان په دې مه ګناه ګار کوه چي د خدای یو دښمن د شریعت له منګولو څخه خلاص کړې. په داسي عمل د دوزخ اور ځان ته مه واجب کوه، ته هم باید د شریعت لوری وکړې او په دې توګه دنبي دین روښانه کړې".



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

په دې وخت د ده یوه بل ملګري ورته برغ کړه:

"راځه کنه زموږ ملګري ټول لاړل اوس ته دې خره ته څه شپېلۍ وهې؟ اصل زنديقي خو په لاس کېښوول اوس د خدای له قهره او د هغه له درنې جزا څخه نه سې خلاصېدای. د خبرو لپاره ډېر وخت لرې".

د ښېر ټول تېر هېښ پاته سو. دا نور چې د وير لپاره ورته ورغلي وو هم حيران پاته سول. د ښېر له تېر څخه وير هېر سو او ټول وام او وېرې واخيستل. ګاونډيان او د ښېر نور خپلوان يو-يو ووتل په څو دقيقو کې صرف يو څو ښځې پاته سوې چې هغه هم دوولسو بجو ته نږدې کورو ته لاړې. د سدو مړی خای پر ځای پاته سو. بې له ښاپېرۍ نور ټول ويده او يا بې سده غونډي سول. د دريو بجو خواته د ښېر مور خپل مېړه ته په خورا زحمت وويل چې ورسي او د ښېر حال راوړي چې هغه يې څه کړ؟ د مړي د ښخېدو يو څه بند او بس وکړي. دا خورا لويه ګناه لري چې مړی په کور کې وساتل سي. د ښېر پلار په متې تر جوماته پورې را ورسېده، هلته يې يو طالب وليد او له هغه يې د کيفيت پوښتنه وکړه. طالب په داسي حال کې چې سپينه پګړۍ يې پر خپل سر چې په تورو څنو پټ و راتاوله ورته وويل:

"اوس-اوس ملا صاحب له قومنداني څخه راغی، هغه وايي چې تحقيقات به سبا ته شروع سي، ځکه چې زوی دي خورا درنه ګناه کړې ده، او زنديقي بلل کېږي، له دې جهته به دی خورا ژر محاکمه سي او جزا به ورته وټاکله سي، ته خو ښه ديندار سړی يې..."

په دې وخت کې ملا را ووت او طالب ته يې وويل:



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

"نن د چا په وار یو؟ هغه کورته حال ورکړه چي یو څه شوله راپيخه کړي دا څکه چي له سهاره را ایسې مي نس نښه نه دی او کلک شی نه سم خوړلای".

بیا يې د شېر پلار ته مخ ورواړاوه:

"سپین بږیره! نور به په زوی پسي نه ګرځې او..."

په دې وخت کې عبدالفتاح نومي چي د کانو په وزارت کې يې د سر کاتب په حیث کار کاوه او یو له هغو درو کسانو څخه و چي د شېر د جرم د اثبات لپاره يې ملا تینګه تړلې وه راښکاره سو. کوم وخت چي يې ملا او د شېر پلار یو خای سره ولیدل نو يې ملا یوې خواته کړ او هغه ته يې وویل:

"له دغه سپین بږیري سره مه بږغېږه. له ده څخه سبا پوښتنه کېږي. د دې لپاره چي دا زندیقي ژر په جزا ورسېږي لازمه ده چي موږ او تاسي يې پلار هم له خپلې خوا کړو او د شېر پر ضد د ده شهادت حاصل او یا لږ تر لږ په دې کیفیت کې دی بېطرفه کړو، پر ده باندي باید ښه لاس تېر سي. دا ایماندار سړی معلومېږي، ګوندي چي تشویق سي نو به د شېر د دې ناوړه کار پر ضد شهادت ورکړي او په دې ډول به په یو څو شپو ورځو کې د ظالم او د رب دښمن تر تېرو لاندي مردار سي.

فقیر محمد نومي او د ده ورور هم په دې برخه کې زما ملګري دي او په محکمو کې ښتنه پورته کېږي. په هره توګه چي کېږي موږ او تاسي باید د نبي د دین بیرغ یوه پلا بیا اوچت کړو او ټولو دنیا والو ته وښیو چي یو اسلامي مملکت څه معنالري او څرنګه وي. ما په دې برخه کې (حضرت صاحب مبارک) هم ولید او نن مابنام بیا ورځم. مبارک په دې ناوړه کار خورا خوابدی سوی دی، که څه هم له خدایه او پاچا رانیولې بیا تر عادي خلګو پوري ټول د دې زندیقي دښمنان دي او ارو مرو به په خپله جزا



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ورسېږي، خو بیا هم احتیاط په کار دی باید داسي شرعي غائبي ورته برابر کړل سي چي بیا هیڅ ځان ونه ښورولای سي..."

په دې وخت کي د شېر پلار ملا ته ور ورغږ کړل:

"مړی پر تخته راته پروت دی، دومره څوک نه شته چي هغه تر اديرې پوري راسره ورسوي، يواځي د ماشين خانې څخه يو دوه کار کوونکي راغلي دي، ته راسره مرسته وکړه چي شېر د يوې او يا دوو ورخو لپاره را ايله کړي چي دا د غم او وير مراسم پر ځای سي، بيا دي يې بېرته بندي کړي، که دانه سي کېدای نو څو نورو کسانو ته ووايه چي دا مړی تر ادیرې راسره يوسي".

ملا تندی تريو کړ او په وچ ږغ يې ورته وويل:

"دا د زنديقي زوی به هيڅ يو ښه مسلمان ښخ نه کړي، او نه زما زړه غواړي چي د دغسي ناروا سړي د زوی د ښخولو لپاره چاته ووايم. څه په خپله چي هر څه کوې ويې کړه ګومان نه کوم چي خدای دي له تانه هم راضي سي".

د شېر پلار په خورا خواشيني او مايوسي بېرته کاله ته راغی او ښځو ته چي له ډېره غمه هېښې او بې سده غونډي وې، وويل چي شېر نه را پرېږدي او ملا په کلکه وويل چي هغه کافر او زنديقي دی موږ باید په خپله د سدوجان د ښخولو اقدام وکړو.

دوو کسو کار کوونکو او په خپله سپين ږيري په څه خواريو مړی اديرې ته ورساوه. ده ډېر کوښښ وکړ چي په شاوخوا کي يو ملا پيدا کړي چي مړی په مذهبي مراسمو ورسره ښخ کړي خو هر چا چي به د ده وضعي ته وکتل نو ځان به يې په يوه بانه او بله بانه ځني خلاص کړ.

د شېر پلار د خپل لمسي له ښخولو څخه وروسته نيغ جومات ته ورغی چي د شېر په باره کي معلومات تر لاسه کړي په جومات کي يې (فتاح) او د ده څو نور ملګري وليدل چي د شېر په



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

باره کي په ډېرو تودو خبرو بوخت دي. د فتاح چي سترګي پر و ننښتلې نو يې پر برغ کړ:

"د شېر زنديقي توب ثابت دی، اوس تاته ښه موقع په لاس درغلې ده چي ايمان وګټې او يا ايمان وبايلې او د تل لپاره مخ توری اوسې، اوس واک ستا دی چي د زنديقي لوری کوې او که د خدای او رسول. زما غوښتنه او هيله له تا څخه دا ده چي په ډېر جرات او سربښندني د خدای او د رسول لوری وکړه. د خدای اراده داسي تللې ده چي د ده شريعت په تا روښانه کېدای سي. په دې کي شک نه شته چي شېر ستا زوی دی خو نن ورځ داسي ناوړه کار څنې ختلی دی چي د اسلام او مسلماني تور داغ بلل کېږي. نو که غواړې چي د اسلام مقدس دين ته خدمت وکړې نو بايد زوی تر پښو لاندي کړې او د حقيقت په شاوخوا کي شهادت ورکړې!".

اوس راځه جومات ته لاړ سو هلته خورا ستر او لوړ علما راغلي دي، سرمامور هم راغلی دی چي د دې پېښي په شاوخوا کي څېړنه او تحقيقات وکړي. اوس ټول ستا ايمانداری ته ګوري او سترګي په لار دي چي ته به د داسي ښوېدلي زوی پر خواسې او که به د خدای او د هغه د سپېڅلي دين لوری وکړې. دا خورا د ازمويني وخت دی، زوی؟ او که دين؟....."

د شېر پلار په خورا رپېدلي او ژړغونکي برغ ورته وويل:

"فتاح جانه! د خدای روی دروړم که به حقيقت نه راته وايې! خبره څه ده؟ او پر څه باندي مو شېر پرون بنديخانې ته وځکاوه؟. زموږ. خپله غم لړ و چي دا ناورين هم راباندي ولوېد. دا اوازه مي پرون تر غوږ سوه چي ګواکي شېر قرآن شريف ته په سپکه کتلي دي. زه نه وپوهېدم چي شېر نو څه وخت قرآن



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

شریف ته په سپکه کتلي دي. دا خو هر چاته څرګنده ده چې شپږ..."

فتاح د ده خبره غوڅه کړه او ورته ویې ویل چې "اوس جومات ته لاړ سې او هلته د پوښتنو ځوابونه ووایې. کوم وخت چې په خبره پوه سې نو بیا به خپله پرېکړه وکړې".

د حوت د میاشتي لومړۍ شپې او ورځي دي. کومه ورځ چې اسمان شین وي نو د لمر وړانګي خورا ښې تودې او په زړه پوري لګېږي. په همدغه ورځ د جومات په برنډه کې خورا ښه او تود پیتاوی دی په برنډه کې ست رنجي ویړي دي او شاوخوا نیالي پر ویړي دي. دانیالي خورا اوږدې او د شنه بخمل دي د جومات د دېوال او نیالیو تر منځ ښه ګړدي شکلي بوغبندونه هم ایښودل سوي دي پر دې نیالیو باندي او دې بوغبندو ته د پلټني او څېړني د هیت غړي ناست دي. په دې ناستو کسانو کې د محکمې غړي، سپیني پګړۍ لري. سر مامور عسکري درېشي کړې ده. عبدالفتاح د قره قل خولۍ پر سر ده. فقیر محمد خان او ورور یې هم شنې لنګۍ تړلې دي. ماسلان هم د هغې زینې شاوخوا ته تیارسي ولاړ دي چې برنډې ته خېژي.

د شېر پلار له سلام اچولو څخه وروسته نېغ د قاضي خواته ور تېر سو او د هغه لاسونه یې ونیول. ده غوښتل چې هغه ښکول کړي خو قاضي هغه ځیني کنېکښل او ځیني خلاص یې کړل. بیا یې د مفتي لاسونه ونیول ورپسې د سر مامور خوا ته ورغی او په دې توګه یې له ټولو سره روغبړ وکړ او بیا د برنډې په هغه برخه کې کښېناست چې زینې ته نږدې وه. د جومات ملا د قاضي له څنګ سره ناست دی. وروسته له یوې چوپتیا څخه د قاضي په اشاره فتاح د شېر پلار ته وویل چې ښه به وي چې د مفتي صاحب



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

او د سر مامور صاحب تر مخ کښېښني او هر څه چي دوی څني وپوښتي د هغو ځواب دي ووايي.

د شېر پلار مفتي ته مخامخ کوندېږ ووهلې او خپل دواړه لاسونه يې پر ځنګنو کښېښودل. له څو ثانيو وروسته مفتي غاړې تازه کړې او د شېر پلار ته يې وويل: سپين ږيريه! په صورت څنګه يې؟ په غوږو ښه اورې؟".

کوم وخت چي د شېر پلار د خپلي روغتيا په خصوص کي خبري شروع کړې او دايې ورته وويل چي برايې يې ډېره درنده تېره کړې ده او اوس هم په ځان خورا درونډ دی نو يې سر مامور خبره غوڅه کړه. چي دغو مره خو کولای شې چي د پوښتنو ځوابونه ورکړې. له يوې کوچنۍ ګړۍ څخه وروسته مفتي ورته وويل:

"ستا زوی په دې تومتي دی چي ده قرآن شريف يې په غولتون کي غورځولی دی او په دې توګه يې د خدای او د اسلام مقدسو شعايرو ته په سپکه کتلي دي. ويل کېږي چي ده قرآن په غولتون کي غورځولی دی يعني شېر قرآن شريف د خپل زوی سر ته ايښی و او قرآن ته يې په لوړ ږغ ويلي وچي که دې زوی را جوړ نه کړ نو سمدلاسه به دې په غولتون کي وغورځوم، کوم وخت چي د ده زوی مړ سو نو شېر دومره په قهر سو چي سمدلاسه يې قرآن شريف د هلک له سره راواخيست او پاني - پاني يې کړ او بيا يې د هغه څو پاني په غولتون کي اړتاوې کړې دا چي قرآن شريف د هلک سر ته پروت و د دې جومات ملا صاحب هم ليدلی دی، اوس ته خپل خدای حاضر او ناظر وګڼه او رښتيا ووايه چي شېر څه ډول او ولي د خدای مقدس کتاب په غولتون کي واچاوه؟".



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

د ښېر پـلار خپلـې سترګي پټـي کـړې او پـه خبـرو يـې پيـل وکړ:

"الحمـدالله - لـه پـلاره نيکـه او لـه هغـه وختـه چـي راولاړه کـړې مـوده مسلمانان يـو. دا کـار خـو پـه زړه تـور کفـار هـم نـه کـوي، زه دا ويلای سم او وايـم چـي ښېر پـه دې برخـه کـي بېخـي بـې ګناه دی. يـو شـی دی هغـه دا چـي کـوم وخـت هلـک پـور پـرې کـړ نـو د کالـه ټولـو غـړو کـور پـر سـر واخيـست او خـورا ژړا او انګـولا پـه ګـډه سـوې وه. تېر ماخستن مـا د خپلـي نږور خـور تـه وويـل چـي سبا وختـي خلـګ د هلـک د ښخېدو لپـاره راځـي نو ښـه دا ده چـي خونـه سره ټولـه کـړې او پـر غولي باندي جارو تېر کـړې. هغـې نجلـۍ زما پـه خيـال پـه خطايي سره به يې ...."

مفتي د ده خبره غوڅه کړه:

"دا د خطـايي او سـهوي کـار نـه دی داسـي څرګنـدېږي چـي دا کـار پـه قصده سوی دی. رښـتيا - رښـتيا ووايـه او بايـد ټول کهول يـې پـه کړو باندي توبه وکاږي او کفاره ورکړي..."

فتـاح او فقير محمـد مفتـي تـه وويـل چـي دوی تـه اجـازه ورکـړي چـي لـه دې سـپين ږيـري سـره جـلا خبـري وکـړي. بيـا بـه ستاسـي حـضور تـه راسـي، د ښېر پـلار د مفتـي پـه اشـاره ولاړ سـو او لـه هغـو دوو کـسانو سـره د جومـات تاوخـانې تـه ننوتـل. فتـاح سـره د دې چـي ږيـره خريـې خـو بيـا هـم ډېر دينـي سبق يـې ويلـی دی او ښـه مـلا شـمېرل کېـږي. د ښېر پـلار تـه يـې لـه دې خـوا او لـه هـا خـوا د مارانو سرونه او بيا ژغورني لاري ښکاره کړې او ورته ويې ويل:

"زوی دي داسـي کفـر کـړی دی چـي بخر کـي يـې تـا تـه هـم درغـورځي. دا د دنيا سـوال او د دنيـا خبـره نـه ده، دا د ديـن خبـره ده. تـه بايـد د خـدای د خوشـحالتيا لپـاره تـر خپـل سـر او د زوی او د ټـول ټبـر تـر سـر تېـر سـې، کـه نـن ورخ سـتا يـو زوی ځـي او لـه هغـه ځخه



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ستا لاس خبري نو ته ومنه چي د اسلام دين به روښانه سي او پاک خداى به در څخه راضي سي، نو ته هم بايد له موږ سره لاس يو کړې، او عريضه وکړې چي دا ښځه دي سنګسار سي. دا ته نه يې خبر چي د خداى دوستان د دين په لار کي تر څه نه دي تېر سوي؟ سرونه مالونه او کهولونه يې په کي ورکړي دي. نن ورځ چي د دين د روښانه کولو فخر او قرباني ستا په برخه سوې ده نو ته يې ولي...! ".

بيا فقير محمد نومي د ده خبره پسي اوږده کړه او وروسته له يوه ساعته يې په خپله د ښځې پلار ته شک ور واچاوه چي ښځه به رښتيا داسي کار کړى وي، خو بيا هم په دغه ورځ د ښځې هيت په لاڅه ورنغلل.

په دابله ورځ بيا هيت سره راغونډ سو. فتاح خورا خواري کاري چي د ښځې پلار هم د خان ملګرى کړي او د هغه شهادت په دې برخه کي حاصل کړي. وروسته له هغه چي هيت کښېناست قاضي صاحب حاضرينو ته مخ ورواړاوه او په يوه د خواخوږۍ په لهجه يې ورته وويل:

"خداى دي دين بې خپلو غاورانو نه کوي. پرون چي زه خپل کار ته بېرته ورغلم د لوړو خلکو خورا ډېر ټيليفونونه راته راغلل او د دې فقرې په شاوخوا کي يې په خورا مينه او خواخوږۍ پوښتنه راڅخه کوله، په تېره... او حضرت صاحب مبارک خورا اصرار کاوه چي په هره توګه او هر قيمت چي کېږي بايد دا خداى وهلې او دا ښوېدلې د خداى او د رسول دښمن په خپله جزا ورسېږي او په دې توګه د نورو تېري کوونکو لپاره بايد د عبرت سبب سي. که داسي ونه سي نو سوږه به خلاصه سي او هر څوک به سپين سترګي کوي. يعني له بالا جايه خورا اصرار کيږي چي مجرم بايد ژر په خپله جزا ورسول سي، له دې جهته موږ ښځه هم



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

دلته جومات ته راوستلې دي هيله ده چي دي به ژر په خپلو ګناهونو اعتراف وکړي او د دين د غاورانو د انتظار کمبله به ورټوله کړي. بيا يې فتاح او فقير محمد او د کوڅې نور و سپين ږيرو ته مخ ور واړاوه:

"تاسي ته څرګنده ده چي هر څه بايد له شريعته سره سم اجرا سي، شريعت تر هغو پوري اجازه نه ور کوي چي چاته دي جزا ور کړي سي تر څو چي يې شاهدان نه وي پر تېر سوي او يا په خپله مجرم اقرار نه وي کړی، دلته د شاهدانو تېرېدل خو ممکن کار نه دی، نو يواځي د شېر اقرار پاته سو چي په هره توګه چي وي بايد حاصل سي، دا ستاسي د ښو او صادقو مسلمانانو کار دی چي بايد په دې لار کي کوښښ وکړئ".

شېر د جومات په تاوخانه کي کښېنول سوی دی او شېر. کسه ماسلان پر راګرځېدلي دي همدا ډول د شېر پلار له جوماته څخه يو څه ليري يو پيتاوي ته کښېنول سوی دی. البته پر ده باندي ماسلان نه دي راګرځېدلي کوم وخت چي د شېر پلار له کور څخه راووت نو يې ماينې ته وويل چي "د ده زړه ګوني چي د کار سامان يې په کې دی بايد ورکړي که يې وخت مونده کړ نو يو څه کار به وکړي".

فتاح او فقير محمد او د هغه ورور بيا ورته راغلل او د شېر پلار ته يې په ډول-ډول خبرو پيل وکړ، دا پلا د جومات ملاصاحب هم ورسره دی، فتاح د شېر پلار ته نېغ وکتل او ورته ويې ويل:

"ته خو خبر يې چي زموږ کورنی ټول اخوندزاده خپل اود علم او پوهي خاوندان دي او وو، دا دی ملا صاحب هم ناست دی چي دغسي جرم خورا لوړ جرم شمېرل کېږي، د هغه مرتکب هيڅ وخت د خدای او د بندګانو له پلوه نه بخښل کېږي تر څو چي



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

مجرم اعتراف ونه کړي. هغه دالحاد او د کفر له حالت دباندي وتلای نه سي نو ته د دې لپاره چي له ابدي لعنت څخه وژغورل سي او تا او نيکه ګانو ته دي کوم د ايمان زيان ونه رسېږي راسه له موږ سره په دې کي مرسته وکړه چي شبر اقرار وکړي او بيا سمدلاسه قاضي ته کښېني او توبه وکاږي د داسي خلګو توبه تر هغو پوري نه قبلېږي تر څو چي دوی يوه پلا اقرار ونه کړي. کوم وخت چي ده قاضي صاحب ته په خپل جرم اقرار وکړ نو سمدلاسه دي خدای ته د قاضي په مخ کي پر سجده سي او د خپلو ګناهونو عفوه دي وغواړي په دې ترتيب به هم دی پاک سي او هم به له دا دومره کش واکش څخه دا نور مسلمانان وژغورل سي".

د شبر پلار ته دي خبرو خورا خوند ورکړ او په زړه کي سمدلاسه خپل پخواني عادي ژوند ور په ياد سو او فکر يې وکړ چي له دې دومره کړ کېچنو به په اساني خلاص شي. په دې وخت کي يو زلمی چي د فتاح کاتب و او فتاح د مرستي لپاره له ځان سره ګهيځ له دفتره راوستی و د شبر خوا ته ورمنډه کړه او ماسلانو ته يې وويل چي "د شبر سره د خبرو لپاره رالېږل سوی دی. دې زلمي په بيړه او هيجان سره شبر ته د دې دسيسي په شاوخوا کي خبري وکړې او ده ته يې په ټينګه وويل چي که هر څه په وکړي بايد اقرار ونه کړي که نه وي نو سنګسار به يې کړي".

لږ وخت وروسته څلور واړه کسان د فتاح په لارښودنه او مشري د جومات د تاوخاني خواته ورغلل. فتاح پر خپل کاتب چي له تاوخاني را ووت شکمن سو او هغه ته يې کلکي خبري وکړې او په دې يې تهديد کړ چي هغه به هم د شبر له څنګه کښېنوي. په تېره بيا د فتاح قهر هغه وخت لا ډېر سو چي ماسلانو



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

د فتاح اټکل تایید کړ او ورته ویې ویل چي هغه زلمی له ښېر سره په پس پسي خبري وکړې.

فتاح او د جومات ملا صاحب خورا تېره او فصیحه ژبه درلوده دوی تر ښېر غوړه ژبه لاندي کړه او په خورا په خوږو او په زړه پوري الفاظو یې ورته وویل چي "په خپله ګناه یوه پلا اقرار وکړي او بیا دي توبه وکاږي. تر څو چي یې په خپله ناوړه ګناه اعتراف کړی نه وي، تر هغو پوري به د توبې ور د ده پر مخ تړلی وي. او هیڅ ډول عفوه نه سي ورته کېدای".

له دوی سره د ښېر پلار هم ملګری و. د ښېر پلار اوس دومره کلک نه دی ولاړ او دا نه وایي چي ښېر داسي کار نه دی کړی. د ده نظر صرف په دې برخه کي دی چي څه ډول په بیړه خپل زوی را خلاص کړي او څه ډول خپل پخواني ارام او بې جنجاله ژوند له سره شروع کړي. فتاح تر دا نورو ور دمخه سو او کوم وخت چي دا نوره ډله ور رسېده فتاح ښېر ته وویل:

"انسان له سهوي او خطا څخه خالي نه دی هر څوک ګناهونه کوي ته هم سیطان وښویولې او داسي کار دي وکړ چي هغه بې ساري او د خورا خجالت وړ دی. اوس دا دی دا څو کسه مسلمانان هم حاضر دي. د دې لپاره چي له دې ناوړه او خورا درنې ګناه څخه خلاص شې باید لومړی تر هر څه په دې اعتراف وکړې چي دا ناروا کار دي کړی دی. وروسته له هغه نو اودس تازه کړه او خپل خدای ته په صدق او د زړه په اخلاص توبه وکاږه او په دې توګه ځان له ابدي کفر او دوزخ څخه وساته. دا مردار او فاني ژوند په دې نه ارزي چي سړی په کي بې ایمانه وګرځي او تر دنیا بې ایمانه تېر سي، په خپل دې حرکت به د اسلام ډیوه چي د هغې په وړلو کي دي کوښښ کړی دی بیا بله کړې. بشپړه هیله ده چي



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

د دې کار په اثر به دې خدای وبخښي او تر دې کار به در تېر سي!".

فتاح په متهې خپله خبره تمامه کړې وه چې د جومات ملا صاحب په خبرو پیل وکړ:

"ګوره شېره! ته زلمی یې په زلمیتوب کې له سړي څخه هر ډول ګناه خېږي ته باید پوه شې چې دا ګناه تر هغو د عفوې وړ نه کېږي تر څو چې لومړی تر هر څه اقرار ونه کړې. خدای تر هغو پورې ستا توبه نه قبلوي تر څو پورې چې د خپل ناوړه کار په کړو اعتراف ونه کړې!....".

په دې وخت کې شېر ژړغونکې سو او ورته ویې ویل:

"ملا صاحبه! زه والله که تر اوسه پورې چا په کیفیت پوه کړی یم. هیڅا ماته نه دي ویلي چې ما څه ګناه کړې ده چې خدای هغه نه رابخښي..."

فقیر محمد د ده خبره غوڅه کړه:

"څرنګه دې ځان پر سپینه خوا واړاوه. دا به ومنو چې په خپل دې انکار به د خدای بندګان وغولوې. خو دومره درته وایم چې خدای خو نه سې غولولای. راشه زه دې په خپله ګناه بنه پوه کړم. ملا صاحبه! شېر هم په حقه دي څکه هغه وخت چې ده د قرآن شریف پاڼې په غولتون کې اچولې په سد کې نه و. د اولاد غم داسې اخیستی و چې بېخي هیڅ شي ته یې پام نه و. هرڅه چې یې کړي دي په ځان نه دی پوهېدلی. نو شېره غوږ ونیسه چې زه دې پوه کړم:

"وړمه ورځ زه سهار له کوره را ووتم او د جومات خوا ته را روان وم ناببره مې سترګې ستاسې د انګړ پر غولتون ومښتلې. په غولتون کې مې څو ژېړې پاڼې ولیدلې. لومړی پلا تر تېر سوم څکه ما ویل د لمانځه به مې ناوخته سي. خو د قرآن کرامت پرې



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

نه ښودم چې ګام پر مخ واخلم او شاوخوا مې په يوه لښته پسې وکتل. په لښته مې دا پاڼې راکش کړې. کوم وخت چې ښه ورته ځير سوم نو ومې پېژندلې چې د قرآن شريف د "سيقولو" پاره ده. په دې وخت کې فتاح او د کوڅې نور خلک هم راغلل او ټولو هغه پاڼې وليدلې. پاڼې مولوړي جومات ته راوړې. او په احتياط مو پرېمينځلې او ملا صاحب هم وليدلې. پوښتنه مو وکړه چې دا پاڼې چا په غولتون کې اچولې دي؟ يو چا وويل چې تا قرآن شريف د خپل زوی سر ته ايښی وو او هغه ته دې ويلي وو چې که يې ستا زوی در جوړ نه کړ په غولتون کې به يې غورځار کړې. کوم وخت چې دي زوی پور پرې کړ نو ته داسې خواشيني او غم په سر واخيستلې چې ښځې دې ته دي پام نه وچې ته څه کوې. اوس پوه سوې په خپله ګناه او که يوه پلا بيا در ته ووايم! که دي پلار ښه او سپېڅلی مسلمان وي. نو ومنه چې هغه به هم شاهد دربانډي تېر سي. ځکه د دين په کارو کې خو سړی تر هر څه تېر وي. اوس ته دې ته حاجت مه پرېږده چې د دې خبري د اثبات لپاره دومره مسلمانان وځورول سي. سوک په نره اعتراف وکړه او وروسته له هغه پاک خدای ته توبه وکاږه ګوندي هغه تر تېر سي. که چېري دا ناوړه کار پر تا باندې د شاهدانو په زور او يا په بله ذريعه ثابت سي نو بيا دي توبه هم نه قبلېږي او زنديقي شمېرل کېږې!".

شېر پرله واېشېده او په قرآن يې قسم ياد کړ چې:

"دا کار ما نه دی کړی هغه قرآن چې ما د زوی سر ته ايښی و هغه اوس هم هلته پروت دی. زما ګناه په دې کې څه ده. کوم بل چا به په ناپوهۍ کې دا پاڼې هلته غورزولي وي".

فقير محمد په يوه کلک برغ ورته وويل:



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

"شېره! ته ګوره، زه به یوه خبره در ته وکړم هغه دا چې په خپله قرآن مجید تا نه پرېږدي، که اسمان ته ترې والوځې او که مځکې ته ننوځې، هغه دې نه پرېږدي! بله هیڅ چاره نه لرې بې له توبې کښلو. توبه دي هم هغه وخت قبلېږي چې یوه پلا اقرار وکړې او بیا په اخلاص د قاضي په مخ کې توبه وکاږې. که دي توبه ونه کښله نو ته ومنه چې مور او پلار به دې لا په عذاب کې درسره واچوې او ستا په ګناه به دوی په هغه جهان کې ونیول سي. د دوی خوارانو ایمان ته دې اور کښېښود. نو بیا هم د یوه مسلمان په حیث درته وایم چې ژر توبه وباسه توبه!".

تر غرمې پورې هیت په دې بوخت و چې شېر اقرار کړي خو هیڅ اثر یې ونه ښانده.

فتاح په ډېره مایوسي وویل:

"زما په خیال هغه زلمي کاتب کار خراب کړی دی او شېر ته یې پر غوږ ور ایښې دي چې اقرار ونه کړي، د دې کار ایداد (سزا) خو به ور کړم".

د دې پوښتنو په موده کې تقریباً هر نیم ساعت وروسته د حضرت صاحب مبارک او د لوړو مقاماتو له خوا سړي راځي او د دې پوښتنې کوي چې مجرم په خپل جرم اقرار وکړ او که یه؟.

په دې فقره کې دې دلچسپي پر ډېرو خلکو خورا ښه اغېزه کړې ده او په تېره ملایان وایي چې دین نه بې غاوره کېږي او حتی تقریباً د ښار په ټینو جوماتونو کې وروسته له لمانځه دا دعا ګاني کېږي چې ګواکي لوړ واکمن او مبارک دې ژوندي وي او د خدای رحم دې لا ډېر پر وسي چې دوی د دین غور کوي او یا پر دین باندي تېری کوونکو ته خورا کلکه جزا ور کوي. په دې چې شېر په سمه اقرار ونه کړ لوړ مقامات او حضرت صاحب او د ده خلیفه ګان ټول خپه شانتي دي.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

د تحقیقاتو په څلورمه ورځ په ټول کابل کې دا اوازه خپره سوه چې د کابل له شاوخوا او حتی له غزني او کټواز څخه خورا ډېر ملایان او طالبان د دې لپاره ژر راځي چې دوی په خپله شېر ټوک - ټوک کړي او لومړی تر هغه چې محاکمه سي باید ووژل سي.

دې اوازو امنیتي ځانګې پرېشانه کړې او په بیړه یې حضرت صاحب مبارک ته عرض وکړ چې خپلو خلیفه ګانو او مریدانو ته ووایې چې د کابل لوري ته څوک نه راپرېږدي.

په پنځمه ورځ د شېر پلار هم د دې خلګو تر اثر لاندې راغی او غوښتل یې چې زوی د زندیقي له مرګه وژغوري او توبه وکاږي او هم په دې توګه د ځان او د مایني ایمان له زیان څخه وساتي.

د تحقیقاتو په پنځمه ورځ د شېر پلار فتاح ته وویل:

"که څه هم ما ډېر کوښښ وکړ چې شېر اقرار وکړي خو نن بیا ماته اجازه راکړئ چې ور سم ګوندې اوس دی هم په مقصد پوهېدلی وي او زما خبره یې غوږ ته سمه ولاړه سي".

اوس په هیئت کې د کوڅې نور څو مخور او سپین روبي هم ورګډ کړل سول. په تېره مدیر اغا خورا په مینه او صمیمیت دې ته ملا تړلې ده چې شېر په هره توګه چې وي باید اقرار وکړي، خو سره له دې دومره نفوذ بیا هم د فتاح په سر (اندازه) نه دی.

فتاح برسېره پر دې چې د شېر په اقرارولو کې لویه برخه اخلې او د دې کار لپاره ډول-ډول لارې چارې څارې په خلکو کې د شېر د زندیق والي لپاره هم اوزاې خپروي . کوم وخت چې ده د شېر د پلار وینا واورېده نو د هغه په سترګو پوه سو چې په خپله دې وینا کې صادق دی او په پاک زړه دا غواړي چې زوی اقرارولو ته راوارړوې نو یې قاضي او سرمامور ته یې وویل چې "د شېر پلار



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

دي يـواځي د جومـات تاوخـانې تــه ورسـي او ورســره خبـري دي وکړي.

دې سـپين ږيـري مـوخي چـي عمـر يـې د پنځـه شـپېتو - اويـا کالو په حدودو کي ښکاري شېر ته وويل:

"هلکـه! زمـا خـو پـام نـه وداسـي ځرګنـدېږي چـي خـورا نـاوړه او د مختـوری کـار در ځخـه سـوی دی. زمـا خـو پـام نـه وچـي تـا دا کـار کـاوه او قـرآن شـريف دي پـه غولتـون کـي غورځـاوه کـا ماليـدلی وای نـو تـه ومنـه چـي مـا بـه سـتا د زوی والـي لحـاظ نـه وای کـړی او پـه لـومړی ورخ بـه مـي شـاهدي ورکـړې وای. اوس چـي تـا دا کـار کـړی دی نـو ولـي اقـرار نـه کـوې؟ او ولـي خـان د شـريعت لمنـي تـه نـه ورغورځوې؟...".

شېر په خورا ژړغونکي ږغ ورته وويل:

"پـلاره! تـا تـه خـو دروغ نـه وايـم! مـا خـو والله کـه دا کـار کـړی وي، دوی اوس مـوږ صـرف پـه دې وجـه مجرمـان نيـولي يـو چـي د قرآن دا ورقې زموږ د کور په غولتون کي ليدلې سوې دي..."

پـلار يـې خبـره غوڅـه کـړه او د نـا اوميـدۍ پـه ږغ يـې ورتـه وويل:

"کـه تادا کـار کـړی هـم نـه وي راشـه اقـرار وکـړه! چـي لـه دومـره کـش واکـشه خـلاص سـو، او هـم کـوم وخـت چـي توبـه وکـاږې، وبـه بخښل شې! بله چاره نه لرې ټولو دې تـه ټينګـه ملاتړلې ده چې تـه بايـد دا اقـرار وکـړې او بيـا وروسـته توبـه و کـاږې چـې دا ټـول ښـار د دغه ناوړه عمل په اثر غرق نه سي، توبه چي وکاږې، نو ځرنګه چې فتـاح اومـلا صـاحبان وايـي لـه ټولـو ګنـاهو اوجرمـو ځخـه بـه خـلاص سې!. پـه دې کـي تـا تـه ځـه ضـرر دی چـي اقـرار وکـړې او سمدلاسـه بيـا توبـه وکـاږې او پـه دې توګـه ځـان لـه دغـه دومـره جنجـالو ځخـه وباسې!".



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

شبنم چې د پلار خبرې واورېدلې نو سر په وخښت ولګاوه او بيا يې ساړه واسوېلل او ويې ويل:

"ته فتاح نه پېژنې! په خوله کې يې دوې ژبې دي ده څه وخت پر ربښتيا خوله پرې کړې وه چې ته اوس دې يو ربښتني سړي ګڼې!، د ملا په خبره هم زه په خپله زړه نه ترم خوچې ته يې په ترې نو زه هم څه په کې نه وايم. يو شی درته وايم پلاره که مې اقرار وکړ مابه مړ کړي، نو ولې مې ته مجبوروې چې زه اقرار وکړم؟ پرېږده چې د دوی څېړنې او ګروېږنې رواتې وي. په خپله به ستړي سي او ايله به مو کړي..."

پلار يې په خواشينې او ډېر په قهر خبره غوڅه کړه:

"څرنګه چې زه درته وايم هغسې وکړه دا دومره مسلمانان درته وايي چې اقرار وکړه، بيا به توبه وکاږې او د خدای له قهره به خلاص سې. خو ته لکه غويي يوې خبرې ته دې سر نيولی دی او اقرار نه کوې، دومره درته وايم چې که دې اقرار ونه کړ نو زه به دې سمدلاسه عاق کړم او له خپله حقه به دې ناپله (نابخښلې) کړم".

د دې خبرې په اورېدو په شبنم بيا سر وځړېده او په داسې حال کې چې ستونی يې پرله کښېناست او سترګې يې له اوښکو ډکې سوې وويل:

"داسې څرګندېږي چې ته هم په دې اصرار کوې او خوښه يې چې زه دې اقرار وکړم او بيا دې سنګسار سم نو چې خبره داسې وي نو زه هم تر دا خپل ژوند تېر يم او دا دې اقرار به وکړم...".

پلار يې لږ څه د هيلې او امېند په لهجه ورته وويل:

"خدای مهربانه دی او دا درته وايم چې تر مور او پلار لا مهربانه دی، د مسلمانانو زړونه هم لکه بښيښې داسې پاک دي.



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

ګوندي چې توبه وکاږې له دې ګناه در تېر سي او هم دي ایمان پر خای سي. د دین غاوران خو د هر څه واک لري ته ولې دومره نا اومینده کېږې؟ ماته ټولو په کلکه ویلي دي چې وروسته له اقراره که توبه وکاږې او توبه یې قبوله سي ګوندي له مرګه څخه خلاص سي. که داسي ونه کړې دا ټول کابل به په خطر کي ولوېږي. تر دې چې ټول کابل غرقېږي ته غرق سوی بنه یې!".

نژدې یوولس نیمي بجې وې چې د شېر پلار راووت. فتاح او فقیر محمد یې مخې ته ورغلل. کوم وخت چې د شېر پلار ورته وویل چې شېر دې ته چمتو سو چې اقرار وکړي نو فتاح او فقیر محمد له خوشحالی څخه اوچت ټوپ واخیست او دې یې ټینګ په تخرګ کي ونیو او د هیت خواته یې په غېږ کي راووړ. په داسي حال کي چې پر یوه بار خو او بل بار خو یې ښکلاوه قاضي ته وویل:

"دغه دي د دین فداکاران او خدمتګاران. بېشکه چې دغه سپین ږیري سړي د پاک خدای رضا حاصله کړه او دین یې له یوه لوی خطر څخه وژغوره..."

په دې وخت کي ټول حاضرین خورا خوشحاله سول او له هري خولې څخه د "افرین" او "کور دي ودان" ږغونه راپورته سول. سرمامور ږغ کړ:

"د مجرم اقرار باید ژر واخیستل سي. وروسته له هغه نو هر څه چې کېږي، کېږي به".

سمدلاسه فتاح او فقیر محمد د جومات تاوخانې ته ورننوتل او شېر ته یې په یوه پسته ژبه وویل:

"وینې اوس دي خپل صداقت له اسلام سره وښود د سپین ږیري پلار او د سپین سري مور ایمانونه دي له سوځېدو څخه وژغورل لومړی دلته موږ ته اقرار وکړه بیا قاضي صاحب ته او بیا



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

وروسته اودس تازه کړه او دوه رکعته لمونځ وکړه او په اخلاص توبه وکاږه ګوندي په دې توګه د ایمان له زیان څخه وژغورل شي، یو ښه مسلمان باید تر هر څه لومړی بر خپل ایمان وویریږي، فقیر محمد به اوس ورسي او ملا صاحب او سر مامور صاحب به هم راولي..."

له ملا صاحب او سر مامور سره د شېر پلار هم راننووت ټول د شېر شاوخوا ته کښېناستل. یوه ګړی ټول حاضرین بېخي پټه خوله ناست وو. وروسته فتاح پر ګونډو سو او شېر ته یې وویل چې په اقرار کولو پیل وکړه. فتاح چې خبره خلاصوله نو یې پلار پر بږغ کړل:

"ښه دی چې ژر دغو مسلمانانو ته د زړه حال ووایې او په دې توګه ژر له دومره کش واکشه څخه خلاص شې. سپین سرې مور او ناوې ماینه او خوابنې دي هیڅ خوب او خواړه نه کوي، که ورشې پر دوی ټولو به د اختر ورځ سي، نن اوومه ورځ ده چې ما هم د مځکې سر نه دی لیدلی په هیڅ نه پوهیږم زه چې وایم اسمان ټول یوه کړی سوی دی او زما په غاړه کي رالویدلی دی..."

شېر چې په اوبو کي چاره لیده نو هیڅ په اقرار کولو نه راته خو په پای کي یې د حاضرینو په لمسه او تشویش دواړه لاسونه پر ګونډو کښېښودل او ویې ویل:

"قسم در ته خورم که ما خو دا کار کړی وي..."

ملا لږ په کلک بږغ ورته وویل: "چې ولي په دې ټولو حاضرینو ملنډې وهې".

سر مامور په خورا ترخه او کړکېچنه لهجه ورته وویل:

"چې بیا به دي راغور ځار کړم او دومره به دي ووهوم لکه خر تېره شپه دي یاد دي چې قول دي وکړ چې نور دي ونه وهم او ته به ګهیخ د بلبل غوندي اقرار وکړې په دې سپین کالیو او سپین



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

ډېرو خلکو او په خپل سپين ږيري پلار ملنډي مه وهه، که مې بيا قهر راغی دا پلا دې تر لښتو لاندې نفس دږ کاږم والله که بيا په دې نړۍ کې وګرځې! خو په سمه اقرار وکړه او دا دومره خلک په تېره بيا لويان او پيران له وسواسه او پرېشانۍ څخه وباسه، د رب کلام دې نه پرېږدي، رواړاندې شه يا الله ووايه".

د ښېر پخواني هغه پر هارونه چې د ډېرو وهلو په اثر د ده په بدن کې جوړ سوي وو خورا پر له سول او چې سر مامور بيا په وهلو تهديد کړ زړه يې ډوب سو او د سترګو تور يې لاړل او سپين يې راغلل. لږه ګړۍ وروسته چې بيا را پر سد سو سر يې وخوځاوه ويې ويل:

"هو ما د قرآن شريف پاڼي په غولتون کې واچولې. کوم وخت چې سدو پور پرې کړ نو ما ته هم څرنګه چې فتاح وويل قهر راغی او څو ورقې مې په غولتون کې واچولې خداى دې تر راتېر سي".

په حاضرينو کې خوږ ګډ سو د "افرين" او "شاباش" ټکي دومره وويل سول چې نه معلومېدل چې څوک يې وايي.

وروسته له هغه ملا صاحب ورته وويل چې دباندې قاضي ته ورسي، او هلته دا اقرار وکړي. ښېر بيا په خورا نا امېدۍ سر وخوځاوه او په داسې حال کې چې ماسلانو خپل لېچونه د ده تر تخرګ ورلاندي کړل د قاضي صاحب مخې ته يې وروړاندي کړ، په دې وخت کې ټول حاضرين او نور پر دين مين کسان پټه خوله ناست دي او داسې يو غوږ سوي دي ته به وايې دلته هيڅ ژوی نه شته لومړی تر هغه چې ښېر د قاضي صاحب حضور ته ورولي نو په ده يې اقرار داسې زده کړ چې له شريعت سره برابر وي.

قاضي صاحب پر خپله شناوې ږيره لاس تېر کړ او وروسته له هغه چې د خپلي خولې ناړې يې تېري کړې ورته وويل:



كتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

"ښه ووایه چي تکل څرنګه و؟ هر څه د خدای لپاره او د شریعت لپاره ووایه!".

شېر خپل ورښوول سوی اقرار ورته تېر کړ. په دې وخت کي خورا ډېر شاهدان هم کښېنول سول. قاضي بیا پر تکرار کړه چي دی خو دا اقرار د جبر او کوم فشار په اثر نه کوي؟ شېر بیا بیا ورته خپل اقرار چي اکثره ټکي یې په عربي وو، ور ته تېر کړ.

وروسته له هغه په حاضرینو بیا څوړ ګډ سوا او هر چا شېر ته لعنت ور کاوه او د دین غاورانو ته یې د زړه له کومي دعاګاني کولې. حتّی خینو ملایانو پر هغه ځای پر شېر باندي توکړل او په کوچنیو- کوچنیو شګو یې د سنګسار په توګه وویشت.

سر مامور خورا نژدې ټیلیفون ته ځان ورساوه او د شېر د اقرار زېری یې قوماندان ته ورساوه.

کوم وخت چي دی د جومات لوري ته بېر ته راروان سو نو یې فکر وکړ چي باید حضرت صاحب مبارک ته هم دغه زېری ور کړم، د دې فکر په اساس سمدلاسه بېر ته ټیلیفون ته راغی او د مبارک کور ته یې ټیلیفون وکړ. مبارک ورته وویل:

"ډېر تشکر! خدای دي تاسي ته د دې زحمتونو او اخلاص اجر هم په هغه جهان او هم په دې جهان درکړي، ما ته اوس دستي قوماندان صاحب او وزیر صاحب داخله وویل چي ښه سو چي دې ښوېدلي اقرار وکړ چي په خپله جزا ورسېږي. په دې ملک کي داسي د خدای او د رسول دښمنان ځای نه سي موندلای".

کوم وخت چي سرمامور صاحب بېر ته جومات ته راغی نو ګوري چي خورا لویه ډله خلک د جومات شاوخوا ته ولاړ دي او د دې صحنې ننداره کوي، دې ډلي ته ملا صاحب خبري کولې او ورته ویل یې چي "دا زندیقي دی د ده پر مخ باندي د توبې ور



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

وتړل سو، اوس ده ته بله هیڅ چاره نه شته بې له دې چي په تېرو ووژل سي.

په دې وخت کي شبېر قاضي ته وویل چي " اجازه ورکړي اودس تازه کړي او خدای ته توبه وکاږي".

قاضي صاحب ورته ویل چي: "د داسي کسانو لپاره د توبې ور وتړل سو. توبه دي په دې وخت کي نه قبلېږي، دومره خدای ته زاري وکړه چي د هغه جهان له خواریو څخه دي وژغوري دا جهان دي بایلود، شریعت تا نه پرېږدي چي نور ژوند وکړې، دا حق د الله دی څوک یې نه سي بخښلای، دا خبري به د محمکې په حضور کي وسي".

په دې وخت کي شبېر سر مړ واچاوه، ده په خپل زړه کي ورتېره کړه چي پلار په حقیقت پوه کړي او دی په دې ملامت کړي چي ده ته یې د اقرار کولو خبري کولې. خو ده بیا پلار ونه لید او ماسلانو ژر بندیخانې ته بوت.

♣♣♣



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

## دوولسمه څپرکی

دوې ورځې وروسته په کابل کې دا اوازه خپره سوه چې د دې لپاره چې دا زنديقي ژر په خپله سزا ورسېږي لوړو مقاماتو او (مبارک) امر کړی دی چې درې واړه محکمې يعنې ابتداييه. مرافعه او تميز دې يو ځای تشکيل او خپله شرعي فيصله دې بې له ډيله صادره کړي او دې زنديقي ته دې جزا ورکړي. په تېره دا اوازه خورا تووده سوه چې په دې فقره کې تر هر چا اعلحضرت... ډېره علاقه اخيستې ده او امر يې کړی دی چې خورا په بيړه به دا مجرم محاکمه کېږي او د نبي شريعت به پر چلول کېږي. وايي چې دی هره ګړی د دې فقرې د جريان په برخه کې د ټيليفون په ذريعه احوال اخلي. که چا مازي لږ څه اهمال کړی وهغه ته ډېر عتاب کوي.

په يوه دوو ورځو کې د ښېر د زنديقي والي لپاره د شريعت ټول غابنې برابر کړل سول او کوم وخت چې درې واړه محکمې شتکيل سوې سمدلاسه يې د ښېر لپاره د سنګسار جزا وټاکله.

دا فيصله بې له کومه ځنډه د ټولواک د لاسليک لپاره واستول سوه، په هماغه ورځ دا فيصله لاسليک سوه او د اجرا لپاره د کورنيو چارو وزارت ته وسپارله سوه هغه وزارت هم په خورا لږ وخت يعنې يوه دوو ورځو کې د فيصلې د اجرا کولو لپاره ترتيبات ونيول.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

د (۱۳۱۸) کال د حوت د میاشتي وروستی شپې ورځي دي یوه ورځ اومه کی غرمه یعني لسو بجو ته نږدې شپر د سنګسار لپاره له بندیخانې څخه راوایستل سو. د ده په لاسو کي یې ولچکونه ور اچولي دي او د دوو ماسلانو له خوا په داسي حال کي چي یوه ماسل یې یوه خوا نیولی ده او بل ماسل یې بله خوا نیولی ده څکول کېږي نور دوولس کسه ماسلان د ده په شاوخوا راګرځېدلي دي.

دی یې لومړی د ولایت په انګړ کي د پولیسو قوماندانی ته مخامخ ودراوه او وروسته د قوماندان په امر دباندي د دې لپاره راوستل سو چي پلی یې په بازارو کي وګرځوي.

شېر خپل ټول حواس بایللي دي لکه یو بُت غوندي رهي دی یو جارچي د ده او د پولیسو په مخ کي روان دی او په هر لږ واټن کي درېږي او جارچي په زوره ناره کړي:

"او مسلمانانو داهغه زندیقي دی چي قرآن شریف یې په غولتون کي اچولی و. اوس د شریعت سره سم زموږ د ګران ټولواک په امر سنګسارېږي ژوندی دي وي زموږ دین پالونکی ټولواک".

شېر یې د پل خشتي جومات تر مخ په داسي حال کي راتېر کړ چي خورا ستره ډله واړه لویان په پسې دي، دکانداران له خپلو دکانو څخه په زوره برغ کړي:

"ژوندی دي وي زموږ ټولواک، لعنت دي وي پر دغه زندیقي".

شېر یې ژر د دهمزنګ په لوري رهي کړ. تر دهمزنګ پوري هم نور خلګ ورسره یو ځای سول، څوک د (الله اکبر) ناري وهي او څوک (لعنت پر زندیقي) وایي څوک په زوره کریږه کړي "اوس د اسلام دین روښانه سو".



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

د پغمان او چار دري له خوا هم خورا ډېر ملایان او طالبان په منډه را روان دي، هر چا په خپله لمن کي ډبري را اخیستې دي او چا بیا د خپلې لونګوټې په شمله کي ډبري ځای کړې دي تقریباً هر څوک (الله اکبر) وایي او داسي خوشحاله دي لکه یو ستر جشن ته چي درومي، اکثره ملایان او طالبان په منډه درومي نو د دوی بړیري د باد د جریان په اثر په څو بر خو وېشلې سوې دي او په خپل ځان یو هم نه پوهېږي هر یو کوښښ کوي چي ښېر وویني څو ځکه چي خلګ ډېر دي نه یې سي لیدلای.

ښېر یې د دهمزنګ د غره لمنې ته بوت هلته په یوه ارت ځای کي ټول پر ښېر باندي شاوخوا را اوګر ځېدل.

ښېر هماغسي د ماسلانو له خوا احاطه سوی دی. نورو پولیسانو خلګ له ښېر څخه ارت ودرول بیا یوه چاغ غوندي ملا چي مفتي هم دی مذهبي وعظ او نصیحت شروع کړ د خپلې وینا په ترځ کي یې د اسلام د دین د خوندي کولو لپاره د ټولواک توجه خورا وستایله او خلګو ته یې وویل چي دا یواځیني ښه دینداره پاچا دی دغسي په زړه پوري کار یې وکړ چي د نورو عبرت سي. ده زیاته کړه:

"هر څوک چي د دې زندیقي لوري ته ډبري تیرې ور وغور ځوي هغومره به ډېر ثوابونه وګټي، او په جنت کي به خورا لوی ځای ومومي.

په دې وخت کي په خلګو کي د (الله اکبر) خوږ او چت سو او د ښېر خواته د کاڼو باران پیل سو، په څو دقیقو کي پر ښېر د کاڼو څلی جوړ سو او دی په کي ورک سو بیا یوه بل ملا په زوره بږغ کړل:

"ژوندی دی وي زموږ ګران ټولواک دی خورا ښه ټولواک دی زموږ د ښځو مخونه یې بېر ته پټ کړل. د ډېرو مکتبو ورونه



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

یې چې هلته دنیایي علم په کې زده کېده وتړل، شریعت په خورا ښه توګه جاري دي د دین د ساتلو لپاره یې دغسي لوی خدمت وکړ او زندیقي یې مردار کړ".

په دې وخت کې یوه پوه زلمي دوو نورو پوه ډوله زلمیانو ته وویل:

"دغه خوار او بېوزلی د دې لپاره قرباني سو چې د خپلې پاچهۍ ستنې په ټینګي کړي".

له دې دوو کسانو څخه یوه پولیس ته رغ کړل چې دغه پوه زلمی ونیسي، خو هغه د خلګو په لویه ډله کې ننوت او ځان یې له دوی څخه نهام کړ.

پای



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

د هغو اصطلاحاتو څرګندونه چې په متن کې په (*) مشخص دي.

| اصطلاح | معنا |
| --- | --- |
| اللې وهل* | رېږدېدل مجازاً اصرار |
| پخه ورته * | ورته ورته په ډېر بد حال کې |
| پر خان ګرځېدل* کېدل | خان ته پام کول. په خان ګوتې وهل ابلوځ |
| تېرې تړل* | چاره کول. ترتیبات نیول |
| خوله ځنې وهل* | یادول. شکایت کول |
| د خولې د پرېکړې څښتن* | په خبره پوه |
| ډمامې* | ساماني جوړول. برم |
| زړه پر پښتی کول* | زړه ارامول |
| ژوند په هوکه یا سوکه تېرول* | ورځې اړول. ګزاره کول |
| سترګه ځنې کول* | ځنې ډارېدل. سترګه سوځېدل |
| سترګې کول* | بلدېدل. سترګې غړېدل |
| غاړه په پورې ده* | والګي وهل وهلی دی |
| کاپې ایستل* | رسوا کول. |
| لاټیان * | لار ډان "په سقاویه او وریسې دوره کې د امانیه د عصر منوریو ته د (لوېدیځ پرست) په معنا د پېغور په توګه استعمالېدل" |
| لاس او خوله سره رسېږي* | ګزاره کېږي (په اقتصادي لحاظ) |
| لرګي په کې وکاږه* | لرګي پسې واخله |
| لمن تر نوکانو لاندې لري * | نیکمرغه دي اوسي |
| نرۍ لاندې باسي * | ژر ومني |
| نوکان وهي* | زحمتونه ګالي |
| نوک ونیو* | ځنډ وکړ. قفه وکړه |
| ونډه* | برخه. په پخواني وخت کې عسکري خدمت ته د چا په عوض د تللو اجوره |



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)



ښتو ادبي غورځنګ، کوټه

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)